# حکومت خلکو ته نږدې کول: په افغانستان کې د پلان او بودیجې جوړولو بهیر غیر مرکزي کول


نعمت الله بېژن او فرحت امیل

له هارون نایب خیل سره



زمری ۱۳۹۵












ځېړنې د بنه افغانستان لپاره

AREU

۱۵ کاله باکیفیته څېړنه

Govern4Afg
Governance Forum Afghanistan
مجمع حکومتداری افغانستان
د افغانستان د حکومتدارۍ غونډه

همکاری آلمان
DEUTSCHE ZUSAMMENARBEIT

د افغانستان د څیړنې او ارزونې واحد
او د جرمني د اقتصادي همکاريو او پراختيا فدرالي وزارت

څیړنپاڼه

# حکومت خلکو ته نږدې کول:
# په افغانستان کې د پلان او بودیجې جوړولو بهیر غیر مرکزي کول


نعمت الله بیژن او فرحت امیل

له هارون نایب خیل سره


زمری ۱۳۹۵


دا څېړنه د جرمني د اقتصادي همکارۍ او پراختیا د فدرالي وزارت له خوا تمویل شوې

ISBN: ۹۷۸-۹۹۳۶-۲۲۸-۴۳-۴ (برېښنايي کتاب)

اېډېټره: وېکتوريا ګرېس

ژباړونکی: ايمل پسرلی

د سر مخونو عکسونه (له پورته د لاندې په لور): په يوه کلنيک کې کوچنۍ نجلۍ (د څار، ارزونې او اړيکو پروژې له خوا، بي ايم زيډ، ۲۰۱۴-۱۵)، د AREU مشورتي غونډه (د پروژې مرستيال خالد بهزاد له خوا، د AREU په دفتر کې، ۲۰۱۵ کال)؛ ويجاړ شوی دېوال؛ د عامه مالي چارو د مديريت اړوند ورکشاپ؛ (د څار، ارزونې او اړيکو پروژې له خوا، بي ايم زيډ، ۲۰۱۴-۱۵).

د خپرونې کوډ: P ۱۷۱۴



©۲۰۱۷ د چاپ حق افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره او (GIZ)

يوازې د سوداګريزو موخو لپاره په نورو ليکنو کې د دغې خپرونې نکل او يادونه کېداى شي يا له سره توليدېداى شي او په دې شرط چې د خپرونې د ليکوالانو او سرچينې نومونه په کې ياد شي. په دې خپرونه کې څرګند شوي نظرونه د ليکوالانو دي او حتمي نه ده چې د جرمني د اقتصادي همکارۍ او پراختيا فدرالي وزارت، AREU او GIZ د نظرونو استازيتوب وکړي. ځينې حقونه يې خوندي دي. کومو ځايو کې چې دغه خپرونه بيا وړاندې کېږي، ساتل کېږي يا په اليکترونيکي ډول لېږدول کېږي نو هلته بايد د AREU (www.areu.org.af) او GIZ (www.giz.de) وېبپاڼو لينکونه ورکړل شي. له دغو اجازو پرته د خپرونې بل هر ډول کارولو لپاره بايد په ليکلې بڼه له مرستيالو خپرونکو، افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره (AREU) او GIZ څخه اجازه واخيستل شي. اجازه د دغه ايميل: areu@areu.org.af يا دې شمېرې ۹۳۰۲۰۲۲۱۲۴۱۵+ له لارې لاسته راوړلی شئ.

# د لیکوالانو په اړه

**نعمت الله بیژن** د اکسفورډ پوهنتون د نړیوالې اقتصادي حکومتولۍ پروګرام، اکسفورډ-پرنسټن نړیوالو مشرانو برخه کې او هم د استرالیا ملي پوهنتون د کرافورډ عامه پالیسۍ اړوندې زده کړې ترسره کړې دي. نوموړي په پراخ ډول د حکومت جوړونې د سیاسي اقتصاد او د حکومت-ټولنې پر اړیکو، پراختیا، د مرستو پر اغېزمنتوب او بودیجوي سمونونو، پرتلیزو سیاستونو، له جګړې وروسته انتقالي دورې او د حکومت د ځواب ورکونې په اړه لیکنې کړې دي.

نوموړی د افغانستان د ځوانانو چارو مرستیال وزیر، د افغانستان د ملي پراختیا ستراتېژۍ د پالیسۍ او څار د بنسټ اینبودونکي عمومي مشر، د ګډې همکارۍ او څار بورډ د سکرتریت (JCMB) د مشر او د مالیې وزارت د بودیجې عمومي سرپرست مشر په توګه دندې ترسره کړې دي. ده له ۲۰۰۱ کال وروسته د افغانستان په مهمو پراختیایي او حکومت جوړونې پروژو او دغه راز د مدني ټولنې پروژو کې ونډه لوبولې ده.

**فرحت امیل** د انقرې بیلکینت پوهنتون کې د اقتصادي پراختیا ښوونکی دی. نوموړي د ترکیې د خزانې په اداره کې ګڼې دندې ترسره کړې چې پام یې پر بودیجو (د پالیسۍ جوړول، چمتووالی او پر مخ وړل)، د نغدو پیسو مدیریت او پر بهرنیو اقتصادي اړیکو راغونډ وو. دغه راز ده د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام او ماشومانو لپاره د ملګرو ملتونو د بېړنیو مرستو ادارې په پروژو کې د سلاکار په توګه کار کړی او هم یې د سوېلې د ځایي چارواکو او سیمو د ادارې د اړوند کس او د مالي خدمتونو د رضاکاره ډلې اداره کې د رضاکاره کارپوه په صفت دندې ترسره کړې دي. نوموړي د ترکیې، البانیا، اردن او تونس د ګڼو ځایي حکومتولۍ پروژو کې هم کار کړی دی.

د امیل د کار په ساحې کې مالي روڼوالی، د عامه لګښتونو مدیریت، د عامه چارو بودیجه جوړول، د ځایي حکومت مالي چارې، په مرکزي/ځایي ادارو کې د وړتیا لوړول، په بودیجوي بهیرونو کې د خلکو ښکېلول (ګډ او د موضوعي بودیجو جوړول)، ګڼ کلیزې پانګونې پلان او پروګرام جوړول او ټولنیز لګښتونه شامل دي.

**هارون نایب خیل** اقتصاد پوه دی. نوموړي د جاپان د نړیوالې همکارۍ ادارې، د امریکا حکومت د نړیوالې پراختیا ادارې او اتصالاتو ټیلیفوني شرکت سره د عامه مالي چارو د مدیریت سلاکار او شنونکي په توګه دنده ترسره کړې ده. ده د افغانستان د کرنې، اوبو لګونې او مالدارۍ؛ ښځو چارو او کډوالو او بیا ستنېدونکو چارو وزارتونو سره د بودیجې او پالیسۍ جوړولو په برخو کې مرستې کړې دي.

# د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې (AREU) په اړه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره (AREU) په کابل کې د څېړنې یو خپلواک بنسټ دی. د AREU موخه دا ده چې د لوړ کیفیت اړوندو څېړنو او په فعاله توګه د دغو څېړنو د پایلو خپرولو، او د څېړنې او زده کړې د کلتور د ملاتړ له لارې پر پالیسۍ او عمل خپل اغېز وساتي او په دې اړه پوهاوی لوړ کړي. د خپلې موخې لاسته راوړلو لپاره، AREU د پالیسیو جوړونکو، مدني ټولنې، څېړونکو او زده کونکو سره کار کوي چې دوی د AREU له څېړنو او کتابتونه کار واخلي او د څېړنې په برخه کی خپله وړتیا لوړه کړي، او AREU شننو، فکرکولو او بحثونو ته لاره هواره کړي.

د AREU بنسټ په ۲۰۰۲م کال کې په افغانستان کې د مرستندویه ټولنو له خوا کېښودل شو چې د مرستندویه ادارو، ملګرو ملتونو او نورو نړیوالو غیر حکومتي ادارو له استازو جوړ د مشرانو یو بورډ لري.

په ۲۰۱۶م کال کې د AREU ځانګړې پروژې د اروپایي ټولنې (EU)، د پراختیا بهرنۍ اداره (ODI)، PROMOTE د امریکا حکومت د نړیوالې پراختیا ادارې پروژه (چې ټېټرا ټیک WLD یې پلې کوي)، امنیتي حکومتولۍ ډله (SGG)، د امریکا حکومت د امنیت اداره (USIP)، د جرمني د اقتصادي همکارۍ او پراختیا فدرالي وزارت (GIZ)، (BMZ)، د جوارو او غنمو د ودې نړیوال مرکز (CIMMYT)، د هالنډ سایسنسي څېړنو اداره (NWO) او د بریتانیا-افغانستان د جګړې ماشوم په نامه ادارې له خوا تمویلېږي.

# سریزه

ښه حکومتولي په دې معنی ده چې حکومتي اداري عامه چارې څنګه پر مخ وړي او څه ډول د عامه ګټو سرچینو مدیریت کوي. د ښې حکومتولۍ چوکاټ د دوامداره پراختیا موخې (SDG) سره په کلکه تړلی دی او دا موخه عبارت ده (په ځایي کچه د عامه او حکومتي ورتیا لوړولو څخه چې د خلکو ښې هوساینې کې مرسته وکړي). د دې تر څنګ، دغه چوکاټ د SDG پر موخو ولاړ دی، چې یوه موخه یې (په یوه دیموکراتیک سیستم کې د یوه اغېزناکه حکومت رامنځته کول او د نړیوالې همکارۍ له لارې د دوامداره پراختیا د اصلونو پلي کول دي). دا چې افغانستان یو له هغو **۱۹۳** هېوادونو دی چې د ملګرو ملتونو په چوکاټ کې یې د دوامداره پراختیا په برخه کې د حقیقي پرمختګ لپاره د ریو هوډونو او ۲۱مې اجنډا کې یادو شویو ګامونو د پلي کولو پرېکړه لاسلیک کړې، نو ځکه دغې پروژې ته په ټینګ ډول ژمن دی. د ملګرو ملتونو دغه چوکاټ په افغانستان کې د افغانستان د حکومتولۍ اداري ("Govern۴Afg") پروګرام له خوا عملي کېږي.

د Govern۴Afg پروګرام چې د جرمن او افغان ملګرو له خوا پیل شوی، یو ډېر پر وخت ګام دی، ځکه زموږ په هېواد کې د حکومتولۍ پر موضوع ګانو د پالیسۍ اړوندو بحثونو ته لاره هواروي. څېړونکي او د پالیسیو جوړونکي پر شواهدو ولاړو مالوماتو وړاندې کولو له لارې د حکومتولۍ په سکتور کې د پراختیایي همکارۍ د ټینګښت لپاره د بحث د کلتور ملاتړ کوي.

په **۲۰۱۵-۲۰۱۷** کلونو کې د Govern۴Afg له ټاکل شویو مهمو شپږو موضوع ګانو څخه یو یې (په ولایتي کچه پلان او بودیجه جوړول) دي. ځکه نو د دغې لیکنې پام افغانستان کې پر حکومتولۍ، پلان او د بودیجې پر جوړولو راغونډ دی. دا لیکنه استدلال کوي چې له اندازې ډېر د چارو مرکزیت افغانستان له داسې حالت سره مخامخوي چې په کې سیمه ییزې او حکومتي اداري له پامه غورځول کېږي او د هغوی له وړتیاو پوره ګټه نه پورته کېږي. لیکنه استدلال کوي چې د والیانو دفترونو، ولسوالیو او ټاکل شویو ولایتي شوراګانو په څېر شته سیمه ییزې اداري دا وړتیا لري چې په ولایتي کچه په غوره ډول د بودیجې او پلان جوړولو بهیر کې مهم رول ولوبوي. افغان حکومت باید له حده وتلې مرکزیت ستونزې د حل لپاره ژمن وي. بالاخره، دا د افغان حکومت مسولیت دی چې خپلو خلکو ته غوره خدمتونه وړاندې کړي.

د دې ترڅنګ، دغه لیکنه کابل کې د وزارتونو، ولایتونو او ولسوالیو، او د ټاکلو شویو ولایتي شوراګانو پر کارونو او فعالیتونو، چې په واضح ډول نه دي تشریح شوي، رڼا اچوي. د وضاحت دغه نشتوالی په غیر قصدي ډول د دې لامل شوی چې پروګرامونه په کمزوري او ناسم ډول پلي شي، د رسمي سیمه ییزو ادارو د وړتیاوو لوړولو په برخه کې ناکافي پانګونه وشي او وخت او سرچینې ضایع شي. ځکه نو دا د افغان حکومت مسولیت دی چې د دغې ستونزې د حل لارې ولټوي چې حل یې ښایي د ښې حکومتولۍ په برخه کې مرسته وکړي.

د پلان او بودیجې جوړولو بهیرونو کې د ولایتونو او ولسوالیو رول هم ناڅرګند دی. دا ناڅرګنده ده چې ولایتي پلانونه او بودیجه به څوک جوړوي، او ځایي لومړیتوبونه باید څنګه په ښه او په ملي پلان او بودیجه کې  څنګه ځای ورکړل شي.

لیکنه په سم ډول دا استدلال کوي چې ولایتونو لپاره باید د وزارتونو د بودیجو د ځانګړي کولو پخاطر څرګند قوانین جوړ شي او د مرکزي او ولایتي ادارو تر منځ نویو دندو او مسولیتونو ته باید بیا کتنه وشي. تر څنګ یې باید د پلټنې او ارزونې سترې اداري او ولایتي شوراګانو د وړتیا لوړولو له لارې او د لا زیات پارلماني څار له لارې د سیمه ییزې ځواب ورکونې بهیر غوره شي.

افغان حکومت په هېواد کې سمونونو او په غوره ډول د پلان او بودیجې جوړولو ته ژمن دی. د ولایتي بودیجې جوړولو نوې پالیسي او په پام کې نیول شوې د سیمه ییزې حکومتولۍ په نامه پالیسي (SNGP) نوي پرمختګونه دي، چې هیلې زیاتوي. تمه ده چې د دغو سمونونو له لارې د سیمه ییزو ادارو بشپړ ګډون ته لاره هواره شي او دا تمه هم شته چې د مختلفو ادارو د اداري دندو او فعالیتونو په اړه وضاحت لاسته راشي.

په پای کې، زه هیله لرم چې د Govern۴Afg په څېر پروګرامونو له لارې به په سیمه ییزه کچه د لا نورو بحثونو فرصتونه برابر شي ځکه باور دی چې د حکومتولۍ، پلان او بودیجې جوړولو پر اړوندو مسایلو غور په افغان حکومت کې د سمونونو اجنډا سره په ټینګه مرسته کولی شي.

نادر نادري
د ولسمشر ستر سلاکار
عامه او استراتېژیکي چارې او
د بیان ازادۍ سفیر
زمری **۱۳۹۵**

# سریزه

د افغانستان د حکومتولۍ ټولنه (Govern۴Afg)، د بحثونو د یوې مرجع په توګه د افغانستان د حکومتولۍ سکټور کې د پالیسۍ اړوند سمونونو او د دوی د پلي کولو د بهیر ملاتړ کوي. د افغانستان د پراختیا او ثبات لپاره ښه حکومتولي، د قانون حاکمیت، ځواب ورکونه او روڼوالی خورا مهم دي. افغان ولس باید پر حکومتي ادارو باور پیدا کړي، له اداري فساد سره باید اغېزمنه مبارزه وشي او سمونونه باید د خلکو ورځنی ژوند ښه کړي. دا کافي نه ده چې سمونونه پر کاغذ ولیکل شي – دغه سمونونه باید د افغانستان په کلیو او ښارونو کې پلي شي.

د بحث د دغې برخې موخه دا ده چې د افغانانو او جرمنانو (د بدلون راوستونکو)ترمنځ د ښې حکومتولۍ په ډګر کې د پالیسۍ په اړه د بحثونو ملاتړ وشي. د دواړو هېوادونو څېړونکي او د پالیسیو جوړونکي د حکومتولۍ په سکټور کې د لوړې کچې بحثونو او سلا مشورو د ملاتړ لپاره پر شواهدو ولاړ مالومات وړاندې کوي. ځکه نو، د پالیسیو په اړه خبرې اترې د حقیقتونو پلټلو ته اړتیا لري. په پای کې، د بحث دغه برخه د BMZ د افغان-جرمن د پراختیا همکارۍ ۲۰۱۴-۲۰۱۷ پروګرام د هېواد ستراتېژۍ د پلي کولو لپاره د یوې وسیلې رول لوبوي.

د ۲۰۱۵ کال په پیل کې له لومړني بریالي ورکشاپ وروسته، د افغانستان او جرمني د لومړیتوبونو پر بنسټ د ژور بحث لپاره شپږ موضوع ګانې (ولایتي پلان او بودیجه جوړول، جنډر ته ژمنه بودیجه جوړول، د کانونو مدیریت، سیمه ییزه حکومتولي، مدني ټولنه او د حکومتي ادارو د کارونو سمون) وټاکل شوې. د ۲۰۱۵م کال په اوږدو کې، د دواړو هېوادونو د څېړنې ډلو خپل مهارتونه سره شریک کړل او د بحث ګڼو پرانیستو غونډو او د سلا مشورې د نورو طریقو له لارې یې د کارپوهانو تر منځ بحثونو ته لاره هواره کړه، او د پالیسۍ اړوند بحثونو لپاره یې لیکنې چې اړوندې سپارښتنې په کې شاملې وې خپرې کړې.

BMZ هیله څرګندوي چې دغه خپرونې به په افغانستان کې نورو بحثونو ته لاره هواره کړي او دغه سکټور ته به د مرستندویانو پام ورزیات کړي.

### په دغې لیکنې کې

په افغانستان کې د ولایتي پلان او بودیجې په اړه دغه خپرونه، چې د ۲۰۱۲م کال جولای میاشت کې خلکو ته وړاندې شوه، د عامه مالي چارو مدیریت بهیرونه او اړوندې ادارې ارزوي. د یوې څرګندې سیمه ییزې حکومتولۍ چوکاټ د نشتوالي له کبله، د عامه مالي چارو د مدیریت په برخه کې د لومړنیو سمونونو پام د مرکزي حکومت پر پیاوړي کولو راغونډ و. دغه تګلاره نه شي کولی چې په محلي کچه د وړتیا لوړولو او ګډون زیاتولو لپاره ځایي لومړیتوبونه په اغېزناکه ډول په ښه او تمویل کړي.

څېړونکو یوه اوږد مهاله تګلاره په نظر کې نیولې چې په کې سیمه ییز چوکاټ په واضح ډول تشریح شوی او د حکومت فعالیتونه له مرکزه ولایتونو ته لېږدول شوي دي. د مهارتونو بیا وېش باید له هراړخیزې وړتیا لوړولو او د ځواب ورکونې د معیارونو له پیاوړي کولو سره یوځای په پام کې ونیول شي. د څېړنې د ډلې له خوا په ښه شوې مهمې سپارښتنې په دې ډول دي:

- په کابل او ولایتو کې د وزارتونو او ریاستونو تر منځ د مسولیتونو او واک څرګنده پېژندنه او وېش،
- په پړاویز ډول د بودیجې عمودي غیرمرکزي کولو بهیر د ملاتړ لپاره د سمونونو تدریجي تطبیق،
- د سیمه ییزې ځواب ورکونې میکانیزمونو پیاوړي کول،

د ولایتي پلان او بودیجې جوړولو په اړه د Govern۴Afg د څېړنې او بحثونو په بهیر کې، د نویو پالیسیو ارزونه، مرکې او د لوړې سطحې بحثونه ترسره شول. د Govern۴Afg دغه لیکنه چې بحثونه او څېړنه لا پیاوړې کوي، د ولایتي پلان او بودیجې جوړولو لپاره عملي ګامونه وړاندې کوي. دغه لیکنه د جرمني د همکارې ادارې په سیمه ییزه کچه د وړتیا لوړولو پروګرام (RCD) له مخې جوړ او په دغه پروګرام کې نغښتی دی، ځکه د RCD موخه دا ده چې د افغانستان په شپږو شمالي ولایتونو کې د ولایتو او ولسوالیو ادارو وړتیا لوړه کړي.

دا به نه یوازې د Govern۴Afg په تړاو بلکې د افغانستان حکومتي ادارو، مرستندویه ټولنو او علمي ادارو کې هم د لا نورو بحثونو بنسټ کېږدي. د دغې لیکنې پراخه څېړونه به په مختلفو کچو بحثونو او د پالیسۍ سمونونو ته لاره هواره کړي. Govern۴Afg به د ۲۰۱۲م کال په اوږدو کې له نویو په ګوته شویو موضوع ګانو سره بحثونه بیا پیل کړي.

کلاس کرېمر
د پراختیا همکارۍ مشر
د جرمني د فدرالي جمهوریت سفارت
کابل
زمری ۱۳۹۵

# مننديې

ليکوالان د افغانستان څېړنې او ارزونې له ادارې او GIZ مننه کوي چې د دغې پروژې د برياليتوب لپاره يې په پراخ لاس مرسته کړې. افغانستان کې هغه چې مرکې ورسره شوې، هم سخاوت درلود چې په هېواد کې د پلان او بوديجې جوړولو د شته بهيرونو په اړه يې خپل نظرونه شريک کړل. حکومتي ادارو او مرستندويانو په ډېرې مهرباني د دغې څېړنې لپاره د اړتيا وړ لومړنۍ سرچينې شريکې کړې. د کابل بحث ګډون کونکو (د ۲۰۱۵م کال اکتوبر) د دغې خپرونې لومړنۍ بڼه وارزوله او نظرونه يې پرې ورکړل. ليکوالان د Govern4Afg له سياسي سلاکار پروفيسور مايکل ډکسنر او د دغې خپرونې له نا پېژانده کتونکو نه هم مننه کوي چې د خپرونې پر لومړۍ بڼې يې رغنده نظرونه ورکړل.

ليکوالان له ټولو هغو مننه کوي چې په دغه پروژه کې يې خپله ونډه لوبولې ده. له دوی څخه د څو محدودو کسانو نومونه يادوو: د سيمه ييزې حکومتولۍ د خپلواکې ادارې د پاليسۍ او تخنيکې څانګې مرستيال وزير يما نادر، د اقتصاد وزارت د تخنيکي چارو مرستيال وزير اسماعيل رحيمي، د افغانستان د ناورين مديريت د ملي ادارې عمومي مشر او د کليوالي بيارغونې او پراختيا پخوانی وزير، ويس برمک، د ماليې وزارت د ولايتي بوديجو جوړولو ادارې مشر عبدالمنصور، د سيمه ييزې حکومتولۍ د خپلواکه ادارې د پاليسيو او پلان مشر عبدالمقتدر ناصري، د سيمه ييزې حکومتولۍ د خپلواکه ادارې د ښاروالۍ چارو عمومي مشر عبدالباقي پوپل، د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې د Govern4Afg پروژې مدير فريدون شارق – دوی ټولو په دغه څېړنه کې مهم رول لوبولی دی. دا چې د دغې خپرونې ځينې محتويات ښايي د ځينو لوستونکو له خوا لانجمن وګڼل شي، ځکه نو ليکوالانو پرېکړه وکړه چې د ښکېلو کسانو نومونه به نه يادوي. د دغې څېړنې محتويات يوازې د ليکوالانو مسوليت دی.

نعمت الله بېژن
فرحت ايميل
هارون نايب خيل
زمری ۱۳۹۵

# د موضوعاتو لیکلړ


د لیکوالانو په اړه ........ ه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې (AREU) په اړه ........ و

سریزې ........ ز

مننددويي ........ ک

لنډون: ........ س

د لغتونو ټولګه ........ ع

اجرايوي لنډيز ........ ۱

۱. پېژندنه ........ ۳

۱.۱ د څېړنې مېتود او جوړښت ........ ۵

۲. د ولایتي پلان او بودیجې جوړولو بهير: فکري چوکاټ ........ ۶

۲.۱ حکومتولي، سیمه ییزه حکومتولي او د غیرمرکزي کولو بهیر ........ ۶
۲.۲ غیرمرکزي کول او سیمه ییزې مالي چارې: ځینې ارزونې او مشاهدې ........ ۷
۲.۳ د بودیجې جوړولو بهیر او حکومتولي ........ ۹

۳. افغانستان کې ولایتي پلان او بودیجه جوړول ........ ۱۳

۳.۱ د مالي چارو غیرمرکزي کول او د ولایتي بودیجې جوړولو بهیر ........ ۱۳
۳.۲ د غیرمرکزي ولایتي بودیجو غوراوي: د بودیجې عمودي او افقي ډولونه ........ ۱۳
۳.۳ د افغانستان د ملي او سیمه ییزې بودیجې او پلان جوړولو بهیر ........ ۱۵
۳.۴ د بودیجې ترتیبولو او اجرا کولو بهیر ........ ۱۶
۳.۵ د بودیجې ترتیب او ولایتونه ........ ۱۷
۳.۶ د بودیجې منظوري او ولایتونه ........ ۲۰
۳.۷ د بودیجې اجراء او ولایتو لپاره یې عواقب ........ ۲۱
۳.۸ د ارزونې او پلټنې بهیر ........ ۲۲
۳.۹ د ولایتي پلان او بودیجې جوړولو بهیر د غوره والي لپاره د حکومت او نړیوالو ادارو پروګرامونه ........ ۲۳
۳.۱۰ پراختیایي پلان جوړونه او د افغانستان د پلان جوړونې سیستم ........ ۲۴

۴. په افغانستان کې ملي او سیمه ییزه پلان جوړونه ........ ۲۷

۴.۱ ښاروالۍ: د پلان او بودیجې جوړولو بهیر کې یو نوی میلان ........ ۲۸
۴.۲ د ولایتي بودیجې جوړولو پالیسي ........ ۳۰

۵. پایلې: نیمګړتیاوې او سپارښتنې ........ ۳۲

۵.۱ له اندازې زیات د چارو مرکزیت ........ ۳۲
۵.۲ ناڅرګند او ګونګ اداري رولونه یا دندې ........ ۳۳
۵.۳ اجماع او مخالفتونه ........ ۳۵
۵.۴ محدوده وړتیا ........ ۳۶
۵.۵ د ځواب ورکونې کمی ........ ۳۶
۵.۶ سپارښتنې ........ ۳۷

ضمیمې ........ ۴۰

ماخذونه: ........ ۴۲

# نقشې

لومړۍ نقشه: د افغانستان نقشه ........ ن

# ګرافونه

لومړنی انځور: عمودی مالی تخصیصونه د افقی مالی تخصیصونو پروړاندی ........ ۱۳
دوهم انځور: د افغانستان د پلان جوړونې طبقې، ۲۰۰۲-۲۰۰۸ ........ ۲۷
دریم انځور: په ترکیه کې د پراختیایي پلان طبقې او ولایتي همغږي ........ ۴۱

# جدولونه

لومړی جدول: د ښې حکومتولۍ لپاره د عامه مالی چارو د مدیریت اصلونه ........ ۰۱
دوهم جدول: د ۲۰۱۲م کال د بودیجې جنتري ........ ۱۸

# بکسونه

لومړی بکس: د غیرمرکزي کولو مختلف ډولونه ........ ۷
دوهم بکس: ولایت څه معنا لري؟ ........ ۱۱
دریم بکس: د بودیجې عمده او فرعي واحدونه ........ ۱۵
څلورم بکس: ولایتي بودیجې لپاره د بودیجې د پاشل شوي جوړښت عواقب ........ ۱۲
پنځم بکس: د افغانستان د عامه مالي چارو د مدیریت سیستم او د عامه مالي چارو د ښه مدیریت اصلونه – یوه لنډه ارزونه ........ ۲۳
شپږم بکس: د GIZ/RCDF پروژې په مټ د ورتیا لوړولو پروګرام ........ ۲۴
اووم بکس: د غیرمرکزي پلان جوړونې او ښاریتوب ننګونې ........ ۲۵
اتم بکس: د ولایتي بودیجې جوړولو پالیسي (۲۰۱۵) ........ ۳۰

لومړۍ نقشه: د افغانستان نقشه



# لنډون:

| | |
|---|---|
| ANDS | د افغانستان د ملي پراختیا ستراتېژي |
| AREU | افغانستان د څېړنې او اروزنې اداره |
| BC۱ | د بودیجې لومړی لیکلی مالومات/اعلامیه |
| BC۲ | د بودیجې دوهم لیکلی مالومات/اعلامیه |
| BMZ | د جرمني د اقتصادي همکارۍ او پراختیا فدرالي وزارت |
| CDC | د سیمه ییزې پراختیا شورا |
| DDC | د ولسوالۍ د پراختیا شورا |
| GDP | ناخالصه ملي تولیدات |
| GIZ | د نړیوالو همکاریو لپاره د آلمان ټولنه GmbH |
| I-ANDS | د افغانستان د پراختیا انتقالي ملي ستراتېژي |
| IDLG | د ځایي حکومتولۍ خپلواکه اداره |
| JCMB | د همغږۍ او څارګډ بورډ |
| KI | مهم خبر ورکونکی |
| KII | د مهم خبر ورکونکي مرکه |
| MCs | د ښاروالۍ شوراګانې |
| MAIL | د کرنې، اوبو لګونې او مالدارۍ وزارت |
| MoE | د پوهنې وزارت |
| MoEc | د اقتصاد وزارت |
| MoF | د مالیې وزارت |
| MRRD | د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت |
| NGO | غیرحکومتي اداره |
| NSP | د ملي پیوستون پروګرام |
| PBP | د ولایتي بودیجې جوړولو پالیسي |
| PC | ولایتي شورا |
| PDC | د ولایتي پراختیا کمېټه |
| PDP | د ولایتي پراختیا پلان |
| PLD | ولایتي اداره |
| RCDF | د سیمه ییزې ورتیا لوړولو بودیجه |
| SAO | د څار او ارزونې ستره اداره |
| SNGP | د سیمه ییزې حکومتولۍ پالیسي |
| USAID | د امریکا حکومت د نړیوالې پراختیا اداره |

# د لغتونو ټولګه

| | |
|---|---|
| جرګه | د مشرانو شورا چې د ځايي ستونزو د حل لپاره رابلل کېږي |
| مستوفيت | په ولايتونو کې د ماليې وزارت مالي اداره |
| صفايي ماليه | هغه ماليه چې د ښاروالیو له خوا د ښاري خدمتونو لپاره پر ښاريانو وضع کېږي |
| شورا | عربي لغت چې د سلا مشورې معنا ورکوي، تر ډېره يې اشاره ځايي شورا ته ده |
| ولايت | ولايت |

# اجرايوي لنډيز

د ۲۰۰۱م کال په وروستيو کې د طالبانو د رژيم له نسکورېدو وروسته په افغانستان کې نوي سياسي نظام د پلان او بوديجې جوړولو په ګډون د حکومتولۍ د يو شمېر فعاليتونو سمون ته لاره هواره کړه. خو په پيل کې د دغه بهير پام د مرکزي حکومت پر پياوړي کولو او پر دې راغونډ و چې د پلان او عامه مالي چارو مديريت بهيرونه بايد د مرکزي حکومت له خوا کنټرول شي. د حکومتي ادارو پاشل کېدو او د کابل او ولايتونو تر منځ کمزورو اداري اړيکو ښايي حکومت لا نور هڅولی وي چې د مرکزي حکومت د واک غځولو او د پياوړو ځايي لوبغاړو يا چارواکو د قدرت کمولو پخاطر د حکومتولۍ بهيرونه له اندازې ډېر مرکزي کړي. خو دغه ډول تګلارې ناوړې پايلې هم درلودې. دې تګلارې په اغېزناکه ډول د ځايي لومړيتوبونو په ګوته کولو او تمويلولو، د ځايي وړتيا لوړولو، او د پلان او بوديجې جوړولو بهيرونو کې د ځايي چارواکو د ګډون مخه نيولې ده. واقعا، په افغانستان کې د مرکزي او سيمه ييز کنټرول تر منځ انډول ساتل يوه ننګونه ده، او يو داسې حالت دی چې په نورو نازکو قرينو (افغانستان ته ورته تاريخ لرونکو هېوادونو) کې هم ليدل شوی دی.

په عمومي ډول د عامه مالي چارو د مديريت په ډګر کې او په ځانګړې ډول د بوديجې جوړولو په برخه کې د مهمو لاسته راوړنو سربېره، د يوه واضحه سيمه ييزې حکومتولۍ چوکاټ د نشتوالي له کبله، د لومړيتونو په ګوته کولو او د سرچينو د وېشلو پر وړاندې يو شمېر ناڅرګند او نامالوم حالتونه موجود دي. په مشخص ډول، د مرکزي حکومت له خوا له اندازې ډېر کنټرول، پاشلې اداري مسوليتونه، محدوده وړتيا او د ځواب ورکونې کمی عمده ننګونې دي، چې دغه ننګونې د درې اړخيزه لېږد (اقتصادي، سياسي او امنيتي) اقتصادي اغېز لا سختې کړې دي، په ځانګړې ډول له ۲۰۱۴م کال راهيسې چې بهرنۍ مرستې په چټک ډول کمې شوې او د حکومتي ادارو سمون ته هم پام کم شوی دی. د دغه لېږد د منفي اغېزو کمولو او د حکومت د محدودو سرچينو په اغېزناکه ډول وېشولو پخاطر بايد د پلان او بوديجې جوړولو سيستم کې سمونونه راوړل شي چې د ځايي خلکو غوښتنو او مهمو اړتياو ته د پام او توجه له لارې حکومت خلکو ته نږدې شي.

د افغان حکومت د پلان او بوديجې جوړولو بهيرونه، د ښاروالېو په استثنا چې محدود واک لري، خورا مرکزي دي. حکومتي ادارې په مرکزي، ولايتي او د ولسواليو په کچه شتون لري خو له دوی په ډېر کمزوري ډول کار اخيستل کېږي چې له کبله يې د سرچينو اغېزناکه وېش او د خدمتونو وړاندې کولو بهير لا ستونزمن کېږي. په عمومي ډول پروژې د مرستندويه اوغير حکومتي ادارو له بوديجو يا نورو لارو تمويلېږي خو ډېر يې حکومتي سيستمونه او بهيرونه له پامه غورځوي، چې له کبله يې، که څه هم پروژې په چټک ډول تطبيقېږي خو د دغو پروژو او ادارو دوام او موثريت په ناوړه ډول اغېزمنېږي. له بوديجې بهير مرستې او په لوړه کچه مرکزي کنټرول د خدمتونو وړاندې کولو، د پروګرامونو تطبيق او څار او د ادارو ځواب ورکونې لپاره ناوړه پايلې لري.

په ۲۰۰۱م کال کې د بن تړون او په ۲۰۰۴م کال کې د افغانستان د اساسي قانون له تصويبېدو وروسته، مختلفو لوبغاړو د اساسي قانون پر بنسټ د حکومت د ځينو فعاليتونو د غير مرکزي کېدو په اړه بحثونه کړي، که څه هم په دې تړاو تر اوسه کوم مهم پرمختګ نه دی شوی. خو، په دې وروستيو کې د ملي يووالي حکومت له جوړېدو او د لېږد اغېزو داسې حالت رامنځته کړی چې دغو مسايلو ته بايد بيا کتنه وشي او د نورو مسايلو تر څنګ، بايد د پلان او بوديجې جوړولو بهيرونه غير مرکزي شي. د ولسمشر اشرف غني ژمنه چې د مرکزي حکومت د بوديجې ۴۰ سلنه به ولايتو ته ورکوي، دې اړتيا ته اشاره کوي چې ځينې واکونه بايد د حکومت ولايتي ادارو ته وسپارل شي او سيمه ييزې ادارې بايد پياوړې شي چې په اغېزناکه ډول خپله بوديجه پلان او مصرف کړای شي. د پلان او بوديجې جوړولو د بهيرونو غيرمرکزي کول ننګونکی کار ښکاري، که څه هم دا، سيمه ييزو ادارو ته د بشپړ واک ورکولو د خورا ډېر لېواله او توندې تګلارې په پرتله ډېره واقعي او حقيقي تګلاره ده. ځکه نو يوې اوږدمهالې تګلارې ته اړتيا ده چې په کې سيمه ييز چوکاټ په واضحه ډول تشريح شي، حکومتي فعاليتونه له مرکزه ولايتو ته ولېږدول شي، د وړتيا لوړولو يو هر اړخيز پروګرام پلی شي، او د ځواب ورکونې بهير پياوړی شي.

د دغه ډول ستونزو د حل په موخه، د ولايتي بوديجې جوړولو پاليسي (PBP) او د سيمه ييزې حکومتولۍ راتلونکې پاليسي د پلان او بوديجې جوړولو د بهيرونو پر غيرمرکزي کولو ټينګار کوي. خو په PBP کې د حکومتي ادارو مسوليتونه په ښه ډول څرګند نه دي، او د پاليسۍ مسير او د پلي کولو پلان هم واضحه نه دی او پر نورو داسې پاليسيو او قوانينو ولاړ دی چې د مختلفو وزارتونو او ادارو له خوا بايد جوړ شي. لومړنۍ ارزونې ښيي چې د سيمه ييزې حکومتولۍ راتلونکې پاليسي هم ښايي ورته ستونزې ولري.

د خدمتونو په ښه ډول وړاندې کولو لپاره، افغانستان باید د پلان او بودیجې جوړولو بهیرونه غیرمرکزي کړي. دا چې په دغو بهیرونو کې د اجرایوي او تقنیني څانګو په ګډون ګڼې بېلا بېلې غاړې ښکېلې دي او دغه راز د حکومت محدودې وړتیا ته په کتو، په پړاویز او عمودي ډول د بودیجې د غیرمرکزي کولو بهیر ملاتړ لپاره باید سمونونه په تدریجي ډول پلې شي، او که د ځواب ورکونې مناسب میکانیزم شتون ولري نو په افقي ډول د بودیجې غیرمرکزي کول باید یوازې یوه اوږدمهاله غوراوی وګڼل شي. له دې سره، حکومت باید کابل او ولایتو کې د وزارتونو او ریاستونو مختلفې دندې او دغه راز د پلان او بودیجې لپاره د همغږۍ میکانیزم په واضح ډول تشریح کړي. حکومت باید د ولایتي ادارو (PLDs) وړتیا هم لوړه کړي. د اداري فساد او سرچینو د ضایع کېدو مخنیوي لپاره باید د سیمه ییزې ځواب ورکونې میکانیزمونه پیاوړي شي. اغېزناکه پلان او بودیجه جوړول د خدمتونو وړاندې کولو او پراختیا لپاره اړین دي، ځکه دغه بهیرونه دا وړتیا لري چې د افغانستان د راتلونکي او د حکومت د مشروعیت برخلیک وټاکي.

# ۱. پېژندنه

د افغان حکومت د پلان او بودیجې جوړولو بهیرونه خورا مرکزي بڼه لري، له ښاروالیو پرته چې هغوی هم محدود واکونه لري. حکومتي اداري په مرکزي، ولایتي او د ولسوالیو په کچه شتون لري خو له ورتیا یې په ډېر کمزوري ډول کار اخیستل کېږي، چې له امله یې د سرچینو اغېزناکه وېش او د خدمتونو وړاندې کولو کار خورا ستونزمن شوی دی. په عمومي ډول پروژې د مرستندویه او غیر حکومتي ادارو (NGOs) پر بودیجو یا له نورو لارو پلې کېږي خو تر ډېره په کې حکومتي سیستمونه او بهیرونه له پامه غورځول کېږي چې له کبله یې د پروژو او پروګرامونو دوام اغېزمنېږي او د ملي بودیجې له لارې د پالیسیو جوړولو لپاره د حکومت وړتیا هم محدودېږي. افغان حکومت ته د لېږد د ناوړه اقتصادي اغېزو او د بهرنیو مرستو او اقتصادي ودې د کمېدو تاثیر کنټرولولو پخاطر د سرچینو اغېزناکه وېش د ځایي خلکو د اړتیاوو پوره کولو لپاره مهم دی. په دې تړاو، د محدودو سرچینو د اغېزناکه وېش او د مرستو د لومړیتوبونو مالومولو لپاره د پلان او بودیجې جوړول او د خلکو ګډون هم مهم ګڼل شوی دی.

د ملي یووالي د حکومت څرګنده موخه دا ده چې په سیمه ییزه کچه د پلان او بودیجې جوړولو بهیر پیاوړی کړي. د سیمه ییزې حکومتولۍ د یوه واضحه چوکاټ د نشتوالي یوه پایله دا ده چې ګڼ مسایل ناڅرګند او نامالوم دي. لکه څنګه چې ولسمشر اشرف غني ویلي، د ولایتي چاراوکو لپاره به ډېره سخته وي چې د ملي بودیجې ۴۰ سلنه برخه مصرف کړي[1]. څکه نو ولسمشر غني په پام کې لري چې (...موږ به د ملي حکومت څېره بدله کړو. د ملي بودیجې ۴۰ سلنه به په مخامخ توګه سیمه ییزو ادارو ته ورکړل شي، چې ورسره به د پیسو د لېږد [اوسني] حلقوي سیستم بهیر بدلون ومومي)[2]. د دغې موخې لاسته راوړلو لپاره یوې اوږدمهالې تګلارې ته اړتیا ده چې یو واضحه سیمه ییز چوکاټ ولري، د حکومت فعالیتونه له مرکزه ولایتو ته ولېږدول شي، د وړتیا لوړولو یو هراړخیز پروګرام پلی شي، او د ادارو د ځواب ورکونې بهیر پیاوړی شي.

دا څېړنه د افغانستان د حکومتولۍ ټولنې (Govern۴Afg) په نامه د دوه کلنې پروژې برخه ده چې په افغانستان کې د حکومتولۍ اړوند مسایلو باندې د پالیسۍ په کچه د بحثونو یوې مرجع رامنځته کولو لپاره د افغان او جرمن ملګرو له خوا پیل شوې ده. د دغې پروژې پراخه موخه دا ده چې د حکومتولۍ په ډګر کې شته اړتیاوو ته په پام سره د غوره پرېکړو لپاره سرچینې او مهارتونه یا مالومات برابر کړي، او د مهمو پالیسیو په جوړولو او پلي کولو کې چې د افغانستان له حالاتو او اړتیاوو سره سمون ولري مرسته وکړي. څکه نو د ولایتي پلان او بودیجې جوړولو په اړه دغه لیکنه د پلان او بودیجې جوړولو د شته میکانیزمونو د ارزولو او د پلان او بودیجې جوړولو د بهیر د ښه والي لپاره د مهمو ګامونو د سپارښتنې له لارې، په عمومي ډول ښې حکومتولۍ سره او په ځانګړې ډول د خدمتونو وړاندې کولو سره د مرستې په موخه، د Govern۴Afg د پروژې د اهدافو په لاسته راوړلو کې خپل رول لوبوي.

د ۲۰۰۱م کال په وروستیو کې د طالبانو رژیم له نسکورېدو وروسته رامنځته شوي نوي سیاسي نظام د حکومتي فعالیتونو او د پلان او بودیجې جوړولو بهیرونو کې د سمونونو راوستلو ته لاره هواره کړه[3]. په پیل کې د دغه بهیر پام د پلان او د عامه مالي چارو د مدیریت د بهیرونو پر مرکزي کولو راغونډ و. د حکومتي ادارو پاشل کېدو او د کابل او ولایاتو ترمنځ کمزورو اداري اړیکو ښایي حکومت هڅولی وي چې د حکومتولۍ بهیرونه له اندازې زیات مرکزي کړي او د مرکزي حکومت واک وغځوي چې په ولایاتو کې د پیاوړو اشخاصو قدرت کنټرول شي. خو دغې تګلارې ناوړه عواقب هم لرل. د مثال په ډول، دې تګلارې په اغېزناکه ډول د ځایي لومړیتوبونو د پېژندلو او تمویلولو، په ځایي کچه د وړتیا لوړولو، او د پلان او بودیجې په بهیرونو کې د ځایي خلکو ګډون د زیاتولو وړتیا کمزورې کړې ده.

خو سره له دې، په ۲۰۰۱ کال کې د بن له تړون او په ۲۰۰۴م کال کې د افغانستان د اساسي قانون له تصویبېدو وروسته، ښکېلو غاړو د سیمه ییزې حکومتولۍ او د ولایتي پلان او بودیجې جوړولو په اړه بحثونه کړي دي. په مختلفو بڼو، د افغانستان د ملي پراختیا چوکاټ (۲۰۰۲)، د افغانستان راتلونکې خوندي کول (۲۰۰۴)، د افغانستان د مالي پراختیا انتقالي ستراتیژي (۲۰۰۲)، او د افغانستان د ملي پراختیا ستراتیژي (ANDS، ۲۰۰۹-۲۰۱۳) ټول د پراختیا په بهیر کې خلک ګډون او رول لوبولو ته هڅوي او د داسې یوې بودیجې جوړولو ته لاره هواروي چې ځایي اړتیاوې پوره کړي.

---

۱ احمد قریشي، (د هر یو عبدالله او غني ۵۰ عمده ژمنې)، د پژواک خبرونه، د ۲۰۱۴ کال جون میاشت ۱۱مه.

۲ سنجی کومار، (مرکه: اشرف غني)، سیاستوال، د ۲۰۱۴ کال د اکتوبر میاشت دویمه.

۳ نعمت بېژن، (د کمزورو هېوادونو د بودیجې روښوالي بهیر غوره کول: د افغانستان درسونه)

د دې تر څنګ، حکومت د ملي يووالي پروګرام (NSP) پيل کړ چې د ځايي پروژو په جوړولو، پلي کولو او څار کې يې د ځايي ټولنو د ګډون د زياتولو په برخه کې ډېرې لاسته راوړنې لرلې دي[۴].

له ۲۰۰۲م کال راهيسې، حکومت د ځايي خلکو د اړتياوو او هيلو پوره کولو پخاطر د افغانستان اساسي قانون په نظر کې نيولو سره د پلان او بوديجې جوړولو بهيرونو د غيرمرکزي کولو لپاره ګڼ پروګرامونه پيل کړي دي. د ماليې وزارت په ۲۰۰۶م کال کې د ولايتي بوديجې جوړولو يو ازميښتي پروژه پيل کړه. د دې ترڅنګ، افغان حکومت د ANDS سند جوړولو پر مهال په ځانګړې ډول ولايتو کې له ګڼو ښکېلو غاړو مشورې واخيستې. د دغه بهير له لارې، حکومت د پراختيا ۳۴ ولايتي پلانونه (PDPs) جوړ کړل. خو، د دغو هڅو سربېره، د برياليتوب کچه ټيټه ده، او حکومت لا هم د خپلې محدودې وړتيا او د مشرتابه په کچه د اجماع د کموالي له کبله دغه ډول هڅو ته اداري بڼه نه ده ورکړې. ځکه نو د افغانستان د پلان او بوديجې جوړولو بهيرونه خورا مرکزي، اداري دندې تتې، د سيمه ييزو ادارو وړتيا محدوده، او د اداري ځواب ورکونې بهير کمزوری دی.

په داسې حال کې چې د افغانستان اساسي قانون د عايداتو ټولولو، پلان او بوديجې جوړولو کې ښارواليو ته يو څه واک ورکوي خو دوی هم د نورو حکومتي ادارو په څېر له يو شمېر ستونزو سره مخامخ دي[۵]. د ښاروالۍ سيستم يو منظم تقنيني چوکاټ نه لري، لکه د نورو حکومتي ادارو په څېر، ښاروالۍ هم د خپلې بوديجې، ماليې کچو او کارکونکو د منظورۍ لپاره پر مرکزي حکومت متکي وي. د دې تر څنګ، ښاروالۍ د ټاکل شويو چارواکو د نشتوالي له کبله د ځواب ورکونې له ستونزې سره هم مخامخې دي. ښاروالۍ يوازې محدوده خدمتونه وړاندې کوي ځکه عمده خدمتونه د وزارتونو او اړوندو رياستونو له خوا وړاندې کېږي. د ښاروالۍ د بوديجې جوړولو او مصرفولو بهير هم ډېرې نيمګړتياوې لري لکه څرنګه چې د بوديجې له کم لګښته او د اټکل شويو او لاسته راغلو عايداتو تر منځ له توپيره څرګنده ده. ګډون کمزوری دی، او ښاروالۍ د ګڼو لاملونو له کبله، چې وروسته به يې يادونه وشي، د عايداتو ټولولو او ځواب ورکونې ته محدوده لېوالتيا لري.

د پلان او بوديجې جوړولو اوسني بهيرونه او د حکومت شته جوړښت افغانستان له يوه متناقض حالت سره مخامخ کړی دی. په داسې حال کې چې په کابل، ۳۴ ولايتونو، او ۳۷۲ ولسواليو (۳۶۴ رسمي ولسوالۍ او ۱۲ موقتي ولسوالۍ) کې حکومتي اداري شتون لري، له ولايتي او ولسواليو په کچه ادارو څخه مالومات او نظرونه نه غوښتل کېږي او يا هم له پامه غورځول کېږي. د اکثرو ګومارنو او پېر په ګډون، پلان او د سرچينو وېش پرېکړې په کابل کې کېږي. دغه کار د خدمتونو وړاندې کولو، د پلي کولو بهير څار، او خلکو ته د ځواب ورکونې بهير ته ناوړه عواقب لرلي دي. کابل کې وزارتونه او رياستونه د PLDs په استازيتوب پلان جوړوي او سرچينې وېشي. که څه هم دغه ډول ميکانيزم ښايي د ځينو ملي پروژو په ډېزاين او پلي کولو کې مرسته وکړي خو په ولايتو، ولسواليو او ځايي ټولنو کې دغه ډول تګلاره د حکومتي ادارو له وړتياو په پوره ډول ګټه نه پورته کوي.

له نورو هېوادو شواهد ښيي چې د سيمه ييزو سمونونو اړوند ستونزې پېچلې دي. ځکه نو د پلان او بوديجې جوړولو بهيرونو د غوره والي پخاطر بايد تقنيني او د پاليسۍ سمونونه په احتياط او تدريجي ډول پلي شي. افغانستان بايد د پلان او بوديجې جوړولو بهيرونه غير مرکزي کړي. د ګڼو غاړو لکه د اجرايوي او تقنيني څانګو د ښکېلېدو او د حکومت د محدودې وړتيا له کبله سمونونه بايد په تدريجي ډول پلي شي چې په پړاويز ډول د بوديجې عمودي غيرمرکزيت ملاتړ وشي، د بوديجې افقي غيرمرکزي کول بايد يوازې د يو اوږدمهال غوراوي په توګه په پام کې ونيول شي، په دې شرط چې د ځواب ورکونې منظم ميکانيزمونه شتون ولري. حکومت بايد په کابل او ولايتو کې د وزارتونو او رياستونو دندې په واضح ډول تشريح کړي او د پلان او بوديجې جوړولو د همغږۍ ميکانيزمونه بايد د ولايتي ادارو وړتيا لوړه کړي. د اداري فساد او سرچينو د ضايع کېدو د مخنيوي لپاره بايد د سيمه ييزو ادارو د ځواب ورکونې ميکانيزمونه پياوړي شي.

۴ د افغانستان اسلامي جمهوريت، (د افغانستان د ملي پراختيا ستراتېژي (ANDS)، ۱۳۸۷-۱۳۹۱ (۲۰۰۸-۲۰۱۳)) (کابل: ANDS سکرتريت)، د افغانستان انتقالي اداره، (د ملي پراختيا چوکاټ (د بحث لپاره لومړنۍ بڼه)، (کابل: د افغانستان د مرستو د همغږۍ اداره، ۲۰۰۲)، د افغانستان انتقالي حکومت، (د افغانستان راتلونکې خوندي کول: لاسته راوړنې او ستراتېژيکه لاره) (کابل: د افغانستان حکومت، ۲۰۰۴)، سلطان برکات او ارنې ستړنډ، (د افغانستان د ملي يووالي پروګرام منځمهالې ارزونې رپوټ)، افغانستان (يارک او کابل: د يارک پوهنتون او د کليوالي بيا رغونې وزارت او د افغانستان پراختيا، ۲۰۰۶).

۵ ښاروالیو د دندو لپاره، د افغانستان اسلامي جمهوريت، (د افغانستان اساسي قانون) ولولی، (کابل: د افغانستان حکومت، ۲۰۰۴).

## ۱.۱ د څېړنې مېتود او جوړښت

په دغې لیکنې کې د څېړنې له معیاري کیفیتي مېتود څخه کار اخیستل شوی دی. په افغانستان کې د مهمو مرکو ورکونکو (KIIs) د خبرو، له ګڼو ښکېلو غاړو سره د پالیسۍ اړوند بحثونو او دغه راز د حکومت د شته اسنادو او خپرو شویو او ناخپرو شویو لیکنو د ارزونې پر بنسټ، دغه لیکنه د پلان او بودیجې جوړولو شته بهیرونه او د دوی ښکېلې غاړې ارزوي، او د دغو بهیرونو د غوره والي پخاطر سپارښتنې وړاندې کوي. دغې لیکنې د پلان او بودیجې جوړولو په ډګر کې شوې نورې څېړنې په پام کې نیولې او هڅه یې کړې چې شته سپارښتنې او موندنې تکرار نه کړي.

دغه لیکنه لومړی ځینې هغه درسونه او موندنې څېړي چې په نورو هېوادونو کې د غیرمرکزي کولو، پلان او بودیجې جوړولو په برخو کې لاسته راغلې دي[۲]. وروسته بیا په افغانستان کې د پلان او بودیجې شته بهیرونه او د دوی ښکېلې غاړې ارزوي. بالاخره، دغه لیکنه د پلان او بودیجې جوړولو د بهیرونو نیمګړتیاوې په ګوته کوي او حکومت خلکو ته د نږدې کولو پخاطر په افغانستان کې د ولایتي پلان او بودیجې جوړولو بهیرونو د پیاوړې کولو لپاره یو شمېر سپارښتنې وړاندې کوي.

۲ د دغې لیکنې په ځینو برخو کې د ترکیې له قضیو کار اخیستل شوی دی. د یوه واحد یا مرکزي حکومت لرونکي هېواد په توګه، ترکیه د خورا مرکزي سیستم لرونکو هېوادونو لکه افغانستان چې هڅه کوي خپل سیستمونه یو څه غیرمرکزي کړي او پرمختللو اقتصادونو چې د ځایي حکومت او محلي واک اوږده مخینه لري (په ځانګړې ډول د ښاروالۍ په سکتور کې) تر منځ واقع ده. دا چې ترکیه هم د ښاروالۍ یو خپلواکه اداره لري او هم یې ولایتي سیستم تر ډېره غیرمرکزي دی، نو کېدای شي چې د افغانستان لپاره یې په دې برخه کې یو مناسب مثال وبولو، که څه هم تل به کامل مثال نه وي.

# ۲.   د ولايتي پلان او بوديجې جوړولو بهير: فکري چوکاټ

سيمه ييزو ادارو ته د لا ډېرو مسوليتونو او بوديجوي سرچنيو د ورکولو له لارې، په ځايي کچه د خدمتونو غوره والي پخاطر د افغانستان وروستۍ پاليسېو څه دپاسه يوه لسيزه مخکې پيل شوې دي. په دغه موده کې، د سيمه ييزو ادارو د پلان او بوديجې جوړولو د بهيرونو غوره والي هڅو سربېره، شته سيستم لا هم د مرکزي حکومت او سيمه ييزو ادارو تر منځ، چې ډېرى عامه خدمتونه هلته وړاندې کېږي، پياوړې مالي اړيکې نه دي رامنځته کړي.

د اوسني سيستم او د افغانستان د ولايتي پلان او بوديجې جوړلو پاليسيو د نيمګړتياوو په اړه د پوهاوي لپاره، مهمه ده چې دغه ستونزې د سيمه ييزې حکومتولۍ او غيرمرکزي کولو بهير په پراخ چوکاټ کې ووينو. ځکه نو د ليکنې دا برخه حکومتولي، سيمه ييزه حکومتولي او غيرمرکزي کولو بهير تشريح کوي چې په ملي او سيمه ييزو کچو د حکومتولۍ، پلان او بوديجې جوړولو تر منځ اړيکه وپېژندل شي. دوهم، دا برخه له جګړې راوتلو او کمزورو هېوادونو کې د غيرمرکزي کولو بهير ته کتنه کوي. او دريم، د بوديجوي بهير د تشريح کولو له لارې، چې ايا په يوه دېموکراتيک چاپيريال کې عايدات زياتوي او که مخه يې نيسي، دې ته کتنه کوي چې د عامه مالي چارو د مديريت سيستم حکومتولي پياوړې کوي او که خنډ ورته جوړوي.

## ۲.۱   حکومتولي، سيمه ييزه حکومتولي او د غيرمرکزي کولو بهير

د (سيمه ييزې حکومتولۍ د چوکاټ) د تشريح لپاره بايد لومړى د (حکومتولۍ) اصطلاح تشريح شي[۷]. حکومتولي يعنې (د ټولنيزو ګامونو د همغږي کولو اداري لارې چارې چې موخه يې (الف) د لازمو قوانينو پلي کول او (ب) د عامه خدمتونو او ګټو وړاندې کول دي)[۸]. دا تشريح په دې معنا ده چې د عامه خدمتونو او ګټو وړاندې کول د حکومتولۍ دنده ده چې حکومت يې بايد پر مخ يوسي[۹]. دا کيداى شي په دواړو پرمختللو هيوادونو او کمزورو هيوادونو، چې له ناکامۍ سره مخامخ دي او يا هم د دغو دندو په پرمخ وړلو کې د ناکامۍ له خطر سره مخامخ دي، په صورت کى وي[۱۰].

سيمه ييزه حکومتولي څه معنا لري؟ سيمه ييزه حکومتولي داسې يوه ميکانيزم ته اشاره کوي چې له ملي کچې ټيټو حکومتي ادارو ته، چې له ملي حکومت سره اړيکې لري، او د هغوى ښکېلو غاړو ته فرصت ورکوي چې د ځايي اوسېدونکو د ګټې لپاره عامه خدمتونه وړاندې کړي. د سيمه ييزو حکومتي ادارو له خوا د عامه ګټو او خدمتونو وړاندې کول په دې معنا دى چې واک له ملي کچې د ادارې نورو ټيټو کچو ته ولېږدول شي او يا هم واک غيرمرکزي شي.

غيرمرکزي کول ښايي ګڼ ډولونه ولري. د غيرمرکزي کولو د يوه ډول په مټ د سيمه ييزو حکومتي ادارو او د خدمتونو وړاندې کولو د بهير پياوړي کول د ډېرو هېوادونو د پاليسيو په لومړيتوبونو کې شامل دي. له مرکزه د واک لېږدول او سيمه ييزې ادارې پياوړې کول د غيرمرکزي کولو د بهير ډولونه دي. خو، د حکومت دننه ډېرى سيستمونو کې د واک لېږدولو يوه بڼه ليدل کېږي. لاندينى لومړى بکس د غيرمرکزي کولو مختلف ډولونه واضح کوي.

---

۷   د لا نورو جزياتو لپاره، اريا نجات، کرستوف ګوستوني، بصير فدا او جان کولر، (افغانستان کې سيمه ييزه حکومتولي: اوسنى وضعيت او د ولسواليو او کليو د استازيتوب راتلونکې)، وګورئ، (کابل: افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره او د جرمني د اقتصادي همکارۍ او پراختيا فدرالي وزارت، ۲۰۱۲).

۸   دلته موږ د سونډرفارچنګبريچ ۷۰۰ تعريف کاروو، (په رومېن بګرنزر ستاټليچکيټ کې حکومتولي)، (د حکومت د کمزوري واک سيمو کې حکومتولي)، (ګلوسر، حکومتولي، http://sfb-governance.de/program/glossar/governance.html). نجات او نور، هم وګورئ. (افغانستان کې سيمه ييزه حکومتولي) **۵**.

۹   ان د حکومتولۍ په ډېرو پياوړو او مرکزي جوړښتونو کې لکه هغه چې په نړيوال شمال کې شته، ټول رسمي ګامونه د حکومت له لورې نه پورته کېږي. غيرحکومتي لوبغاړي لکه شخصي سکتور يا غيرحکومتي مرستندويه ادارې د عامه خدمتونو وړاندې کولو کې مسوليت اخلي. خو، ډېرى رسمي فعاليتونه حکومت ته محدود دي او د عامه خدمتونو وړاندې کولو په تړاو د حکومت، شخصي سکتور او غيرحکومتي ادارو ترمنځ اړيکې رسمي او ترتيب شوې دي. نن، د اقتصادي همکاريو او پراختيا ادارې په وينا، د عامه خدمتونو وړاندې کولو برخه کې د حکومت د رول له کبله، په عمده غړو هېوادونو کې په منځنۍ کچه د حکومت لګښتونه د ناخالص عايد شاوخوا ۴۰ سلنه جوړوي

۱۰   ډېرېک برېنکرهوف، له جګړې راوتلو ټولنو کې حکومتولي: د کمزورو هېوادونو بيا رغونه (لندن: روټليج، ۲۰۰۷).

**لومړی بکس: د غیرمرکزي کولو مختلف ډولونه**

ډيکنسنټرېشن، ډېرې وخت د اداري غيرمرکزي کولو په نامه هم يادېږي، دا د هماغه مرکزي حکومت ادارو سيمه ييزو ارګانونو ته د مشخصو دندو د لېږد په معنا دی، پرته له دې چې د ادارو ترمنځ يا سکتورونو ترمنځ همغږي او يووالي ولېږدول شي. د غير مرکزي کولو په دې ډول کې، غيرمرکزي شوې اداري پر مرکزي حکومت متکي وي. ځينې وخت د مرکزي دفترونو سيمه ييزې يا ولايتي څانګې يو څه قدرت لري چې خپلواکه پرېکړې وکړي، چې عموما يې حدود مرکزي حکومتونو ټاکلي وي.

ډيليګيشن نيمه خپلواکه يا نيمه حکومتي ادارو ته د ځينو مشخصو دندو سپارلو په معنا دی، چې دغه اداري يې په خپلواکه ډول مخ ته وړي پرته له دې چې د حکومت ځايي يا سکتوري ادارو (د مثال په ډول خپلواکه قانوني اداري لکه د بانکونو څار او د مخابراتو چارواکي يا خپلواکه مرکزي بانکونو) ته ځواب ورکړي.

ډېولوشن ځايي چارواکو ته د مرکزي حکومت د مشخصو دندو لېږدولو په معنا دی، له قانوني بنسټ، د موادو او بشري سرچينو د پيدا کولو وړتيا، او د خپل درک په اساس د پرېکړو قدرت سره يوځای. په دې ټراو، که چېرې د واک سپارلو په اړوندو قوانينو کې يې يادونه نه وي شوې نو غيرمرکزي شوې اداري پر مرکزي حکومت ډېره کمه اتکا کوي. په عمومي ډول، ټاکل شوې سيمه ييزې حکومتي اداري مسوليت لري چې يو شمېر عامه خدمتونه وړاندې کړي او د دغو خدمتونو تمويلولو لپاره فيسونه او ماليې وضع کړي.

دغه مالومات راټول شوي له: د ملګرو ملتونو د وګړو صندوق، (د ملګرو ملتونو د وګړو صندوق او د حکومت غيرمرکزي کولو بهير: د يوه هېواد د تجربو څېړنه)، (نيو يارک: د څار او ارزونې اداره، د ملګرو ملتونو د وګړو صندوق، ۲۰۰۰)، نړيوال بانک، (په افغانستان کې په سيمه ييزه کچه د خدمتونو وړاندې کول او حکومتولي)، (واشنګټن، ډي سي: نړيوال بانک، ۲۰۰۷).

په تېرو دوو لسيزو کې، نړيوالو او پراختيا اړوند ادارو د غيرمرکزي کولو بهير ملاتړ کړی دی. وګړو ته د خدمتونو وړاندې کولو معيار او پوښښ غوره کولو، د ځايي پراختيا د پياوړي کولو، او په ځايي کچه د ګډې حکومتولۍ د قوي کولو لپاره سيمه ييزو ادارو ته واک ورکول او د هغوی پراختيا مهم ګڼل شوي دي. خو، د مرکزي کولو داسې يو ډول هم نه شته چې ټولو چاپېريالونو لپاره مناسب وي. ځکه نو، غير مرکزي کول ننګونکي او چاپېريال پورې اړوند بهير دی[۱۱].

په هر صورت، د سيمه ييزې حکومتولۍ چوکاټ او مشخصو ډولونو ته يې بېل بېل نظر نه شو کولی. دوی د واک، مشروعيت او په اغېزناکه توګه په ځايي کچه د عامه ګټو او خدمتونو وړاندې کولو هدفونه يوازې هغه مهال لاسته راوړلی شي چې کله د اړتيا وړ سرچينې موجودې وي او له دغو سرچينو د لومړيتوبونو او ځواب ورکونې د اصل پر اساس کار واخيستل شي[۱۲]. د غيرمرکزي کولو د يوه ډول انتخاب (په ځانګړې ډول ډيکنسنټرېشن او ډېولوشن يا واک سپارل) به په ملي او سيمه ييزو کچو د سرچينو وېش او د اړوندو لوبغاړو د دندو او مسوليتونو په برخو کې عواقب ولري.

## ۲.۲ غیرمرکزي کول او سیمه ییزې مالي چارې: ځینې ارزونې او مشاهدې

له جګړې وتلو او کمزورو هېوادونو کې د ثبات، بيا رغونې او د خدمتونو وړاندې کولو ترمنځ انډول ساتل ستونزمن کار دی. واقعا، د سيمه ييزې حکومتولۍ په سمون کې يوه مهمه ننګونه دا ده چې د ملي امنيت او قانون حاکميت تر منځ انډول وساتل شي، چې په ځايي کچه د مرکزي حکومت پياوړي حضور او په اغېزناکه ډول د ګټو او خدمتونو وړاندې کولو ته ضرورت لري، او دا ښايي د غيرمرکزي کولو يوه ډول ته اړتيا ولري. امنيت مهم دی، ځکه که دولت اړ وي چې د مرکزي حکومت د مالي سرچينو لويه برخه پر امنيتي سکتور ولګوي نو د ټيټو کچو ادارو ته به د واک او مالي چارو لېږد بهير محدود وي.

له جګړو وتلي او کمزوري هېوادونه عموما هڅه کوي خپلې اداري په تدريجي ډول غيرمرکزي کړي. تجربه ښيي چې د غيرمرکزي کولو اغېزناکه ستراتېژياني له مرکزه د واکونو له اخيستلو پيلېږي او ورو ورو سيمه ييزو ادارو ته پر لېږد خلاصېږي. دا له نورو نظرونو سره سمون لري او لومړۍ ارزونه يا مشاهده لا نوره واضحه کوي چې په جنګ ځپلو هېوادونو

کې د ځايي حکومت سمونونه په احتياط پلي کېږي[۱۳]. له مرکزه د واکونو اخيستل، د منځني حل په توګه، ځايي ادارو ته د واک د لېږد په پرتله له سياسي پلوه په پرتليز ډول ډېر مناسب غوراوی ښکاري، ځکه په دغه بهير کې ګڼې غاړې چې مختلفې ګټې، لېوالتيا او اندېښنې لري ښکېلې وي. د غيرمرکزي سيمه ييزې حکومتولۍ سيستمونو لپاره مالي غيرمرکزيت يا خپلواکي مهمه ده[۱۴]. د واحدو حکومتونو په لومړنيو پړاوونو کې له مرکزي حکومته سيمه ييزو ادارو ته د مالي چارو لېږد هېڅ نه تر سترګو کېږي، په دې معنا چې

۱۱ د نغښتو پېچلتياو ترڅنګ، د غيرمرکزي کولو بهير ممکنه ګټې هم له يوه اندازه لانجو او نيوکو سره مخامخې دي. د غيرمرکزي کولو بهير د نورو تګلارو پر ننګونو، د ليبرال غيرمرکزي کولو نظريې په خلاف چې نړيوالې اداري يې ملاتړ کوي، په زياتېدونکې توګه ليکنې شوې چې پام يې په نړيوال سويبل (چې افغانستان يې هم برخه ده) کې د بناري کېدو پر ستونزې راغوند دی (نړيوال سوېل ته تر دې مخکې دريمه نړۍ ويل کېده).

۱۲ د دې برخې بحث له جيمي بويکس اخيستل شوی، (د افغانستان د سيمه ييزو ادارو مالي چارو د چوکاټ څېړنه: د کليو، ولسواليو، ولايتونو او مرکز ترمنځ د مالي چارو اړيکو ته کتنه)، (واشنګټن، ډي سي: اربن انستيټوټ، ۲۰۱۲).

۱۳ هميش نيکسن هم وګوری، (افغانستان کې سيمه ييزه حکومتولي) (کابل: افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره، ۲۰۰۸)،

۱۴ بويکس، (د افغانستان د سيمه ييزو مالي چارو د جوړښت څېړنه).

له جګړې وروسته په لومړنۍ موده کې سیمه ییزه حکومتولي او د حکومت دننه ادارو کې د مالي چارو مدیریت هغه څه نه دي چې تر ډېره پرې پام وشي بلکې په دغه ډول مسئلو په وروسته مرحلو کې غور کېږي[۱۵]. هغو هېوادونو په پراخه ډول د مالي چارو د واک لېږد بهیر خپل کړی چې د غیرمرکزي کولو له بېلا بېلو ډولونو یې ګټه اخیستې. ان د (بېګ بنګ بڼې) غیرمرکزي کولو پالیسیانې، لکه اندونیزیا چې خپلې کړې، یو ډول مالي لېږد په نظر کې نیسي[۱۶].

سیمه ییزو او د حکومتي ادارو تر منځ د مالي چارو سمونونه سیاسي بڼه لري او ملي اجماع، سیاسي مشرۍ او منځدریځۍ ته اړتیا لري. دا یوه مهمه مسئله ده او یوازې له جګړې وتلو او کمزورو هېوادونو ته محدوده نه ده. د سیمه ییزې حکومتولۍ چوکاټونو جوړول او د مالي چارو د جوړښت انتخاب د (بدلون) په معنا دی، چې په کې ګڼې ادارې او مختلف لوبغاړي ښکېل او له دغه بدلونه اغېزمنېږي. لاندې بحث پر څو موضوع ګانو راغونډ دی چې افغانستان کې د پلان او بودیجې جوړولو بهیر په تړاو د سمون هڅو لپاره مهمې برېښي.

ملي اجماع او مشري مهم دي. د حکومت له مرکزي سیستمه د یوه نسبتا غیرمرکزي سیستم په لور تګ ښایي د وګړو، سیاستوالو او مختلفو ډلو ترمنځ د هېواد د یووالي په تړاو بحثونه راوپاروي. په هغو هېوادونو کې چې دغه ډول څېړنې ترسره شوې، پایلې یې قاطع نه دي[۱۷]. لکه د عملي ډګر په څېر، په نظري ډول هم په دې اړه نظرونه وېشلي دي چې سیمه ییز سمونونه هېوادونه پیاوړي کوي که کمزوري کوي یې. خو، که د استدلال هر اړخ سم وي، ښایي د غیرمرکزي کولو ستونزه نه وي، بلکې شاید د بېلتون غوښتنې د فکري میلان او د دغه ډول ډلو او لوبغاړو د غوښتنې پیاوړتیا پورې اړه ولري[۱۸].

لکه مخکې چې یادونه وشوه، سیمه ییز سمونونه ګران او ننګونکي دي، ځکه نو پر مهمو مسئلو او پر عمومي بهیر ملي اجماع ته اړتیا لري. سیاسي مشران مسئولیت لري چې د سیمه ییز سمون په اړه خپله اجنډا خلکو سره شریکه کړي او د اجماع لاسته راوړلو لپاره د مخالفو نظرونو او فکرونو منلو او اورېدلو ته هم چمتو وي.

د اجرائیوي څانګې دننه د غیرمرکزي کولو بهیر سیاسي اقتصاد او همکاري کولی شي د غیرمرکزي کولو بهیر پیاوړی یا کمزوری کړي. د سیمه ییزو سمونونو بریالیتوب لپاره د ځایي حکومتولۍ اړونده وزارت (د مثال په ډول د افغانستان ځایي حکومتولۍ خپلواکه اداره IDLG، د مالیې وزارت) کافي نه دي. حکومت د وزارتونو، ریاستونو او ادارو ټولګه ده چې هر یو یې له بېلا بېلو وظیفوي، سیاسي او اداري فشارونو سره مخامخ دي. غیرمرکزي کولو بهیر ښایي د سرچینو د وېش په برخه کې د دوی د چارواکو لپاره ستونزمن وي، چې ښایي د اداري رقابتونو او د بدلون پر وړاندې د مقاومت لامل شي. د سمون بهیر پر مهال د بیوروکراتانو تر منځ د همکارۍ او ګډ کار کلتور رامنځته کول یو ستونزمن کار دی چې باید پام ورته وشي. یو سیمه ییز سمون د اجرایوي څانګې او پارلمان ترمنځ سالم بحث ته هم اړتیا لري.

۱۵ جیورجیو بروسیو او جوان پابلو جیمینز، (له مرکزیت سربېره مالیه په مرکز کې ساتل، له ملي سمونونو سره اړیکې)، آیا غیرمرکزي کول بهیر پراختیا لپاره ګټور دی؟ جین پال فګټ او کرولین پوشل (اکسفورډ: اکسفورډ پوهنتون چاپ، ۲۰۱۵)، ۱۷۹-۱۹۵.

۱۶ د مالي چارو لېږد تشریح او جزیات او افغانستان لپاره یې غوراوي به په راتلونکو برخو کې کمبوډیا، موزمبیق او ترکیې د مثالونو پر اساس په تفصیل سره وڅېړل شي.

۱۷ د مثال په ډول، ځینې قضیې ښیي چې په مقدونیه، بوسنیا او هرزیګوینیا کې غیرمرکزي کولو بهیر جګړې پای ته رسولې خو بېلتون یې لا ژور کړی. په نورو هېوادونو کې، غیرمرکزي کولو بهیر د ملي یووالي پیاوړتیا ته لاره هواره کړې که څه هم د سمونونو د پلي کېدو سره تړلو پېچلتیاوو یو څه ګواښونه هم زېږولي دي، لکه په نیپال کې. د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام لیکنه وګورۍ، (له جګړې وتلو چاپېریالانو او هېوادونو کې ځایي حکومتولي، امنیت ټینګول او د حکومتي ادارو بیا رغونه)، (د ملګرو ملتونو د پراختیا پروګرام د بحث لیکنه، UNDP، ۲۰۰۷).

۱۸ جین پال فګټ، اشلې فاکس او کرولین پوشل، (ایا غیرمرکزي کولو بهیر حکومت پیاوړی کوي که کمزوری کوي یې؟)، په (ایا غیرمرکزي کولو بهیر پراختیا ته ګټور دی؟) کې، جین پال فګټ او کرولین پوشل (اکسفورډ: اکسفورډ پوهنتون چاپ، ۲۰۱۵)، ۱-۲۸.

## ۲.۳ د بودیجې جوړولو بهیر او حکومتولي

حکومتولي تر ډېره د عامه ګټو او خدمتونو وړاندې کولو سره تړاو لري. په منتخبو دېموکراسیو کې، وګړي سیاستوال او سیاستوال بیوروکراتان پیاوړي کوي چې دغه ډول خدمتونه وړاندې کړي. د دې موخې لاسته راوړلو لپاره، مهمه ده چې سرچینې (د مثال په ډول، د مالیې عایدات او بهرنۍ مرستې) په اغېزناکه توګه پلان او ووېشل شي. دغه ډول بهیر کې، چې د پلان او بودیجې جوړولو په نامه یادېږي، اړتیاوو ته لومړیتوبونه ټاکل کېږي او د اړتیاو پوره کولو لپاره محدودې سرچینې وېشل کېږي. د عامه ګټو او خدمتونو وړاندې کولو پر مهال او پای کې، چې د بودیجوي بهیر په نامه هم یادېږي، سیاستوال او بیوروکراتان وګړو ته ځواب ورکونکي وي[۱۹]. دا په داسې حال کې ده چې دغه ډول سیستم رسمي ادارو لکه اساسي قانون او نورو قوانینو، او غیررسمي ادارو لکه غیرحکومتي لوبغاړو یا چارواکو محدود کړی او په دغه سیستم کې دودونه هم مهم رول لوبوي.

د رسمي (ټاکل شویو سیاستوالو او بیوروکراتانو) او غیر رسمي لوبغاړو لکه پیاوړو اشخاصو او مختلفو ښکېلو ډلو تر منځ اړیکې مهمې دي. یوه منتخبه ډېموکراسي د ګټو او عوایدو لاسته راوړلو په کار کې زیانمنېدای شي، ځکه سیاستوال ښایي وغواړي چې بیا وټاکل شي او بیوروکراتان ښایي د نور قدرت او واک په لټه کې وي، چې تر کومه حده ممکنه ده په خپلو وظیفو او دندو پاتې شي. دا بیا ښایي د ملاتړ سیستم په معنا وي، چې لاسته راغلې پیسې او عواید پر خلکو او یا پر خپلو ملاتړو ووېشي، او موخه یې دا وي چې خپلې او د خپلو رسمي او غیررسمي ملاتړو ګټې خوندي کړي او د هغوی د ملاتړ دوام ډاډمن کړي. د بودیجې سیستم په عمومي ډول تر ډېره د دغه ډول کړنو مخه نیسي. که د لګښت سیستم یو شمېر مشخص اصلونه په پام کې ونیسي، نو وګړي ډاډ ترلاسه کولی شي چې حکومت به د عامه ګټو بودیجه نه ضایع کوي بلکې په ډېر عاقلانه ډول به یې د عامه ګټو تولیدولو لپاره مصرفوي. حکومت کولی شي مالومه کړي چې دوی د عامه خلکو بودیجه او پیسې څرنګه لګوي. ځکه نو د بودیجې سیستم دا وړتیا لري چې ښه حکومتولي پیاوړې یا کمزورې کړي. د عامه مالي چارو د مدیریت د یوه ښه سیستم ځینې اصلونه په لاندې ډول دي:

- بودیجې باید د مالي چارو قوانینو له مخې ټولیز مالي ډسپلین په پام کې وساتي.
- د سرچینو وېش او ګټه اخیستنه باید د ستراتېژیکو لومړیتوبونو پر اساس وي، چې د منځمهاله او اوږدمهاله لیدلوري پر اساس د پلان او بودیجې جوړولو د بهیر د یوځای کولو له لارې د سرچینو پلانولو ته اړتیا لري.
- د پروګرامونو او خدمتونو وړاندې کولو اغېزمنتیا باید (د لاسته راوړنو یا پروګرام بودیجې، او ټیټو کچو ادارو ته د واک لېږد ) له لارې وساتل شي.
- د بودیجې ځواب ورکونه او روڼوالی هم باید (د څار او ارزونې له لارې) وساتل شي.

د دې ترڅنګ، د بودیجې جوړولو بهیر کې د وګړو ښکېلول پورته اصلونه نور هم پیاوړي کوي. د وګړو له ګډون سره او د **ګډ بودیجوي او جنډر ته ژمن بودیجوي سیستم** له لارې د حکومتولۍ چوکاټ بشپړتیا په تېرو دریو لسیزو کې د عامه مالي چارو د مدیریت د اجنډا برخه ده[۲۰]. د عامه مالي چارو د ښه مدیریت او د وګړو ښکېلتیا اصلونه لاندې په لومړي جدول کې تشریح شوي دي.

۱۹ د بودیجوي سیستم او ښې حکومتولۍ په اړه د یوه بحث لوستلو لپاره د ایزاک اتیاس او سیریف ساین لیکنه وګورۍ، (په ترکیه کې بودیجوي اداري)، (موضوع ګانې چې په منځني ختیځ او د شمالي افریقا اقتصادونو کې لیدل شوي ۲، (۲۰۰۰).

۲۰ په نړۍ کې ګڼې ښاروالۍ ګډ بودیجوي سیستم کاروي، چې ښه مثالونه یې په برازیل کې پورټو الیګره او ریسفي دي. د ترکیې ښاروالۍ هم د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام پروژو له لارې جنډر ته ژمن بودیجوي سیستم کاروي. دغه ډول تګلارې یوازې ښاروالیو ته محدودې نه دي بلکې په غیرمرکزي شویو ولایتي مرکزونو کې هم ترې کار اخیستل کېږي. د مدني ټولنې ښکېلتیا او جنډر ته ژمن بودیجوي سیستم هغه موضوع ګانې دي چې د Govern۴Afg د پروژې په نورو لیکنو کې پرې بحث شوی دی.

**لومړی جدول: د ښې حکومتولۍ لپاره د عامه مالي چارو د مدیریت اصلونه[۲۱]**

| اصلونه | موخه | وسیلې | د بودیجې اړونده دوره | د مدني ټولنې رول |
|---|---|---|---|---|
| ټولیز مالي ډسپلین | مالي چارې په عاقلانه ډول تنظیمول<br>د سترو اقتصادي چارو ثبات<br>او د پورونو پایښت | د لګښت لوړه کچه<br>د مالي چارو قانون<br>د منځمهاله لګښتونو چوکاټ<br>د عامه مالي چارو د مدیریت قوانین<br>د مالي چارو د مدیریت مالوماتي سیستم | د بودیجې چمتووالی او جوړول | د بودیجې دفاع یا ملاتړ |
| ټولیز مالي ډسپلین | د بودیجې د لګښت اعظمي کچې ته په پام سره محدودې سرچینې ټاکل شویو مهمو پروګرامونو ته وېشل | پراختیایي پلانونه<br>منځمهاله پروګرامونه<br>ستراتېژیک او عملي پلانونه<br>د لګښت منځمهاله چوکاټ<br>له پانګونو سره د عملیاتي او مراقبت لګښتونو یوځای کول<br>د مالي مدیریت د مالوماتو سیستم<br>د عامه مالي چارو د مدیریت قانون | د بودیجې چمتووالی او جوړول | په ګډه ډول بودیجه جوړول<br>د بودیجې دفاع<br>جنډر ته ژمن بودیجوي سیستم |
| په اغېزناکه ډول د سرچینو کارول | د پیسو په بدل کې ارزښت<br>اقتصادي اغېزمنتیا<br>اغېزمنتیا او برابري | د ترسره شوي کار او د پروګرام د بودیجې لاسته راوړنو د اندازه کولو سیستمونه<br>د افسرانو نرمي<br>د څرګندو قوانینو له مخې د دندو لېږد | د بودیجې لګول | د بودیجې څار<br>د عامه لګښتونو د څار سیستم<br>د مالي چارو روڼوالی |
| ځواب ورکونه | د عامو خلکو پیسې په سم او قانوني ډول لګول | د ارزونې او څار خپلواکه اداره (قانون منل او د مالي چارو او شوي کار ارزونه)<br>د کور دننه کنټرول او ارزونې سیستمونه<br>د بودیجوي سیستم پارلماني څار | د کال په اوږدو کې کورنۍ او بهرنۍ ارزونې<br>د کال د پای او وروستي حسابونو او لاسته راوړنو رپوټ ورکول | ټولنیزه ارزونه<br>څار او د مالوماتو خپرول<br>د ارزونې او څار دفتر د رپوټونو په اړه د پوهاوي لوړول |

## افغانستان کې حکومتولي او ولایتي پلان او بودیجه جوړول

د ادارو د ټولو هڅو او ژمنو سربېره، افغانستان لا هم یو خورا مرکزي حکومت لرونکی هېواد دی چې له کبله یې د حکومت د سیمه ییزو ادارو رول محدود پاتې شوی. د سیمه ییزې حکومتولۍ شته چوکاټ، د څرګندو اصلونو د نشتوالي له کبله، په ولایتي او د ښاروالیو په کچه د واک د لېږد ډېر کم فرصت برابروي. په افغانستان کې د مرکزي حکومت د پیاوړي کولو په لوړه میلان د نورو له جګړو وتلو او کمزورو هېوادونو مثالونو ته ورته ښکاري. لکه مخکې چې پرې بحث وشو، داسې ښکاري چې د امنیت اندېښنه تر ټولو مهمه مسئله ده چې دغه ډول مرکزي میلانونو کې رول لوبوي. مهمو مرکه ورکونکو هم استدلال کړی چې (په ځایي کچه ټیټه وړتیا، د واک لېږد په اړه د وزارتونو مقاومت، او د اداري فساد د خپرېدو وېره هم د غیر مرکزي کولو بهیر کمزوری کوي).

مرکه ورکونکو ادعا وکړه چې د پلان او بودیجې جوړولو د بهیرونو سمون په برخه کې دوو فکتورونو مرسته کړې ده[۲۲]. لومړی، یوه خورا مرکزي اداره خلکو ته خدمتونه د تمې پر اساس نه شي وړاندې کولی. حکومت پوهېږي چې د عامه خدمتونو معیار باید لوړ شي، په ځانګړې ډول په یوه داسې چاپیریال کې چې امنیتي وضع په کې ورځ تر بلې خرابېږي، تر څو وکولی شي د طالبانو پر ضد د خلکو فکرونه او زړونه خپل کړي. د مثال په ډول، پخواني ولسمشر حامد کرزي په دې اړه وویل چې (د ملي او سیمه ییزې حکومتولۍ پیاوړي کول او د قضا سیستم بیا رغول زموږ له ستونزمنو کارو څخه دي)[۲۳]. دوهم، د بودیجې دننه (آن بجټ) د مرستندویه ادارو مرستې په پوره ډول نه لګول کېږي، چې د نورو لاملونو تر څنګ یې یو لامل د حکومت محدوده وړتیا او د تدارکاتو پېچلی سیستم دی[۲۴]. پایله دا ده چې د پراختیا بودیجې ډېره کمه برخه مصرف شوې چې کچه یې تر **۵۰** سلنې ټیټه ده.

۲۱ سرچینه: د ایزاک اتیاس او سیریف ساین له لیکنې اخیستل شوی او اېډېټ شوی، (سیاسي او مدیریتي ځواب ورکونه او د بودیجې سیستم (په ترکۍ ژبه)، (استنابول: ترکیې د اقتصادي او ټولنیزو څېړنو بنسټ، ۱۹۹۷).

۲۲ دغې ډلې د **۲۰۱۵**م کال اکتوبر له پنځمې تر ۱۲مې کابل ته سفر درلود او د حکومت له چارواکو (چې د مالیې وزارت، IDLG، د اقتصاد وزارت او د ملکي خدمتونو خپلواکه کمېسون په کې شامل دي)، د کابل د والي دفتر، نړیوالو مرستندویه ادارو، سلاکارانو، او د پارلمان له یوه غړي سره یې خبرې وکړې. د سیمه ییز سمون د لېوالتیا په تړاو راټول شوي مالومات په کابل او انقره کې په مختلفو تاریخونو د USAID، د مالیې وزارت او IDLG دفترونو د مرکه ورکونکو او دغه راز د کلیوالې بیارغونې او پراختیا وزارت دیوه پخواني جګپوړي چارواکي د مخامخ او تیلیفوني مرکو پر اساس لاسته راغلي.

۲۳ په دې اړه د (افغانستان د ملي پراختیا ستراتېژۍ) سند په تړاو د پخواني ولسمشر حامد کرزي سریزه وګورئ

۲۴ د افغانستان حکومتي ادارو د وړتیا په اړه جزیاتو لپاره، د سیما غني او نعمت الله بېژن لیکنه (په افغانستان کې د حکومت مهم فعالتیونه او خدمتونه په قرارداد را ایستل)، وګورئ، چې د (د حکومت د فعالیتونو او خدمتونو په قرارداد را ایستل: له جګړې راوتلو او کمزور هېوادونو راڅرګندېدونکي درسونه،

د سيمه ييزې حکومتولۍ په تړاو د ځينو اندېښنو د حل لپاره، IDLG په ۲۰۱۰م کال کې د سيمه ييزې حکومتولۍ پاليسي (SNGP) جوړه کړه. خو، د پاليسۍ د ۴۰۰ مخونو دغه سند په بشپړ ډول پلی نه شو، او لامل يې تر ډېره د پاليسۍ پېچلتيا، سياسي ګونګوالی، او اداري کمزورتيا او بې پروايي وه، چې له جګړې وتلو او کمزورو هېوادونو کې د سيمه ييز سمون پر مهال دا عادي مسئلې ګڼل کېږي. خو IDLG وروسته يو بل بهير پيل کړ چې ۲۰۱۰م کال SNGP ته کره کتنه وکړي، خو د دغې کره کتنې مسوده لا تر اوسه د کابينې او ولسمشر له خوا بشپړه او منظوره شوې نه ده[۲۵].

د سيمه ييزې حکومتولۍ د پياوړتيا هره هڅه بايد مالي اړتياوې په نظر کې ونيسي. د خدمتونو وړاندې کولو غوره والي پخاطر د سرچينو اغېزناکه ګټه اخيستنه هرومرو دې ته لاره هواروي چې سيمه ييزې اداري د بوديجې او پلان بهيرونو په تړاو لا نور واک لاسته راوړي. د چمتووالي او پيل له يوه اوږده بهير وروسته، دغه مسئله لومړی ځل د ۲۰۱۰م کال SNGP کې راپورته شوه خو د ماليې وزارت يې ملاتړ و نه کړ. بحث هغه مهال نور هم تود شو چې ولسمشر غني د ۲۰۱۴م کال اکتوبر کې وويل چې (د ملي بوديجې ۴۰ سلنه به په مخامخ ډول سيمه ييزو ادارو ته ورکوي)[۲۶]. يوه نوې PBP چمتو شوه او د ۲۰۱۵م کال اکتوبر کې کابينې منظوره کړه.

## اداري جوړښت او لوبغاړي

افغانستان يو واحد حکومت لري چې اداره يې مرکزي ده او د رسمي او غيررسمي لوبغاړو يا چارواکو او ادارو اړيکې په کې مهم رول لوبوي.

رسمي ادارو کې په کابل کې اړوند وزارتونه او رياستونه، PLDs، واليان او اړوندې څانګې (لکه ولايتي شوراګانې، او ولسوالان او د ولسواليو اداري (د ولايتونو تعريف لپاره دوهم بکس وګورئ) شاملې دي. په سوېلي اسيا کې د يو شمېر نورو هېوادونو په خلاف، افغانستان کې ولايتي اداري د حکومت د يوه بيلې عمودي څانګې په توګه فعاليت نه کوي، او PLDs په افقي ډول له ولايتي ادارو سره تړلي نه دي.

> **دوهم بکس: ولايت څه معنا لري؟**
>
> په واحدو اداري سيستمونو کې، چې د امريکا له (ايالاتو) او جرمني له (سيمو) بېل دي، ولايتونه تر ټولو ستر اداري واحدونه دي. د ولايتونو او د هغوی د مرکزونو ټولګه د يوه واحد حکومت اداري سيستم بشپړوي. د مثال په ډول، افغانستان ۳۴ ولايتونه لري، او ترکيه ۸۱ ولايتونه لري. هغه څه چې د افغانستان او ترکيې په څېر هېوادونو کې ولايتونه د امريکا له (ايالاتو) او د جرمني له (سيمو) بېلوي دا دي چې دوی بېل ټاکل شوي واليان او د پارلمان په څېر ټاکل شوي غړي او قانوني دندې او د ماليې اړونده واک نه لري.
>
> په واحدو سيستمونو کې واليان د ولسمشر يا کابينې له لورې ګومارل کېږي او په ولايتو کې د جګپوړي اداري مسئول په توګه د حکومت استازيتوب کوي. ولايتونه په نورو کوچنيو اداري واحدونو وېشل شوي چې د ولسواليو په نامه يادېږي. د واليانو په څېر، ولسوالان يا افسران هم په ولسوالۍ کې د مرکز استازيتوب کوي او والي ته رپوټ ورکوي. په هر ولايت او ولسوالۍ کې نورې ټاکل شوې اداري هم پيدا کېدای شي لکه ولايتي او د ولسواليو شوراګانې او ښاروالۍ. د کليو اداري له يو هېواده تر بله توپير لري، خو په عمومي ډول کلي ټاکل شوي استازي لري. په واحدو سيستمونو کې عموما د والي په دندو کې د کليو (لاربښونه او څار) هم شامل وي، سره له دې چې دوی د ښارواليو په څېر ټاکل شوي غړي هم لري.

په افغانستان کې په ولايتي سطحه، د اړوند وزارت رياستونه محدود واک لري، او د پلان او بوديجې په تړاو نږدې ټولې پرېکړې په کابل کې کېږي.

د واليانو او ولسوالانو رسمي رول کمزوری خو غير رسمي رول يې پياوړی وي. که ټول نه وي نو ډېر يې عموما له خپلو محدودو رسمي دندو بهر حرکت کوي او له ولسمشر سره د خپلو شخصي اړيکو، قومي اړيکو او قانوني او غيرقانوني عايداتو پر مټ خپل غيررسمي واک کاروي[۲۷]. واليان د مرستو په لاسته راوړلو کې هم فعاله ونډه لوبوي. موږ د خپلې ليکنې په لاندې برخه کې په ولايتي بوديجو کې د واليانو د رول په اړه بحث کوو.

---

ايډ. OECD او AfDB، پاريس: OECD چاپ، ۲۰۰۹، ۹۷-۱۱۳)، برخه ده.

۲۵ مرکه ورکونکي، د سيمه ييزې حکومتولۍ کارپوه، کابل، د ۲۰۱۵م کال اکتوبر نهمه. د لا نور تفصيل لپاره د نجات او نورو ليکنه (په افغانستان کې سيمه ييزه حکومتولي) وګورئ.

۲۶ د دغې خبرې حقيقت او محتويات هم لانجمن دي. د متياس مورګنر ليکنه (د وړتيا ارزونه: افغانستان کې سيمه ييز پلان او بوديجې جوړولو بهير) وګورئ. (د GIZ له خوا د افغانستان د سيمه ييزې وړتيا پراختيا، ۲۰۱۵).

۲۷ د نيکسن ليکنه، (په سيمه ييزه کچه د هېواد بيا رغونه)، ۱۴-۱۵.

د پراختیا ولایتي کمېټې (PDCs) کې د اړوندو وزارتونو ولایتي رئیسان شامل وي. والیان د PDCs کمېټو غونډو مشري کوي، او د اقتصاد ریاست چارواکي یې د سکرتریت رول پر مخ وړي. د PDCs دنده دا ده چې په ولایتو کې د وزارتونو فعالیتونه همغږي کړي او PDPs چمتو کړي. والي کولی شي د PDC غونډو ته د ولایتي بیارغونې ټیمونو استازي، غیرحکومتي اداري او د مدني ټولنې غړي (د رای نه ورکونکو غړو په توګه) وبولي چې د پراختیا په فعالیتونو کې د ټولو ښکېلو غاړو تر منځ غوره همغږي ډاډمنه شي.

په سیمه ییزه کچه PCs یوازینۍ ټاکل شوې اداري دي او د دوی رول ګونګ دی. د اساسي قانون پر بنسټ، PCs د حکومت د پراختیا موخو لاسته راوړلو او د قانون په تطبیق (د افغانستان اساسي قانون، ۱۳۸مه ماده، اتم فصل او څلورمه ماده) کې ونډه لوبوي. د ولایتي پراختیا د پلان په کچه د دوی د سلا مشورې رول په عمومي ډول کمزوری وي. د ۲۰۱۰م کال SNGP او د ۲۰۱۵م کال د SNGP لومړۍ بنه سپارښتنه کوي چې د دوی رول باید پراخه شي چې د والیانو فعالیتونه وڅاري خو دغه مسئله په تېر کې په ملي او سیمه ییزو کچو لانجمنه ثابته شوې ده.

د مرکزي حکومت ادارو ترڅنګ، ښاروالۍ د رسمي ادارو بله سطحه ده چې د ولایتي اداري برخه ګڼل کېږي. او سمهال، دغه ښاروالۍ ټاکل شوي ښاروالان او غړي نه لري. ښاروالۍ ځایي حکومتونه دي، څکه دوی د خپلو عایداتو لاسته راوړلو او خپلې بودیجې جوړولو قدرت لري. دوی د ښاروالۍ د یوه پخواني قانون پر اساس فعالیت کوي چې اوس به یې ځای یو نوی قانون ونیسي چې له مخې به یې ښاروالان او سیاسي چارواکي ټاکل کېږي. د دوی د کار د خرابېدو عمده لامل د بودیجې کمی او د ښاروالیو کمزورې وړتیا ده.

ځینې نیمه حکومتي اداري د مرستندویه ادارو لکه NSP له خوا تمویلېږي[۲۸]. دوی د ولسوالۍ او کلي په کچه د غیررسمي حکومتولۍ جوړښت برخه دي. د کلیو په کچه د ټولنیزې پراختیا شوراګانې (CDCs) د کلیوالي بیارغونې او پراختیا وزارت له خوا چلول کېږي. CDCs د کلیوالو ټولنو له خوا ټاکل کېږي چې د ځایي ټولنو د اړتیاوو پوره کولو په موخه د ځایي پروژو په ډیزاین، تطبیق او څار کې برخه واخلي[۲۹].

غیررسمي دودیز جوړښتونه د افغانستان له ځانګړتیاوو دي چې د حکومتولۍ ګڼ دودیز ډولونه لري. دغه جوړښتونه چې د رسمي ادارو ملاتړي یا ان مخالف دي، له ډېر پخوا راهیسې شتون لري. دوی مختلف نومونه او وړتیاوې لري لکه جرګې او شوراګانې. دا موقتي میکانیزمونه دي او تر ډېره په ځایي سطحه شخړې هواروي. د دغو میکانیزمونو غړي کله کله د ولایتي چارواکو او ځایي ټولنو ترمنځ منځګړتوب کوي.

بهرني مرستندویان د افغانستان د حکومتولۍ سیستم بې سارې ځانګړنه ده چې پوځي او پراختیایي مرستې کوي. مرستندویان د on-budget(بودیجې دننه) او off-budget(له بودیجې بهر) میکانیزمونو له لارې له ملي بودیجې سره مرسته کوي څکه نو د حکومتي ادارو سیستم له پامه غورځوي[۳۰]. دغه ډول مرستو بودیجه پاشلې او د مرستو همغږي یې ګرانه کړې ده.

د رسمي او غیررسمي لوبغاړو ګډوالي او د on-budget او off-budget فعالیتونو له لارې د عامه لګښتونو جوړښت د بودیجې جوړولو بهیر د ضایع کېدو او شخصي ګټو پر وړاندې زیانمن کړی دی. د رسمي او غیررسمي لوبغاړو ترمنځ د قدرت پر سر د اړیکو یوې پېچلې شبکې حالت تت کړی دی. که څه هم رسمي لوبغاړي (ټاکل شوي سیاستوال) د خلکو سیاسي استازي دي او د عامه خدمتونو چارواکي (لکه د وزارتونو چارواکي، والیان، ولسوالان) په ملي او سیمه ییزو کچو د سیاستوالو ګومارل شوي مدیریتي استازي دي، د ځواب ورکونې پر وړاندې د ګټو ټکر یوه عمده اندېښنه ده. په داسې حال کې چې رسمي لوبغاړي باید خلکو ته ځواب ووایي، خو د یوه کمزوري هېواد د تاریخي حالتونو او پاشل شویو ټولنیزو جوړښتونو له کبله، دوی عامه خدمتونو ته د ژمنتیا پر ځای تر ډېره خپل ګوند، قومي ډلې یا قبیلې ته ژمن وي.

۲۸ دا اصطلاح د مایکل شورکین له لیکنې اخیستل شوې (افغانستان کې سیمه ییز حکومت)، (سنټا مونیکا، CA: RAND Corporation، ۲۰۱۱).

۲۹ د نجات او نورو لیکنه، (افغانستان کې سیمه ییزه حکومتولي).

۳۰ د off-budget لګښتونو د اغېز په اړه د نورو مالوماتو لپاره د نعمت الله بېژن لیکنه (دوام، مرستې او بیارغونه: په سوېلي کوریا، تایوان، عراق او افغانستان کې د حکومت بیا رغونه)، (GEG کاري لیکنه ۲۰۱۵/۱۰۹، د اکسفورډ پوهنتون، ۲۰۱۵)، وګورئ.

# ۳. افغانستان کې ولایتي پلان او بودیجه جوړول

دا برخه د غیرمرکزیت اړوندو مالي چارو ځینې تړاویزې مسئلې او د ولایتي بودیجې جوړولو مختلفې طریقې څېړي. د ترکیې، کمبوډیا او موزمبیق د قضیو په کارولو، د لیکنې دا برخه هڅه کوي چې افغانستان لپاره شته غوراوي او زده شوي درسونه وڅېړي. وروسته بیا افغانستان کې د بودیجې جوړولو بهیر، د هغو مهمو ادارو په ګډون چې په دغه بهیر کې شامل دي، او د بناریتوب او بناروالیو بودیجو د پلان جوړولو بهیر ارزوي. بالاخره، دغه برخه د PBP او سني پروګرامونه لکه د SNGP د ۲۰۱۵م کال لومړی بڼه او PBP څېړي.

## ۳.۱ د مالي چارو غیرمرکزي کول او د ولایتي بودیجې جوړولو بهیر

(ډیکنسنټرېټیډ) یا ان (ډیولوېډ) سیستمونه، لکه چې مخکې یې یادونه وشوه، په عمومي ډول مالي چارې غیرمرکزي کوي. د مالي چارو غیرمرکزي کول په دې معنا چې د لګښتونو او د عایداتو لاسته راوړلو چارې د مرکزي حکومت د وزارتونو ټیټو پوړونو ته ولېږدول شي، په داسې حال کې چې مرکزي وزارتونه لا هم پر دوی کنټرول ولري. په یوه واحد هېواد کې، ټیټ پوړونه عموما ولایتونه او ولسوالۍ دي. خو د تطبیق ستونزو په نظر کې نیولو سره، د ولسوالۍ کچې ته د مالي چارو لېږد ډېر کم تر سترګو کېږي. د مثال په ډول یو لوړ شمېر ولسوالیو ته لاسرسی بنایي ستونزمن وي او څار یې شاید ډېر مصرف ولري. ځکه نو، دغه ډول واک په عمومي ډول ولایتو ته ورکول کېږي. له دې امله، د (ولایتي بودیجې جوړولو) اصطلاح د مالي چارو د غیرمرکزي کولو معنا هم لرلی شي. د ولایتي بودیجو یوه مهمه ځانګړنه دا ده چې ولایتونه عموما ځانته جلا بودیجه لري. ځکه نو ولایتي بودیجه د حکومت ولایتي ادارو ته قدرت ورکوي چې خپله بودیجه پخپله وټاکي (د مرکز د قوانینو او لوړې کچې په رڼا کې او د خپلو سرچینو د عایداتو پر اساس).

د افغانستان په بودیجوي سیستم کې ولایتي ادارو ته د عایداتو لاسته راوړلو د قدرت لېږد شامل نه دی. یوازې بناروالۍ د عایداتو لاسته راوړلو واک لري. لکه مخکې چې یادونه وشوه افغانستان ولایتي بودیجې نه لري. په دې تړاو، سیمه ییزو واحدونو ته د لګښتونو د مدیریت واک لېږد ډېر محدود دی، او هېڅ تړلي یا جامع ولایتي بودیجې نه لري.

## ۳.۲ د غیرمرکزي ولایتي بودیجو غوراوي: د بودیجې عمودي او افقي ډولونه

ولایتي بودیجې په اساسي توګه په دوه ډوله دي[۳۱]، چې د عمودي یا افقي غیرمرکزي سیستمونو له مخې ترتیب شوي دي. دغه دوه ډولونه په لاندې لومړي انځور کې ښودل شوي دي.

**لومړی انځور: عمودي مالي تخصیصونه د افقي مالي تخصیصونو پروړاندې[۳۲]**




۳۱ دغې برخې د بویکس له لیکنې (د افغانستان د سیمه ییزو مالي چارو جوړښت څېړنه) او د پال برنډ سپهن، شروغ فرج مبارک الهاشم، جورګن بیندر، سټیفن ټویډي او زیان زوانج له لیکنې (د اردن په هاشمي سلطنت کې د حکومت د غیر مرکزي کولو هڅه: د یوه موقعیتي ارزونې ځینې لومړنۍ موندنې، یوروپ ایډ، ۲۰۱۱) کار اخیستی او دغه راز په ترکیه کې د لیکوالانو له تجربو هم ګټه اخیستل شوې.

۳۲ سرچینه: د سپهن او نورو له لیکنې (د حکومت د غیرمرکزي کولو هڅه، ۱۲) اخیستل شوې.

پورته لومړی انځور د عمودي او افقي غیرمرکزي بودیجوي بهیر ممکنه جوړښت ښیي. عمودي ستنه په ملي کچه اړوند الف، ب او ت وزارتونه او په ولایتي کچه PLDs ښیي. دغه راز، افقي جوړښتونه دوه طبقې لري. په ملي کچه د سرچینو د وېش په تړاو، د اړوندو وزارتونو د همغږۍ کار د مالیې او اقتصاد وزارتونه پر مخ وړي. په ولایتي کچه په PLDs کې والي د همغږۍ مسئولیت لري. د غیرمرکزي بودیجوي سیستم ډولونو په برخه کې، د عمودي او افقي بودیجو مهمې ځانګړې لاندې ښودل شوي دي.

عمودي غیرمرکزیتوب: په دې ډول کې، سرچینې د (سیلو) په توګه جریان پیدا کوي چې د اړوند وزارتونو له بودیجې د PLDs برخه ټاکل کېږي. د سیلو جوړښت په خپله اصلي بڼه کې PLDs ته د لګښت هېڅ یا ډېر کم واک ورکوي. په افغانستان کې د بودیجې جوړښت د سیلو اصلي بودیجوي سیستم ته ورته دی چې په ولایتي کچه د لګښت اکثریته پرېکړې باید په مرکز کې د اړوندو وزارتونو له خوا مخکې له مخکې منظورې شي.

کمبوډیا عمودي غیرمرکزي بودیجوي سیستم لري. دا ډول غیرمرکزیت PLDs ته فرصت ورکوي چې د اړوندو وزارتونو له خوا د ولایتي بودیجې د ټاکل شوې اعظمي کچې په نظر کې نیولو سره، ځانته خپله بودیجه ولري (د بودیجو د فرعي واحدونو په توګه). د مرکزي سیستم په خلاف، پارلمان نه یوازې په مرکز کې د وزارتونو بلکې د سیمه ییزو ادارو بودیجه هم منظوروي. د افغانستان په تړاو، عمودي غیرمرکزیت کولی شي د سیلو سخت جوړښت په پام وړ اندازه نرم کړي او ولایتي اړوندو چارواکو ته فرصت ورکړي چې د اساسي قانون پر بنسټ د مالي سرچینو په برخه کې یو څه اندازه واک او قدرت لاسته راوړي. خو په مرکز کې د وزارت او ولایت کې د ریاست ترمنځ اړیکه بیا هم ټینګه ساتل کېږي.

افقي غیرمرکزیت: موزمبیق د غیرمرکزیت افقي بڼه غوره کړه. په دې تړاو، د مالي چارو غیرمرکزي کول په دې معنا دی چې د بودیجو واک د واحدو بودیجو په توګه والیانو ته ورکړل شي. دغه واحدې بودیجې د اړوندو ولایتونو لپاره د وزارتونو له بودیجو اخیستل شوي وي چې والي ته د مالي چارو په برخه کې د پام وړ واک ورکوي. ځکه نو PLDs د والي لاس لاندې کار کوي او مرکزي حکومت سره یې اړیکې کمزورې وي. په داسې حال کې چې دغه سیستم په سیمه ییزه کچه د لا ډېرې همغږۍ لامل کېږي، خو ښایي د سیمه ییزو اړوندو ریاستونو او وزارتونو تر منځ اړیکې کمزورې کړي. د حکومتولۍ شته چوکاټ ته په پام سره، په افغانستان کې، په نږدې راتلونکې کې دغه غوراوی مناسب نه دی ځکه ډېر امکان شته چې سرچینې د شخصي ګټو او ملاتړ لاسته راوړلو لپاره وکارول شي. په افغانستان کې، په راتلونکې کې د افقي غیرمرکزیت دغه غوراوی هغه مهال مناسب ګڼل کېدی شي چې د والیانو د ځواب ورکونې ډاډ ترلاسه شي.

د افغانستان په قضیه کې، پورته لومړی انځور یوې مهمې مسئلې ته هم اشاره کوي چې د مرکزي حکومت وزارتونو، PLDs او والیانو تر منځ د دندو او مسئولیتونو د څرګندېدو اهمیت دی. افغانستان ته چې د غیرمرکزیت هر موډل یا ډول په نظر کې نیول کېږي، که د چارواکو تر منځ اړیکې او مسئولیتونه څرګندې نه وي نو پر وړاندې یې خنډونه پورته کېدای شي (لومړی انځور وګورئ) چې د والیانو او اړوندو وزارتونو ترمنځ د قدرت پر سر لانجې ښایي د عامه خدمتونو وړاندې کولو بهیر ګډوډ کړي.

د (ولایتي ریاستونو لپاره د سترو لاسلیکونو موډل چې بېلې بودیجې په کې په نظر کې نه نیول کېږي) د افقي غیرمرکزیت له تطبیقه مخکې ګام دی. په ترکیه کې ولایتونه خپلې جلا بودیجې نه لري، که څه هم ولایت کې ریاستونه د خپلې برخې پر پیسو د پام وړ سترو لاسلیکونو قدرت لري. د ولایتونو د بودیجې برخه د وزارت له بودیجې ټاکل کېږي او عملیاتي او پراختیایي بودیجې د PLDs له خوا مصرفېږي. په ولایت کې ریاست ته د لګښتونو واک ورکولو ترڅنګ، ترکیه کې د ترکیبي یا مخلوط جوړښت بدیل ډولونه هم شته چې مرکزي حکومت له بودیجې د ځانګړو ولایتي ادارو او د کلیو خدمتونو اتحادیو په څېر کلیوالو سیمو ته خدمتونه وړاندې کوي. د ترکیې د ولایتي جوړښتونو د غیرمرکزي کولو مثال او د دوی بودیجوي حالت لاندې په لومړۍ ضمیمه کې له لا نور تفصیل سره تشریح شوی دی. داسې ښکاري چې د دې سیستم لګښت هم کم دی او ښایي حکومت ته فرصت ورکړي چې د عمودي غیرمرکزیت له انتخابولو مخکې لازم بدلونونه په نظر کې ونیسي.

## ۳.۳ د افغانستان د ملي او سیمه ییزې بودیجې او پلان جوړولو بهیر

د لیکنې دا برخه د افغانستان د عامه مالي چارو د مدیریت شته سیستم او ملي او سیمه ییز جوړښتونه چې پام یې پر ولایتي بودیجې او پلان جوړولو راغونډ دی، ارزوي[۳۳]. سیمه ییزې مالي چارې په عمده ډول د اساسي قانون، د عامه مالي او لګښتونو چارو د مدیریت قانون، او اړوندو نورو قوانینو له لورې کنټرولیږي[۳۴].

د افغانستان اساسي قانون (۲۰۰۴) د افغان حکومت ټولیز مسئولیتونه په ګوته کوي چې باید کلنۍ بودیجه چمتو کړي (۷۵مه ماده) او پارلمان باید دغه بودیجه منظوره کړي (۹۰مه ماده)، دغه راز هغه طرزالعملونه په ډاګه کوي چې د بودیجې د منظورۍ د ځنډېدو په صورت کې باید په نظر کې ونیول شي (۹۸مه ماده). د عامه مالي او لګښتونو چارو د مدیریت قانون (چې په ۲۰۰۵م کال کې ومنل شو) د عامه مالي چارو قانوني بنسټ جوړوي او د عامه مالي چارو د مدیریت په تړاو د وزارتونو، ادارو او خزانې مسئولیتونه ټاکي، دغه راز د عامه شتمنیو، پور او پلور، د بودیجې جوړول او منظوري، د بودیجې مصرف، د بودیجې د برخو ټاکل او بیاکتنه، او محاسبه او کنټرول هم ټاکي.

د عامه مالي او لګښتونو چارو د مدیریت قانون له مخې باید کلنۍ بودیجه د یو ګڼ-کلیز چوکاټ پر اساس جوړه شي. دغه چوکاټ د منځمهاله مالي چارو چوکاټ په نامه یادیږي. دغه قانون د بودیجې په جوړولو او مصرفولو کې مهم مسئولیت د مالیې وزارت ته ورکوي[۳۵]. د عامه مالي او لګښتونو چارو د مدیریت قانون دوهمه ماده هم یادونه کوي چې د حکومت ټولې اداري (د وزارتونو او ولایتونو په ګډون) باید د بودیجې او لګښتونو په تړاو د دغه قانون د طرزالعملونو پر اساس فعالیت وکړي. خو دغه قانون د سیمه ییزو مالي چارو مدیریت میکانیزمونه په واضحه ډول نه تشریح کوي. د مالیې وزارت ته مسئولیت ورکړل شوی چې بودیجه جوړه او د لګښت چارې یې همغږې کړي. د دغه بهیر د یوې برخې په توګه، د مرکز او ولایتو ترمنځ د بودیجې په تړاو اړیکې د فرعي قوانینو له خوا کنټرولیږي.

کابینې (د ۲۰۰۷م کال جولای کې) د مالي چارو قوانین هم منظور کړل چې د بودیجې جوړولو، مصرفولو، بانکي مسئلو او د نغدو پیسو مدیریت، پېر او پلور، شتمنیو مدیریت، محاسبې او رپوټ ورکولو، د ښاروالیو مالي چارو، او کنټرول او څار په څېر مسلو په اړه مشخصې لارښوونې لري. دغه قوانین د بودیجې واحدونو او د هغو چارواکو ترمنځ د اړیکو یو لا نور تفصیلي چوکاټ جوړوي چې د مالي چارو مدیریت کې ښکېل دي. دغه قوانین یا مقررې اړوند وزارتونه د ( بودیجې عمده واحدونو ) په نامه او PLDs د (بودیجې فرعي واحدونو ) په نامه یادوي چې د بودیجې د عمده واحدونو لاس لاندې کار کوي. خو د افغانستان په تړاو، دغه مسئله یو څه ناڅرګندتیا رامنځته کوي (دریم بکس).

**دریم بکس: د بودیجې عمده او فرعي واحدونه**

د ولایتي بودیجې په غیرمرکزي ډول کې، د بودیجې د عمده واحد اصطلاح اړوندو وزارتونو ته اشاره کوي چې خپله برخه په مخامخ ډول له ملي بودیجې لاسته راوړي. د بودیجې فرعي واحدونه په بشپړه توګه خپلواکه نه دي او دوی د اړوند وزارت یا بودیجې عمده واحد لاس لاندې کار کوي. په بله معنا، PLDs د یوه ټرلې (طبقه یي) ادارې په توګه فعالیت کوي چې د خپل اړوند وزارت یوه برخه ګڼل کېږي (معنا خپله ځانته کوم قانوني حیثیت نه لري). دوی د محاسبې د رسمي ادارې او ملي بودیجې له خوا د بودیجې د فرعي واحدونو (یعنې فرعي ادارو) په توګه منل شوي دي[۱].

د افغانستان مالي مقررې د بودیجې فرعي واحدونه په واضح ډول نه دي تشریح کړې. د مثال په ډول، ۱۲مه ماده (۱) وایي چې (د مالیې وزارت باید د بودیجې عمده واحدونو ته هغه طرزالعملونه ورکړي چې له مخې یې بودیجه جوړه او د مالي کال لپاره د بودیجې د وېش اندازه مالومه، او د بودیجې د مصرف اعظمي کچه، د کابینې د منظورۍ پر اساس، څرګنده شي). خو د (بودیجې فرعي واحد) اصطلاح یوازې یو ځل په متن کې یاده شوې ده. دغه راز ۳۴مه ماده (۳) وایي چې (د مالیې وزارت باید د خزانې د وېش دفترونو له لارې د بودیجې د ټاکلو په اړه سپارښتنه وکړي او د بودیجې فرعي واحدونو ته واک ورکړي چې د لګښتونو په تړاو ژمنې وکړي). ځکه نو څرګنده نه ده چې ولایت کې د ریاستونو فعالیتونه تر کومه برید د بودیجې د فرعي واحدونو په څېر ګڼل کېږي[۲].

۱ د بویکس لیکنه (د افغانستان د سیمه ییزو مالي چارو جوړښت څېړنه، iii) وګورئ.

۲ د بویکس لیکنه (د افغانستان د سیمه ییزو مالي چارو جوړښت څېړنه، ۳۷) هم وګورئ.

۳۳ دا چې د والسوالیو شوراګانې تر اوسه نه دي جوړې شوې او ولسوالان په بشپړ ډول نه دي ټاکل شوي او بشپړ مسئولیت هم نه اخلي، نو د حکومت د پالیسیو ټینګار هم تر ډېره ولایتي ادارو سره تړلی. ځکه نو زموږ پام د ولایت په کچه د سرچینو پر مصرف راغونډ دی او په لنډ ډول د ښاروالۍ مالي جوړښت هم تشریح کوو.

۳۴ دغه برخه د نړیوال بانک له لیکنې، (د افغانستان د عامه مالي چارو مدیریت او ځواب ورکونې ارزونه، واشنګټن ډي سي، ۲۰۱۳) څخه اخیستل شوې، دغه راز اړوندو مقررو او د مرکو ورکونکو خبرو ته یو ډول بیا کتنه ده.

۳۵ کابل ته د ټیم د سفر پر مهال، مرکه ورکونکو د مالیې وزارت د (پاچا) په نامه یادوه، (زموږ تشریح پورته وګورئ)، ځکه چې د سرچینو په وېش او پلانولو کې واکمن رول لري.

نور قوانین چې د عامه تدارکاتو چارې کنټرولوي، د تدارکاتو قانون (۲۰۰۸ او په ۲۰۰۹ کې اصلاح شوی) او د عامه تدارکاتو لپاره د طرزالعملونو قوانین (۲۰۰۷، او په ۲۰۰۹ کې اصلاح شوی) دي. دغه قانوني چوکاټ د هغو وسایلو، کارونو او خدمتونو (د سلاکارۍ خدمتونو په ګډون) پر تدارکاتو د تطبیق وړ دی چې ملي او سیمه ییزې ادارې، ښاروالۍ، او نور واحدونه یې د عامه ګټو له بودیجې تمویلوي. په داسې کال کې چې د بودیجې ترتیب او لګښت، د تدارکاتو په ګډون، په اساسي ډول د پورته یاد شوي قانوني چوکاټ په نظر کې نیولو سره پر مخ وړل کېږي، د څار د نوې سترې اداري قانون (د ۲۰۱۳م کال فبروري) بیا بهرنی څار او ارزونه د څار د سترې ادارې (SAO) له لارې کنټرولي[۳۲]. موږ به د اداري فساد په اړه اوسنی فکر او پوهاوی او دغه راز د SAO او د فساد ضد نورو ارګانونو دندې هغه مهال نورې هم و ارزوو چې کله د افغانستان عامه مالي چارو د مدیریت سیستم او مطابقت کچه له ښو بودیجوي اصلونو سره څېړو.

## ۳.۴ د بودیجې ترتیبولو او اجرا کولو بهیر

افغانستان د وزارتونو، ریاستونو، او خپلواکو آمریتونو یا واحدونو په ګډون ۵۴ بودیجوي واحدونه لري. بودیجه دوه برخې لري: اجرایوي بودیجه (معاشونه او د اداري او مراقبت لګښتونه) او د پراختیایي بودیجه (سترې پانګونې). دا چې بهرنۍ مرستې د حکومتي بودیجې له لارې او له بهره کېږي، نو دغو مرستو د بودیجې جوړښت پاشلی دی (څلورم بکس وګورئ). ځکه نو بودیجه پر اصلي بودیجې، چې حکومت یې تنظیم او کنټرول په لاس کې لري (او د اجرایوي او پراختیایي بودیجې ځینې برخې هم په کې شاملې دي)، او بهرنۍ بودیجې، چې مرستندویان یې د حکومتي بودیجې له سیستمه بهر په مخامخ ډول کنټرولوي، وېشل شوې ده. هغه پروژې چې د غیرحکومتي ادارو، ملګرو ملتونو او د مدني ټولنې ادارو له خوا پلي شوې، له بودیجې بهر (off-budget) بلل کېږي. د ۲۰۰۲ او ۲۰۱۰ کلونو ترمنځ، شاوخوا ۸۲ سلنه مرستې له بودیجې بهر (off-budget) میکانیزم له لارې جریان وموند[۳۷]. حکومت د اجرایوي بودیجې، پراختیایي لګښتونو چې له کورنیو عایداتو تمویلېږي، او د بودیجې دننه (on-budget) پراختیایي مرستو یوې برخې چې ازادې مرستې نومول شوې، بشپړ واک په لاس کې لري[۳۸].

**څلورم بکس: ولایتي بودیجې لپاره د بودیجې د پاشل شوي جوړښت عواقب**

افغانستان کې د بودیجې مصرف د اصلي بودیجې او بهرنۍ بودیجې له کبله پاشل شوی، ځکه بهرنۍ مرستې یوازې د حکومت د بودیجې له لارې نه کېږي. د بودیجې له دغو دوو موازي جوړښتونو سره تړلې یوه ممکنه ستونزه دا ده چې افغانستان تر کومه حده عامه لګښتونه کنټرولولی شي چې خپلې د مالي چارو پالیسیانې تطبیق کړي. په ۲۰۱۰م کال کې د کابل کنفرانس پر مهال، نړیوالې ټولنې ژمنه وکړه چې د ۲۰۱۰م کال له جولای به لږترلږه ۵۰ سلنه بهرنۍ مرستې د حکومتي بودیجې له لارې کوي. خو په ۲۰۱۱ او ۲۰۱۲ کلونو کې د حکومتي بودیجې له لارې شوې مرستې ۱۸ سلنه وې، چې په څرګند ډول یې په ډاګه کوله چې د کابل کنفرانس موخې لا تر اوسه په بشپړ ډول لاسته نه دي راغلې. که حکومت غواړي چې فعالیتونه او دندې ولایتو ته ولېږدوي او د خپلو ژمنو پوره کولو لپاره د (مالي چارو د جریان فعالیت) اصل له مخې بودیجه ولایتو ته ورکړي، نو هره ممکنه هڅه باید وشي چې د مرستندویانو د بودیجې دننه (on-budget) مرستو کچه لوړه شي. دا موضوع د ښې حکومتولۍ پر اهمیت لا نور ټینګار کوي.

د مثال په ډول په ۲۰۱۴م کال کې، اجرایوي او پراختیایي بودیجو په ترتیب سره د ټولې اصلي بودیجې ۷۵ او ۲۵ سلنه جوړوله. یوازې ۳۵ سلنه بودیجه د کورنیو عایداتو په مټ لاسته راغلې وه، او پاتې برخه یې د مرستو له لارې لاسته راغلې ځکه نو افغانستان لا هم په جدي ډول پر بهرنیو مرستو متکي دی. په داسې حال کې چې د کورنیو عایداتو ټولولو بهیر د وخت په تېرېدو سره ښه شوی، خو په دې وروستیو کې یې کچه د ناخالصو عایداتو (GDP) ۱۰ سلنې ته محدوده پاتې شوې ده. واقعاً افغانستان په خورا لوړه کچه پر بهرنیو مرستو متکي دی چې د ۲۰۰۵ او ۲۰۱۱ کلونو ترمنځ دغو مرستو د ناخالصو عایداتو ۷۲ سلنه جوړوله او د مرستو لوړه برخه (څه د پاسه ۵۰ سلنه) پر امنیتي سکتور لګېدلې ده[۳۹].

---

۳۲ د نړیوال بانک لیکنه، (د افغانستان د عامه مالي چارو مدیریت او ځواب ورکونې بهیر ارزونه، ۲۱).

۳۷ د افغانستان اسلامي جمهوریت، (د پراختیایي همکاریو رپوټ ۲۰۱۰)، (کابل، د مالیې وزارت، ۲۰۱۰)، د افغانستان اسلامي جمهوریت، (د پراختیایي همکاریو رپوټ ۲۰۱۲)، (کابل، د مالیې وزارت، ۲۰۱۲).

۳۸ بودیجه کې دننه (on-budget) مالي چارې (لګښتونه او عایدات) د ملي بودیجې د قوانینو او طرزالعملونو له مخې ثبت او اجرا کېږي. له بودیجې بهر (off-budget) چارې له ملي بودیجې بهر سرته رسېږي او د اجرا قوانین او طرزالعملونه او د ملي بودیجوي سیستم ارزونې پرې د تطبیق وړ نه دي.

۳۹ د افغانستان اسلامي جمهوریت، (د پراختیایي همکاریو رپوټ، ۲۰۱۰)، ۱۵.

## ۳.۵ د بودیجې ترتیب او ولایتونه

د بودیجې د ترتیب بهیر نه یوازې یو تخنیکي بلکې یو خورا سیاسي بهیر هم دی چې د ګټو مختلفې ډلې او حکومتي ادارې په کې د سرچینو لاسته راړلو لپاره سیالي کوي. د بودیجوي لومړیتوبونو په اړه ښایي د سیاسي لوبغاړو او بیوروکراتانو تمې په ټکر کې وي. د دې مسئلې د حل لپاره دواړه، تخنیکي چارو ته پام او د اجماع رامنځته کول مهم دي.

د بودیجې بهیر په اساسي ډول یو تکراري بهیر دی چې په کې شته بودیجې ته په پام سره د عامه پالیسۍ هدفونه ټاکل کېږي. په دې تړاو، وزیران د خپلو بودیجو وړاندیزونه سپاري، او د مالیې او اقتصاد وزارتونه دغه وړاندیزونه ارزوي او د اصلاح لپاره یې بېرته لېږي. د بودیجې وړاندیزونو لېږد رالېږد ترهغو دوام کوي چې هوکړه پرې وشي. دغه تکراري بهیر وخت، ښو اړیکو او مخابرو، او د مسئولیت ځرګندو لارو ته اړتیا لري چې د بودیجې واحدونه، د مالیې وزارت او د اقتصاد وزارت په پرانیستې او آزاده ډول سره خبرې اترې وکړي او د یو بل قانع کولو لپاره خپل دلایل وړاندې کړي او یوې مناسبې پایلې یا حل لارې ته سره ورسېږي. ان که یو وزارت یا د وزارت ټیټ پوړ (افغانستان کې PLDs) و نه شي کولی چې خپله غوښتنه لاسته راوړي، بیا هم باید دا ډاډ ترلاسه کړي چې د بودیجې د جوړولو بهیر عادلانه او روڼ و او دا چې د دوی پر وړاندیز غور شوی او نورو ریاستونو ته په پام سره، دوی ته په یوه بې پرې ډول ځواب ورکړل شوی دی. د خبرو اترو او بحث له بهیر وروسته، دوی باید لږترلږه د خپلو بودیجو د کچې ټاکلو د دلایلو، حقایقو او خنډونو په اړه وپوهېږي. دا کار د بودیجې واحدونه هڅوي چې د خپلې بودیجې مسئولیت په غاړه واخلي، بودیجه خپله وګڼي او دغه ټول بهیر ته درناوی ولري. ګنې ښکېلې غاړې ښایي دغه بهیر له پامه وغورځوي، ځانونه ګوښه شوي احساس کړي او خپله لېوالتیا او تشویق له لاسه ورکړي. که مناسب ځواب ور نه کړل شي، دوی ښایي فکر وکړي چې وړاندیزونه یې په سم ډول نه دي کتل شوي او دا ښایي دوی اړ کړي چې د خپلو پروژو د تمویلولو پخاطر د بودیجې نورې لارې ولټي.

د پورته یاد شوي چوکاټ پر اساس به د افغانستان بودیجوي بهیر ته بیا کتنه کېږي چې په عمومي ډول د دغه بهیر نیمګړتیاوې او د سیمه ییزو ادارو دندې او فعالیتونه په نښه شي. بحث پر دریو موضوع ګانو راغونډ دی: د مالوماتو جریان چې PDPs له بودیجوي بهیر سره تړي، د بودیجې د ترتیب بهیر، او وزارتونو او PLDs ترمنځ د اړیکو او همغږۍ میکانیزمونه.

### د بودیجې جوړولو بهیر سره د PDPs تړل

په بودیجه کې د PDPs د یوځای کولو یا تړلو په تړاو د مالوماتو جریان تت دی. په ولایتونو کې د PDCs دنده دا ده چې د پوهنې، روغتیا، کرنې، بنسټونو او اقتصاد سکتورونو همغږي او د لومړیتوب او شته بودیجې پر اساس پلانونه جوړ کړي. د پلان جوړولو بهیر په ولایتونو کې د اقتصاد ریاست له خوا همغږی کېږي. پلان چې د PDC له خوا منظور شي نو کابل کې د اقتصاد وزارت ته لېږل کېږي او بیا اړوندو وزارتونو ته د غور لپاره او بالاخره د مالیې وزارت ته د ارزونې او منظورې لپاره وړاندې کېږي[۴۰]. ډېر کله PLDs خپل پلانونه په مخامخ ډول کابل کې اړوندو وزارتونو ته لېږي. د دغه بهیر جزیات او نغښتې ستونزې د یوه مرکه ورکونکي له لورې لاندې تشریح شوي دي:

د اقتصاد وزارت عموما د بودیجې لومړي مکتوب (BC۱) له خپرېدو مخکې رول لوبوي. د اقتصاد وزارت د دسمبر او جنوري میاشتو کې PDPs لاسته راوړي او د اړوندو وزارتونو د پلان ریاستونو ته یې لېږي. د اقتصاد وزارت دغو اسنادو ته کتنه نه کوي. له جنوري تر مارچه، د اړوند وزارت د پلان ریاست ولایتي وړاندیز ته کتنه کوي چې مالومه کړي کومې ولایتي پروژې باید د دوی په وړاندیز کې شاملې شي. اړینه نه ده چې دا کار د BC۱ بهیر په رڼا کې پر مخ ولاړ شي، په حقیقت کې، دا د BC۱ د روان بهیر یو شرط ګڼل کېږي. د اقتصاد وزارت د BC۱ او د بودیجې دوهم مکتوب (BC۲) تر منځ پراختیایي پروژو ته کتنه کوي چې تائید کړي، وړاندیز شوي پروژې د ملي پراختیایي هدفونو سره سمون لري[۴۱]. په داسې حال کې چې وزارتونه ښایي د یوې PDP ځینو برخو ته پخپله بودیجه کې ځای ورکړي، خو په عمل کې دا کار بېساری دی[۴۲]. د دغه بهیر له کبله PDPs عموما بودیجه لاسته نه راوړي، او ډېر کله د دغه ډول پلانونو معیار هم کمزوری وي. دا چې د PCs له ښکېلتیا سره، PDPs تر ځایه مشترکه او ګډه بڼه لري، نو د دوی وړاندیزونه له پامه غورځول، ځایي حکومتولۍ ته په پام سره، د ولایتي پلان جوړولو هڅو لپاره ډېر تاوان لري.

۴۰ د ډګلس سالټمارش او ابیلش میدهي لیکنه، (افغانستان کې ځایي حکومتولي: له ځمکې یو نظر)، (کابل: افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره، ۲۰۱۱، ۱۸).

۴۱ دوهم مرکه ورکونکی، د عامه مالي چارو د مدیریت نړیوال کارپوه، کابل، د ۲۰۱۵م کال د دسمبر ۱۶مه.

۴۲ د یوه مرکه ورکونکي په وینا، (د پلان او بودیجې بهیرونه هېڅ همغږي نه دي. موږ ډېر کم وینو چې د PDP پروژې په بودیجه کې ځای پیدا کړي. د PDP فورمول بهیر د ولایتي بودیجې پالیسۍ پر بنسټ باید بدل شي). (مرکه ورکونکی، د ۲۰۱۲م کال د اپریل ۲۴مه).

د دې تر څنګ، PLDs د پروګرام په جوړولو، د موخو په ټاکلو، د منځمهالي هدف لاسته راوړنو او نورو مسایلو کې هېڅ رول نه لري، خو د پلي کولو په ډګر کې، د اړوندو وزارتونو په ډول، PLDs د هغه پروګرام لپاره له خپلې بودیجې کار اخلي چې کابل کې د وزارتونو له خوا د بودیجې د جوړښت په نظر کې نیولو سره ټاکل شوی وي، خو خپلو هدفونو ته په کې ځای نه لري. دا کار له عامه پیسو څخه د اغېزناکې ګټې اخیستنې هڅې هم کمزورې کوي.

د هغو پروژو ترڅنګ چې د PDP بهیر له لارې د ولایتونو له خوا سپارل کېږي، نورې لارې شته چې د دغه بهیر له پامه غورځوي او په مخامخ ډول مرکز کې وزارتونو، د اقتصاد وزارت یا ان مرستندویان ته رسېږي. د مثال په ډول والیان ښایي خپل وړاندیزونه مستقیما د اقتصاد وزارت یا نورو اړوندو وزارتونو ته ولېږي پرته له دې چې له PCs یا PDCs سره مشوره وکړي. دا چې د اقتصاد او مالیې وزارتونه د پروژو دغه ډول دوه ګوني وړاندیزونو ته څه ډول کتنه کوي یا یې څنګه لومړیتوب ټاکي، څرګنده نه ده:

> *...په پام کې ولرئ چې په حقیقت کې د افغانستان د بودیجې چمتو کولو لپاره ګڼ بهیرونه شته دي. د بودیجې غیر اختیاري او تمویل شوې برخه داسې ده چې د بودیجې جوړولو پرمهال پرې بحث نه شي کېدای، ځکه دغه ډول پروګرامونه/پروژې له مرستندویانو سره مخکې له مخکې په پخوانیو بحثونو کې منل شوي وي. د هغو پروژو د ټاکلو بهیر چې له اختیاري بودیجې تمویلېږي په پرتلیز ډول ډېر تت او غیرشفاف دی. د پروژو ټاکلو بهیر خورا تت او ناڅرګند دی ځکه هېڅ راز شرایط نه لري او نه هم کومه رسمي تمه چې پروژې به یوازې هغه وي چې د ارزول شویو پروژو په منظور شوي (او عام خلک ورته لاسرسی ولري) لست کې شاملې وي. زه د مالیې داسې مرستیال وزیران پېژنم چې وایي هغه پروژې چې دوی یې وړاندیزونه سپارلي وو، د تمویل شویو یا بودیجه کې شاملو پروژو لست کې نه وې*[43].

## د بودیجې ننګونکې جنتري

د بودیجې جنتري، دا اړخ ننګونکی دی چې څنګه د ولایتي بودیجې وړاندیز د اړوندو وزارتونو په بودیجو کې ځای شي. په افغانستان کې د بودیجې جوړولو د بهیر پیل هر کال بدلون مومي، خو عموما له مارچه تر سپتمبره روان وي او پنځه میاشتې وخت نیسي. د مالیې وزارت د بودیجې د ترتیبولو کار مشري کوي او د اجرا کار یې هم همغږی کوي. د بودیجې اصلي واحدونه خپلې بودیجې د مالیې وزارت ته سپاري چې د بودیجې کمېټې له خوا پرې غور وشي. د بودیجې د چمتوالي بهیر د بودیجې د یوه مکتوب په مټ پیلېږي، او مکتوب کې د بهیر مهمې نېټې یادې شوې وي[44]. لاندې دوهم جدول د بودیجې په جنتري کې د ضرب العجلونو لنډیز وړاندې کوي او دا ښیي چې دغه بهیر له PLDs سره څنګه تړلی دی، چې مالومه شي دوی څنګه کولی شي له وزارتونو سره اړیکې ټینګې کړي او ملي بودیجې کې خپل لومړیتوبونه شامل کړي.

**دوهم جدول: د ۲۰۱۲م کال د بودیجې جنتري[45]**

| **۲۱ فبروري** | **د مالیې وزارت د بودیجې مهالوېش چمتو کوي** |
|---|---|
| ۱۰ اپریل | د مالیې وزارت اړوندو وزارتونو ته BC۱ خپروي چې له PLDs سره له سلا مشورې وروسته په کې د وړاندیز سپارلو ضرب العجل د مئي څلورمه نېټه وي. |
| **۵ جولای** | د مالیې وزارت BC۲ خپروي چې د هر اړوند وزارت د بودیجې اعظمي کچه په کې په ډاګه شوې وي. |
| **۱۲ اګست** | اړوند وزارتونه خپل د BC۲ وړاندیزونه سپاري. |
| **۲۲ اګست – ۵ اکتوبر** | کابینه کې پر بودیجو او وړاندیزونو غور کېږي. |
| **۱۹ اکتوبر** | بودیجه پارلمان ته وړاندې کېږي. |

د بودیجې د ترتیب پر مهال دوه فورمې مهمې دي. لومړی، BC۱ فورمه چې د بودیجې ټولو اصلي واحدونو ته سپارښتنه کوي چې د راتلونکي کال لپاره د بودیجې وړاندیز وسپاري. په دې وړاندیز کې باید دوی د خپلو شته فعالیتونو د تمویل او د بل کوم نوي بنسټ یا پروژې، چې په روان مالي کال کې چمتو شوی وي، د اجرا او کارولو لپاره هم بودیجه په نظر کې ونیسي. اړوند وزارتونه په

۴۳ دوهم مرکه ورکونکی، د عامه مالي چارو د مدیریت نړیوال کارپوه، پرس، کام، د ۲۰۱۵م کال دسمبر ۱۲مه.

۴۴ دغې برخې د متیاس مورګنر له لیکنې، (تراویزه شننه: افغانستان کې د سیمه ییزې بودیجې جوړول)، (GIZ افغانستان لپاره د وړتیا لوړولو سیمه ییز پروګرام، ۲۰۱۵) کار اخیستی او دغه راز د دوهم مرکه ورکونکي خبرې یې هم کارولې.

۴۵ د مالیې وزارت، د عمومي بودیجې ریاست، (د ۱۳۹۲ کال بودیجې پلانونکی، مهمې نېټې، http://www.budgetmof.gov.af/images/stories/DGB/BPRD/Planner/Budget%20Planner%201392/English-Planner%201392.pdf (لاسته راغلی د ۲۰۱۲م کال جون پر پنځمه).

ظاهره دغه مالومات د PLDs له BC۱ فورمې لاسته راوړي[۴۶]. په دې بهیر کې مهمه ننګونه دا ده چې د مالیې وزارت په پیل کې د BC۱ فورمې له لارې د بودیجې اعظمي کچه نه په ګوته کوي.

دا داسې معنا ورکوي چې د مالیې وزارت ته د سپارل شویو وړاندیزونو پر وړاندې بودیجوي محدودیتونه نشته بلکې په حقیقت کې د پروژو یو لست سپارل کېږي. د بودیجې ترتیبولو په لومړني پړاو کې که د بودیجې اعظمي کچه مالومه نه وي، نو ریاستونه او ولایتونه ښایي لوړې تمې پیدا کړي، دوی شاید داسې فکر وکړي چې که د مالیې وزارت ته ډېر وړاندیزونه وسپاري نو ښایي د پروژو د منظورۍ چانسونه یې هم زیات شي، یا ښایي د یوه ولایت د ټولو پروژو وړاندیز شوې بودیجه له یوه بشپړه وزارته هم ډېره شي.

دوهم، د BC۲ فورمه چې د جولای په منځ کې د مالیې وزارت له خوا خپرېږي د (بودیجې د اعظمي کچې لومړنۍ شمېرې) په کې یادې شوې وي. تر دې وروسته، د مالیې په وزارت کې د BC۱ او BC۲ پر اساس د بودیجې پر غوښتنو او اړتیاوو بحث، او د بودیجې په تړاو پرېکړې کېږي. یوه مرکه ورکوونکي یادونه وکړه چې د بودیجې جنتري یو شمېر ننګونې پیدا کوي. که څه هم د بودیجې جوړولو مرحلې د مالي مقررو په دوهم فصل کې ذکر شوې دي، خو د دغو مرحلو د بشپړولو لپاره ورکړل شوی مهالوېش حقیقي نه دی، یعنې وخت یې کم دی. نړیوال بانک هم همدا اندېښنې درلودې، او دوی سپارښتنه وکړه چې د بودیجې جوړولو تفصیلي بهیر باید د مالیې وزارت له خوا په غوره ډول پلان او اجرا شي او اړوندو وزارتونو ته لېږلړه شپږ اوونۍ وخت ورکړل شي چې د خپلو بودیجو تفصیلي غوښتنې یا وړاندیزونه چمتو کړي[۴۷].

د BC۱ بهیر پر مهال د مهالوېش ارزونه ښیي چې ولایتي ریاستونه یوازې تقریبا څلور اوونۍ (یا تر دې هم کم وخت) لري چې اړوندو وزارتونو ته له خپلو PLDs سره له سلا مشورو وروسته خپل وړاندیزونه وسپاري. سره له دې، د بودیجې جوړولو ټولټال مهالوېش په حقیقت کې پنځه میاشتې دوام مومي، په اپریل کې د BC۱ له خپرولو نیولې په سپتمبر کې د بودیجې تر وړاندې کولو. که څه هم دا ګرانه ده چې د بودیجې جوړولو لپاره کره مهالوېش وټاکل شي، خو په نورو هېوادونو کې دغه بهیر ښایي نهه یا لس میاشتې وخت ونیسي[۴۸]. د افغانستان په سختو شرایطو کې او محدودې وړتیا ته یې په پام سره، د حقیقي او کار وړ بودیجې جوړولو لپاره پنځه میاشتې لنډ او کم وخت دی. باید موده یې اوږده شي، او لږترلږه شپږ میاشتې په نظر کې ونیول شي.

سره له دې، دا استدلال هم کېدای شي چې افغانستان کې ښایي بودیجوي او اداري بهیرونه دومره پېچلي نه وي لکه نورو هېوادونو کې چې دي، او ځکه نو شاید د بودیجې جوړولو بهیر لپاره د مهالوېش غځولو ته اړتیا نه وي. خو دا چې د بودیجې جوړولو بهیر تکراري دی، لکه مخکې چې یادونه وشوه، نو اړتیا شته چې په دې اړه له ولایتي ریاستونو سره هراړخیزې سلا مشورې وشي. ځکه نو د بودیجې جنتری باید د دغه بهیر لپاره لا نور وخت په پام کې ونیسي.

## کمزورې اړیکې/مخابرې او د بحث کمی

د مرکز او سیمه ییزو ادارو ترمنځ کمزورې اړیکې په بودیجه کې د ولایتي وړاندیزونو په ناکافي توګه شاملېدو ستونزه لا نوره زیاتوي. دغه کمزورې اړیکې د یو شمېر نورو مسئلو له کبله لا کمزورې کېږي: د هېواد امنیتي وضع، پېچلې جغرافیه، د سړکونو حالت، او د ځایي چارواکو په دندو کې د غیرحکومتي لوبغاړو (شخصي ملاتړي، پیاوړي اشخاص، ځایي مشران، او د قدرت خاوندان چې رسمي واک یا دندې نه لري) لاسوهنه، او ان د سفریو نشتوالی چې PLD کارکوونکي یې له کبله کابل ته سفرونه نه کوي چې مرکز کې له وزارتونو سره اړوند بحثونه وکړي، یا برعکس. ځکه نو د بودیجې جنتري که تر یوې یا دوو میاشتو نورو وغځول شي نو ښایي دغه ننګونې کابو شي.

دا چې مرکز کې چارواکي PDPs له پامه غورځوي، د بودیجې موده لنډه ده او اړیکې یې کمزورې، نو په ملي بودیجې کې د PLDs او والیانو پلانونه یوځای کولو چانسونه لږ او کمزوري دي. یوه د حل عامه لاره یې دا ده چې والیان او PLDs د بودیجو او خپلو پروګرامونو تمویلولو پخاطر په مخامخ ډول له مرستندویانو سره اړیکې ونیسي. دغه ډول بهیرونه د مرستندویانو کار هم اسانوي چې په ځایي کچه د پروژو تطبیق لپاره سملاسي مرستې وکړي ځکه مرستندویان په دې اند دي چې د مرستو دا لاره چټکه او په پرتلیز

[۴۶] له PLDs څخه د اړوندو وزارتونو له خوا د مالوماتو ټولولو بهیر لانجمن دی. د بهیر په اړه یو جدول شته چې مختلف ګامونه تشریح کوي، په ولایت کې د ریاست له خوا د BC۱ فورمې په مټ د وړاندیزونو له سپارلو نیولې، پارلمان ته د بودیجې تر تسلیمولو. خو مرکه ورکوونکو وویل چې دا جدول یو ماډل دی یعنې حتمي بڼه نه لري چې د MRRD لپاره د یوه سلاکار له لورې جوړ شوی دی، او ښایي هدف یې دا وو چې د MRRD دننه بهیرونه تشریح کړي. په حقیقت کې داسې هېڅ شرایط نشته چې اړوند وزارتونه مجبوره کړي چې یوازې د PDP بهیر له لارې د ولایتي پراختیا یا سترو پروژو د تمویل غوښتنې ومني یا پرې غور وکړي.

[۴۷] نړیوال بانک او DFID، (د افغانستان د عامه لګښتونو د کتنې کاري لیکنه)، (واشنګټن ډي سي، نړیوال بانک، ۲۰۱۰، ۲۰).

[۴۸] د الن ریچرډ او ډنیل توماسي لیکنه (د عامه لګښتونو مدیریت: د هغو هېوادونو لپاره لارښود چې په انتقالي حالت کې دي)، (پاریس: OECD، ۲۰۰۱)، ۲۰.

ډول ډېره اغېزناکه ده. خو دغه تګلاره ځينې نيمګړتياوې هم لري. يوه مرکه ورکونکي وويل چې د يوه والي د همغږۍ په پايله کې UNICEF يو ښوونځی ودان کړ خو د پوهنې وزارت يوازې هغه مهال خبر شو چې چارواکي يې د پرانيستې مراسمو ته وبلل شول[۴۹]. په کابل کې د بحث په غونډه کې، په غيرمستقيم ډول ياده شوه چې مرستندويان غواړي له هغو سره کار وکړي چې پياوړې مشري او غوره وړتيا لري. په غونډه کې يوه تبصره کونکي وويل چې (دا تر ډېره د مرستندويانو خوښه ده. دوی د اغېزناکه ملګرو په لټه کې دي چې پرګرامونه پلي کړي او دوی ښايي وغواړي چې له داسې ادارو سره کار وکړي چې غوره وړتيا لري). يوه بل مرکه ورکونکي وويل، مرستندويان غواړي هغو ولايتونو کې پانګونه وکړي چې د زون اړوند ګټې يې په کې تامينېږي، او دا ښايي يو لامل وي چې دوی په مخامخ ډول له واليانو سره اړيکې نيسي. په داسې حال کې چې په لنډمهال کې دا تګلاره ممکنه ښکاري، خو په اوږدمهال کې د ادارو جوړښت او بيارغونه کمزوري کوي.

لنډه دا چې، يو شمېر مرکه ورکونکي او کتل شوي اسناد په عمومي ډول يوه خوله ښکارېدل چې په ملي بوديجه کې د ولايتي رياستونو اړتياوو ته په ښه ډول ځای نه دی ورکړل شوی[۵۰]. کمزورې اړيکې او بحثونه، محدوده وړتيا او د بوديجې لنډ بهير ټول هغه مسايل دي چې PLDs او واليان هڅوي چې د بوديجې دننه (on-budget) ميکانيزمونه له پامه وغورځوي او خپلو فعاليتونو لپاره له بوديجې بهر (off-budget) بديلې لارې ولټوي، چې دا ښايي پروژو کې دوه ګوني يا تکرار پيدا کړي او په ولايتو کې د سرچينو د نامساوي وېش لامل شي. په بله معنا، ولايتي اداره د ځايي اړتياوو په نښه کولو او د سرچينو اغېزناکه وېش کې کوم د پام وړ رول نه لري.

## ۳.۲ د بوديجې منظوري او ولايتونه

کله چې د تخنيکي بوديجې لومړۍ بڼه چمتو شي، نو د بوديجې د منظورۍ بهير هغه مهال پيلېږي چې پر اجرايوي بوديجې قانوني بحث ترسره شي او بالاخره د قانون برخه شي. دا پړاو هغه مهال پيلېږي چې اجرايوي څانګه په رسمي ډول بوديجه مقننه پلاوي ته وړاندې کړي. بيا مقننه پلاوی پر بوديجې بحث کوي، چې ښايي دا بحث علني وي او د مقننه کمېټې له خوا په کې رای اچونه هم ترسره شي. دغه بهير هغه وخت پای ته رسېږي چې بوديجه يا په اصلي يا اصلاح شوې بڼه د مقننه پلاوي له خوا ومنل شي. دا امکان هم شته چې مقننه پلاوی وړاندې شوې بوديجه رد کړي، او په ځينو هېوادونو کې ښايي د رد شوې بوديجې پر ځای مقننه پلاوی پخپله بوديجه جوړه او وړاندې کړي. افغانستان کې د اساسي قانون پر بنسټ، مقننه پلاوی حق لري چې د بوديجې د منظورۍ کار تر يوې مياشتې وځنډوي[۵۱].

د ۲۰۱۲م کال د بوديجې په اړه د بحث پر مهال، (يو لوړ شمېر قانون جوړونکو ادعا وکړه چې په بوديجه کې د ولايتونو د پراختيايي پروژو لپاره انډول په نظر کې نه دی نيول شوی)[۵۲]. د يوه هڅونکي ابتکار په توګه، حکومت پارلمان ته د بوديجې وړاندې کولو پر مهال د بوديجې سند سره يوه غير رسمي ضميمه هم يوځای کړه چې د هر ولايت د بوديجې کچه په کې ښودل شوې وه. خو د ولايتي لګښتونو او بوديجې د وېش کچه په علني ډول ځرګنده نه شوه. دا د ولايتي بوديجې په اړه د مالوماتو پر اساس بحثونو ته د لارې هوارولو په برخه کې يو عمده خنډ دی. په حقيقت کې، د افغانستان د مالي چارو د مديريت مالوماتي سيستمونه د هر بوديجوي واحد او د هر ولايت د بوديجې برخه بېله ثبتوي. دغه راز، د هر لګښتي کوډ، پروګرام، او هرې پراختيايي/اجرايوي بوديجې مالومات هم بېل ثبتېږي. د مرکې په بهير کې، له پارلمانه يوه مرکه ورکونکي دا ټينګار هم درلود چې د پارلمان غړي بايد د بوديجوي مسئلو په تړاو وروزل شي چې د حکومت بوديجه او د ولايتي لګښتونو پاليسيانې په غوره ډول و ارزوي[۵۳]. د بوديجې د منظورۍ بهير حکومت لپاره يو شمېر ننګونې پيدا کړې دي. له SAO څخه يوه مرکه ورکونکي وويل چې په وروستيو کلونو کې پارلمان کله کله په اساسي قانون کې له ورکړل شوې مهالوېشه هم ډېر وخت د بوديجې د منظورۍ کار ځنډولی دی. دغه ډول ځنډونه په ولايتو کې د پروژو د پلي کولو بهير کمزوری کوي[۵۴].

۴۹ دوهم مرکه ورکونکی، د ماليې وزارت جګپوړی چارواکی، کابل، د ۲۰۱۵م کال اکتوبر شپږمه.

۵۰ مهم مرکه ورکونکي، د ماليې وزارت جګپوړی چارواکی، د اقتصاد وزارت جګپوړي چارواکي، او د عامه مالي خدمتونو د مديريت نړيوال کارپوه، کابل، اکتوبر – دسمبر ۲۰۱۵، دغه راز کابل کې د ولايتي پلان او بوديجې جوړولو بهير پاليسۍ په اړه بحث.

۵۱ د افغانستان اسلامي جمهوريت، (د افغانستان اساسي قانون)، ۹۸مه ماده.

۵۲ وږسم ليکنه، (د افغانستان د ۲۰۱۲م کال بوديجې پام د سترو پراختيايي پروژو پر تمويلولو راغونډ دی)، وږسم، ۱۳ دسمبر ۲۰۱۵، .htt://wadsam Afghanistan/afghan-business-news/com-۲۰۱۲-budget-on-mega-development-projects-۳۳۳/، کابل، ۹ اکتوبر ۲۰۱۵.

۵۳ مهم مرکه ورکونکی، د پارلمان غړی،، کابل، ۸ اکتوبر ۲۰۱۵.

۵۴ مهم مرکه ورکونکی، د SOA جګپوړی چارواکی، کابل، ۱۰اکتوبر ۲۰۱۵.

## ۳.۷ د بودیجې اجراء او ولایتو لپاره یې عواقب

د بودیجې له منظورۍ وروسته د بودیجې د اجرا مرحله پیلېږي. اړوندو وزارتونو ته ځانګړې شوې بودیجې بیا د همدغو وزارتونو له خوا پر PLDs وېشل کېږي. وزارتونه په عمومي ډول د پخوانیو هوکړو پر اساس خپلې بودیجې PLDs ته ورکوي خو د وېش لپاره کوم څرګند بهیر نشته. یوه کره کتونکي وویل چې (وزارتونه ښایي ووايي چې دوی د بودیجې د وېش لپاره قوانین لري – چې شاید ولایتونه درجه بندي کړي یا له فورمولونو کار واخلي – خو دغه تګلاره که تل نه نو تر ډېره یوازې پر اجرایوي بودیجو د تطبیق وړ ده)[۵۵]. د مالیې له وزارته یوه مرکه ورکونکي تائید کړه چې د سرچینو د عمودي او افقي وېش لپاره هېڅ راز مناسب معیار یا فورمول نشته، د مالیې وزارت په تېر کې د وېش کچو په نظر کې نیولو سره سرچینې وېشي، او په دغه بهیر کې د انفلاسیون لپاره یوه اندازه سمون، د اسعارو د راکړې ورکړې کچه، او د اړوندو وزارتونو د اجرا وړتیا هم په پام کې نیسي. ځکه نو د پارلمان غړو د اروزنې او نظرونو ترځنګ، وزارتونو ته د سرچینو وېش د پورته یاد شوي معیارونو پر اساس ترسره کېږي[۵۶].

د دې ترځنګ، د بودیجې د اجرا ټیټه کچه، چې د لګښتونو د مدیریت د اغېزمنتیا ښکارندویي کوي، یوه ننګونه ده. د ۲۰۱۲م کال پر مهال د ټوکیو د ګډې ځواب ورکونې چوکاټ د شویو ژمنو پر بنسټ، تمه وه چې تر ۲۰۱۵م کال پورې به د بودیجې د اجرا کچه ۷۰ سلنې ته لوړه شي[۵۷]. خو د ۲۰۱۵م کال اکتوبر ۱۱مې د بودیجې د اجرا رپوټ ښیي چې اجرایوي بودیجه له هدفه پنځه سلنه ټیټه ده، په داسې حال کې چې پراختیایي بودیجه هم پر ۳۹ سلنې ټیټه پاتې شوه، ځکه نو د اجرایوي بودیجې ټولټال کچه ۵۲ سلنه ده چې له هدفه ۱۴ سلنه ټیټه ده. خو د اجرایوي او پراختیایي بودیجو برخې په ترتیب ۹۳ سلنه او ۵۴ سلنه وې، چې د بودیجې ډ ټولټال وېش کچه ۸۰ سلنې ته رسوي. دغه مالومات ښیي چې د منظورې شوې بودیجې او د اصلي تطبیق شوې یا کارول شوې بودیجې ترمنځ یو پراخ توپیر موجود دی[۵۸].

بله خوا، د اختیاري او غیراختیاري پراختیایي لګښتونو د اجرا کچه تر دې هم کمزورې ده. په ۲۰۱۵م کال کې، د اختیاري لګښتونو (چې حکومت یې اختیار لري) د اجرا کچه او د غیراختیاري (چې مرستندویان یې اختیار لري) پراختیایي لګښتونو کچې په ترتیب ۴۳ سلنه او ۳۸ سلنه وې. دغه شمېرې ښیي چې پراختیایي لګښتونه چې د هېواد ودې لپاره مهم دي، د پلان پر بنسټ نه اجرا کېږي او ځکه نو د پروژو د بشپړېدو کار ځنډوي چې له کبله یې د عامه ګټو او خدمتونو بهیر هم ځنډېږي[۵۹].

د بودیجې د اجرا د ټیټې کچې لاملونه تر ډېره د مالیې وزارت او PLDs محدوده وړتیا، د مالیې وزارت له خوا د بودیجې د لېږد بهیر کې له اندازې ډېره بیوروکراسي، د پارلمان لخوا د بودیجې منظوري په ځنډ ، او ځینې وخت د مرستندویانو په ژمنو کې ځنډ دی. د دې ترځنګ، د تدارکاتو په بهیرونو کې له اندازې ډېرې بیوروکراسۍ او پېچلتیاوو د بودیجې د اجرا بهیر کمزوری کړی دی. د بودیجې د ترتیب او اجرا په بهیرونو کې د ولایتي ریاستونو او والیانو ناڅرګند رول په بودیجوي بهیر کې لا نور او د پام وړ ځنډ لامل کېږي[۶۰].

په ولایتي کچه د بودیجې د اجرا بهیر متنوع ښکاري خو داسې مالومات یا اسناد نشته چې دغه چاره تائید کړي. ان د مالیې وزارت هم د ولایتي بودیجې په اړه د مالوماتو په ورکولو کې پاتې راغلی. په ولایتي کچه د بودیجې اجرا او د تدارکاتو د بهیرونو یو شمېر مهمې ځانګړنې په لاندې ډول دي:

۵۵ په GIZ/RCDF کې د ملګري کره کتنه. خو نړیوال بانک د تولید او معیارونو پر اساس بودیجوي سیستم یوه ازمېښتي پروژه پیل کړه. د مثال په ډول د جیمي بویکس او همیش نیکسن لیکنه وګوري، (افغانستان کې د پوهنې لپاره د معیارونو پر بنسټ ولایتي بودیجې سیستم: د ۱۳۹۰ کال لپاره د معیارونو پر اساس تګلارې د منلو تخنیکي لارښود)، (واشنګټن، ډي سي، نړیوال بانک، ۲۰۱۰). د مالیې له وزارته یوه مرکه ورکونکي ټیم ته خبر ورکړ چې ازمېښتي ابتکار/پروژه په هېواد کې د سرچینو عادلانه وېش ډاډمنوي او عملیاتي او د مراقبت چارې هم غوره کوي، په ځانګړې ډول په ولایتي کچه.

۵۶ مهم مرکه ورکونکی، د مالیې وزارت چارواکی، کابل، ۲۴ اپریل ۲۰۱۲.

۵۷ د سولې او دېموکراسۍ لپاره برابري، (د افغانستان د ۱۳۹۵م کال د ملي بودیجې د لومړۍ بڼې خپلواکه کره کتنه)، (کابل: د سولې او دېموکراسۍ لپاره برابري، ۲۰۱۵)، ۱۰.

۵۸ د مالیې وزارت، (د ۲۰۱۵م کال اکتوبر ۱۱مې د بودیجې د اجرا رپوټ)، (کابل: د مالیې وزارت، ۲۰۱۵).

۵۹ د مالیې وزارت، (د ۲۰۱۵م کال اکتوبر ۱۱مې د بودیجې د اجرا رپوټ).

۶۰ د لا نورو مالوماتو لپاره د مالیې وزارت د بودیجې پالیسي او د سمون شالید وګورئ: د مالیې وزارت، د عمومي بودیجې ریاست، (ولایتي بودیجې جوړولو بهیر)، http://www.budgetmof.gov.af/index.php/en/using-joomla/modules/provincial-budgeting (لاسته راغلی د ۲۰۱۲م کال مارچ پر ۱۳مه).

- د اجرايوي بوديجې د معاشونو برخه په ولايتو کې لګول کېږي. په مرکز کې له اړوندو وزارتونو څخه د ټاکل شوې بوديجې له لاسته راوړلو وروسته ولايتي رياست د معاشونو د ورکولو واک لري، پرته له دې چې نوره منظوري وغواړي.
- د عملياتو او مراقبت د لګښتونو په تړاو، ولايتونه په مرکز کې د وزارت له منظورۍ پرته محدود قدرت لري، او د تداركاتو اعظمي كچه د واليانو لپاره تر ۱۰ زرو امريكايي ډالرو او رئيسانو لپاره له زرو تر دوو زرو امريكايي ډالرو ده.
- پراختيايي بوديجه د كابل له لوري مصرفېږي. تر هغه بريده چې مالومه ده، په دې تړاو ولايتي رياستونو ته د لاسليک هېڅ واک نه دی ورکړل شوی.

خو د (ټولو) پراختيايي لګښتونو د قراردادونو ورکولو او د عملياتي او مراقبت لګښتونو، چې د ولايتي رئيسانو او واليانو د لاسليک له حده وتلې وي، د واک يواځينۍ مرجع وزيران دي. په عمومي ډول، دوی خپل واک نه لېږدوي، پرته له يو څو وزيرانو چې يوه اندازه واک يې خپلو مرستيالو وزيرانو ته ورکړی دی[21]. دا ښايي يو له دلايلو وي چې د پراختيايي لګښتونو د اجرا کچې ولې دومره ټيټې دي.

د واليانو بالفعل رول هم د ولايتي بوديجې د اجرا ستونزو يو لامل ګڼل کېږي. داسې قضيې شته چې په کې واليان د لګښتونو لپاره خپله منظوري کاروي، که څه هم په ځينو ولايتو کې د دغه کار واک د PLDs رئيسانو ته ورکړل شوی دی[22]. لکه چې مخکې يادونه وشوه، واليان له مرستندويانو off-budget يا له بوديجې بهر مرستې هم لاسته راوړي[23].

## ۳.۸ د ارزونې او پلټنې بهير

لګښتونه له دوو لارو کنټرولېږي، په عمده ډول د کورنيو او بهرنيو ارزونو او پلټنو له لارې. هر وزارت د کورنۍ ارزونې او پلټنې واحدونه لري. د ماليې وزارت د هر لګښتي واحد لپاره يو کنټرولونکی ټاکي چې د ماليې وزارت ته د بوديجې د برخې وړانديز له سپارلو مخکې په وړانديز کې شته تېروتنې سموي او د مالي قوانينو تطبيق ډاډمنوي[24]. دغه کنټرولونکي د بوديجو په فرعي واحدونو کې هم د سرچينو لګښت کنټرولوي. خو د ماليې وزارت او SAO ترمنځ يو شمېر مشترکې دندې شته چې د ارزونې او پلټنې بهير او د ماليې وزارت او SAO دندې تتوي.

بهرنۍ ارزونې او پلټنې د SAO لخوا ترسره کېږي. SAO په ۲۰۱۵م کال کې څلور اړوند وزارتونه چې د عامه لګښتونو ۷۰ سلنه جوړوي، و پلټل[25]. د ۲۰۱۳م کال د پلټنې او ارزونې له رپوټونو وروسته، د اړوندو وزارتونو د پلټنو د دوام او يا پراختيا په اړه تازه مالوماتو ته په علني ډول لاسرسی نشته. د ولايتي بوديجې د پلټنې رپوټونه هم په علني ډول موجود نه ښکاري.

د ولايتي بوديجې او (ماليه د فعاليت په تعقيب کې) اصل په اړه ډېر بحثونو شوي دي. سره له دې، داسې ښکاري چې (ځواب ورکونه د ماليې په تعقيب کې) اصل په اړه هېڅ بحث نه دی شوی. خو د SAO يوه مرکه ورکونکي وويل هغه مهال چې سيمه ييز سمونونه پيلېدل نو له دوی سره د پلټنې او ارزونې ميکانيزمونو په اړه سلامشورې و نه شوې[26]. دغه راز د کابل بحث (۲۰۱۲) پر مهال يوه ګډون کونکي استدلال درلود چې:

> *...د SAO رول مهم دی، خو له بده مرغه د دوی رول په ټول هېواد کې د کمزورې حکومتولۍ له کبله اغېزمن شوی دی. دوی په ولايتي کچه يوه سمبوليکه پلټنه ترسره کوي. د ځواب ورکونې په برخه کې، په تېرو ۱۵ کلونو کې، يوازې يوه مسئوله اداره شته چې CDCs دي. د دوی په اړه هېڅ شکايت نشته.*

---

۲۱ هغه مالومات چې د ټيم له ساحوي کار او څېړنې لاسته راغلي

۲۲ د ای رای ايمپرينګم، (په اړوندو وزارتونو کې د غيرمرکزي کولو بهير څېړنه)، (کوفي نړيواله پراختيا، ۲۰۱۳. ۲۷. د ايمپرينګم په څېړنه کې يوه مرکه ورکونکي وويل چې (د PLD مشر تر ۱۰۰ زرو افغانيو د منظورۍ واک لري، خو والي مکتوب ولېږه چې دغه واک دريو زرو افغانيو ته محدود کړي او تر دې د لوړو غوښتنو لپاره يې د والي منظوري اړينه کړه). که څه هم دا حالت شايد په ټولو ولايتو کې نه وي، خو ښيي چې په ولايتو کې د واليانو ښکېلتيا څومره توپير لري، او څکه د واليانو له خوا د خپل قدرت موقتي او غيرمعياري اختياري ګټه اخيستنه زياتوي.

۲۳ نړيوال بانک، (په افغانستان کې په سيمه ييزه کچه د خدمتونو وړاندې کول او حکومتولي)، (واشنګټن ډي سي: نړيوال بانک، ۲۰۰۷)، ۱۲.

۲۴ د بوديجې او حکومتولۍ د ځواب ورکونې مرکز، (د افغانستان د ملي بوديجې په اړه مالوماتي لارښود)، http://www.cbgaindia.org/files/primers_manuals/Information%20Kit%20on%20the%20National%20Budget%20of%20Afghanistan.pdf (لاسته راغلی د ۲۰۱۲م کال مارچ پر ۲۰مه) ۱۲.

۲۵ د سولې او پراختيا لپاره برابري، (خپلواکه کره کتنه)، ۱۸.

۲۶ دوهم مرکه ورکونکی، د SAO جګپوړی افسر، کابل، ۹ اکتوبر ۲۰۱۵.

لکه چې مخکې ووېل شول، که څه هم د غوره ځواب ورکونې لپاره مدني ښکېلتيا مهمه ده، خو د لوړې ورتيا پلټنې او څار ادارو اغېز بايد له پامه و نه غورځول شي، په افغانستان کې دغه ډول اداري خورا کمزورې دي.

په لنډه توګه، ملي بوديجه او د ولايتي مالي چارو مديريت له يو شمېر ننګونو سره لاس او ګرېوان دی. په ملي بوديجه کې د ولايتي پلانونو يوځای کول، د بوديجې اجرا او څار له ځينو هغو مهمو ننګونو څخه دي چې د اغېزناکه پلان او بوديجې جوړولو بهير کمزوری کوي. لاندې په پنځم بکس کې يوه لنډه ارزونه ښيي چې د افغانستان بوديجوي سيستم په نوره نړۍ کې د مالي چارو د مديريت له ښو اصلونو سره څومره د پرتلې وړ دی.

**پنځم بکس: د افغانستان د عامه مالي چارو د مديريت سيستم او د عامه مالي چارو د ښه مديريت اصلونه – يوه لنډه ارزونه**

د حکومتولۍ پر کچې د بوديجوي سيستمونو د اغېز په تړاو، بايد په ياد وساتو چې افغانستان په خپلو رسمي ادارو کې د ځواب ورکونې له غبرګو ستونزو سره لاس او ګرېوان دی، چې د خپلويو او قبيلې ته د وفادارۍ په توګه څرګندېږي او له کبله يې خلک د شخصي ګټو لاسته راوړلو هڅې کوي. که څه هم افغانستان د مالي چارو د مديريت سيستمونو په تړاو د کمزورو هېوادونو په لست کې نسبتا ښه مقام لري خو دا د شخصي ګټو او اداري فساد په کمولو کې مرسته نه کوي۱.

که د مالي چارو د ښه مديريت د څلورو اصلونو په رڼا کې وارزول شي، نو د افغانستان د عامه مالي چارو د مديريت سيستمونه په لاندې ډول خلاصه کولی شو:

- د مالي چارو ډسپلين: دا چې افغان حکومت پر بهرنيو مرستو خورا زيات متکي دی نو ځکه يې د مالي کسر تاوان په ظاهره تقريبا هېڅ يا ډېر کم دی. خو د مرستو جريان کې د بدلونونو له کبله، دا ميلان ښايي ژر بدلون ومومي چې شايد د نه کنټرولېدونکو کسرونو لامل شي.
- د ستراتېژيکو لومړيتوبونو لپاره د بوديجې جوړول: د بوديجې او پلان جوړولو بهير جامع نه دی، او د بوديجې سيستم د بوديجې دننه او بوديجې بهر دوه ګوني حالت له کبله پاشل شوی دی. د پلان او بوديجې جوړولو بهير کې بايد ګډون زيات شي.
- له سرچينو اغېزناکه ګټه اخيستنه: د بوديجې اجرا بهير کمزوری او د اجرا کچې ټيټې دي، او په تدارکاتو کې ګڼې ستونزې شته، ځکه د ادارو ورتيا کمزورې او اداري فساد پراخ دی. که څه هم له ۲۰۰۲م کال راهيسې حالت ښه شوی، خو د بوديجې د څار بهير کې د خلکو د ښکېلولو لپاره هېڅ اداري ميکانيزم نشته.
- ځواب ورکونه: دا تر ټولو ستره ستونزه ده. دواړه، د اروزنې او پلټنې اداري او قضايي سيستم ورتيا او باور نه لري.

۱ د افغانستان د درجه بندۍ لپاره، د نړيوال بانک ليکنه وګورئ، (د افغانستان د عامه مالي چارو د مديريت او ځواب ورکونې بهير ارزونه)، په هر حال، دا استدلال هم شته چې له دې ارزونې لاسته راغلې درجه بندي، د حکومت په ټيټه کچه، د کوچنيو مالي چارو د مديريت مسئلې نه پوښوي بلکې دغې درجې باندې يوازې د سترو مالي چارو مسئلې په پام کې نيسي. د ريبيکا سيمسن او براين ويلهم ليکنه وګورئ، (حيرانونکې بوديجې: د بوديجې باور په نظري او عملي توګه)، (کاري ليکنه ۴۰۰، د پراختيا بهرنۍ اداره، ۲۰۱۴). په افغانستان کې د اداري فساد په تړاو د يوې ارزونې په اړه، د پيسو نړيوال صندوق ليکنه وګورئ، (د افغانستان اسلامي جمهوريت: د اوږدمهاله پروګرام ښکېلتيا پخوانۍ ارزونه)، (د هېواد رپوټ نمبر. ۲۳/۱۲، د پيسو نړيوال صندوق، ۲۰۱۲)، ۱۳.

## ۳.۹ د ولايتي پلان او بوديجې جوړولو بهير د غوره والي لپاره د حکومت او نړيوالو ادارو پروګرامونه

په تېرو څو کلونو کې، د ماليې وزارت د ولايتي ادارو د ورتيا لوړولو او د دوی د مالي چارو د مديريت بهير غوره والي پخاطر ځينې پروګرامونه پيل کړي دي. په ځانګړې ډول يو د پام وړ پروګرام په کې د ولايتي بوديجې جوړولو پروژه ده چې په ازمېښتي ډول د ۲۰۰۷م کال اګست کې د پروګرام د بوديجې په مټ پيل شوه. د دغې پروژې په پيل کې، دريو وزارتونو، د پوهنې وزارت، د کرنې، اوبو لګونې او مالدارۍ وزارت (MAIL) او د کليو د بيارغونې او پراختيا وزارت (MRRD)، د هېواد ټولنيز-اقتصادي پراختيا کې د دوی د ونډې پر اساس وټاکل شول. د ولايتي بوديجې د جوړولو بهير پروګرام لپاره درې ولايتونه، بلخ، پنجشير او کندهار وټاکل شول[۲۷]. په ورپسې کلونو کې، په دغه پروژه کې د ګډون کونکو ولايتونو او وزارتونو شمېر زيات کړای شو. تر ۲۰۱۲م کال پورې، د ولايتي بوديجې د فعاليتونو پام تر ډېره د عامه مالي چارو د مديريت په برخه کې د ولايتونو د بنسټيزې ورتيا پر لوړولو راغونډ و.

د دغو هڅو د ملاتړ لپاره، د ۲۰۱۰ او ۲۰۱۵ کلونو ترمنځ د جرمني د اقتصادي همکارۍ او پراختيا فدرالي وزارت په بوديجه، په بلخ، سمنګان، بغلان، کندز، تخار، او بدخشان کې د PLDs د ورتيا لوړولو پخاطر د سيمه ييزې ورتيا لوړولو صندوق (RCDF) پروګرام پلی شو. دا پروګرام د ۲۰۱۷م کال تر دسمبر غځول شوی، او د ملي پاليسۍ يوه نوې برخه هم ورزياته شوې ده. د دغه پروګرام له لارې وړاندې شويو د ورتيا لوړولو روزنيزو پروګرامونو کې د پلان او بوديجې جوړولو بهير، محاسبه، او د پروژو ارزونه شامل دي. د دې پروګرام موندنې څرګندوي چې د پلان، بوديجې او خدمتونو وړاندې کولو لپاره د اړوندو وزارتونو او PLDs ترمنځ اړيکې او بحث مهم دي[۲۸].

۲۷ يوه کره کتنونکې اشاره وکړه چې (په دې ازمېښتي پروژه کې يوه ستونزه دا وه چې د دغو وزارتونو لپاره يې په ټولو ولايتونو کې د بوديجې د اعظمي کچې ټاکلو لپاره يو ملي فورمول نه درلود).

۲۸ نورې پروژې شته چې پام يې د ولايتي بوديجې او پلان جوړونې بهير پر پياوړتيا راغونډ دی: د افغانستان د سيمه ييزې حکومتولۍ پروګرام (ASGP) او د بوديجو جوړولو او له مرستو تمويل شوي پروګرامونه (MBAW) چې د ملګرو ملتونو د پراختيايي پروګرام لخوا تمويل شوی، دغه راز ځايي حکومتولۍ

**شپږم بکس: د GIZ/RCDF پروژې په مټ د وړتیا لوړولو پروګرام**

دري واړو ازمېښتي وزارتونو (د کرنې، اوبو لګونې او مالدارۍ وزارت، د پوهنې وزارت او د عامه ګټو او کار وزارت) او دغه راز د ماليې وزارت د GIZ/RCDF د وړتیا لوړولو اوږدمهاله پروګرام (د عامه مالي چارو مدیریت) چې په کې د وړاندیزونو جوړولو او تعقیب روزنه هم شامله ده، هرکلی کړی دی.

روزنې تر اوو میاشتو دوام درلود او د تدارکاتو، د عامه مالي چارو مدیریت، ولایتي بودیجې جوړول، څار، د امکاناتو څېړنه او د پروژو تطبیق موضوع ګانې په کې شاملې وې.

دې پروژې ومونده چې د حکومت لوړو سطحو ته لاسرسی یوه ګټه ده چې د حکومت دننه مختلفو طبقو له لارې د فعالیتونو بشپړېدو کې مرسته کوي. د دې ترڅنګ اړوندو وزارتونو هم دغه ولایتي پروګرام ومانه.

څکه نو، PLDs باید د پروژو بشپړ وړاندیزونه په ټاکل شوي وخت کې چمتو او وسپاري چې بودیجه کې شاملې او وروسته پرې بحث وشي چې پروژې د اړوند وزارت په بودیجه کې هم شاملې شي.

د خپلو پروژو لپاره د بودیجې لاسته راوړلو پخاطر په مرکزي حکومت کې د سیاسي کار په موخه د ولایتي پلاوي تعینول د پلان او بودیجې بهیرونو په اړه د (مخامخ، فزیکي) غونډو او بحثونو له لارې پوهاوي کې مرسته کوي.

سرچینې: تدبیر، (په بدخشان ولایت کې د ولایتي پراختیا کمېټې په استازیتوب په ملي کچه د پروژې د وړاندیز د منظورۍ کار تعقیب او څار)، وروستی رپوټ، (کابل: تدبیر، ۲۰۱۵)، (د عامه مالي چارو د مدیریت په برخه کې د بدخشان د سیمه ییزو حکومتي ادارو د وړتیا لوړولو هراړخیزه پروګرام)، (کابل: تدبیر، ۲۰۱۵).

## ۳.۱۰ پراختیايي پلان جوړونه او د افغانستان د پلان جوړونې سیستم

د لیکنې دا برخه په ملي او سیمه ییزه کچه پر پراختیايي پلان جوړونې بحث کوي او وروسته بیا د ښار جوړونې پلان په ګډون د افغانستان د پلان جوړونې سیستم څېړي[۶۹].

په بازاري اقتصادونو کې اقتصادي پلان جوړونه د بازار د ناکامیو سمون لپاره د حکومت یوه وسیله ګڼل کېږي. په دودیز ډول اقتصادي پلان جوړونه له مرکزي پلان جوړونې سره برابره وه چې د تخنیکي بهیرونو له لارې مهمې اړتیاوې په نښه او پوره کړای شي[۷۰]. دا چاره تر ډېره د قانوني پانګوالۍ (د عامو ګټو حکومت/ګډ اقتصاد) پر مهال په بازاري اقتصادونو کې ترسترګو شوې چې د ۱۹۷۰مې لسیزې تر منځ مودې یې دوام درلود. بیا هم دا باید د کنټرولي (command) اقتصاد سره غلط نه شي، چې په روسیه او ورته هېوادونو کې یې شتون درلود، او د پلان جوړونې د مرکزي ادارې لخوا جوړ شوی یوه هراړخیز پلان په مټ ټول اقتصاد پر یوه خورا بیوروکراتیکې ادارې ولاړ و. دغې مرکزي ادارې د تولیدي واحدونو لپاره د تولید شرایط مشخصول او د تولید بهیر یې په کلکه کنټرولوه.

د ۱۹۷۰مې لسیزې په پیل کې خو له ۱۹۸۰مې لسیزې وروسته په څرګند ډول، په بازاري اقتصادونو کې د شنونکو له لورې د حکومت پر مداخلې او اقتصادي پلان جوړونې نیوکې وشوې. پر مرکزي پلان جوړونه چې د حکومت د مداخلې یوه وسیله وه، نه یوازې د دې لپاره نیوکې وشوې چې واک یې د سیاسي مشرانو په لاس کې و بلکې له دې کبله هم چې د دغه ډول پلان جوړونې اغېزمنتیا محدوده وه، او دا چاره د حکومت په ناکامیو کې څرګندېده.

---

د پیاوړتیا پروګرام (ISLA) راتلونکې پروژې او د USAID لخوا تمویل شوی د افغانستان د عامه مالي چارو مدیریت (APFM) پروګرام، دغه راز د ملګرو ملتونو د پراختیايي ادارې لخوا تمویل شوی د ځایي حکومتولۍ (LoGo) پروګرام. د مثال په ډول، د USAID د ISLA پروژې پام د افغانستان د ولایتي حکومتولۍ د مالي چارو او پراختیايي پلان جوړونې، د خلکو په استازیتوب، او د غوره عامه خدمتونو پر برخو راغونډ دی. دغه پروژه به د ۲۰۱۵ او ۲۰۲۰ کلونو ترمنځ د ۷۲،۴ میلیون ډالرو په بودیجه پلې کېږي (د لا نورو مالوماتو لپاره، د امریکا حکومت د نړیوالې پراختیا ادارې لیکنه وګورئ، (د ځایي ادارو د پیاوړتیا لپاره د USAID پروګرام)، https://www.usaid.gov/news-information/fact-sheets/usaid-initiative-strengthen-local-administrations-isla (ترلاسه شوی د ۲۰۱۲م کال د اپریل پر ۱۳مه).

۶۹ په دې برخه کې تر ډېره د ویکټوریا بیرډ، فرانک میرافتاب او کرسټوفر سیلور له لیکنې کار اخیستل شوی (پلان جوړونه او د غیرمرکزي کولو بهیر)، (اوکسون: روټلیج، ۲۰۰۸)، فرانک میرافتاب، (توندہ پلان جوړونه، په نړیوال سوېل کې سخت دریځه پلان جوړونه)، د پلان جوړونې تیوري ۸، اوله شمېره (۲۰۰۹):

۷۰ د فرانک میرافتاب، کرسټوفر سیلور او ویکټوریا بیرډ لیکنه (په نړیوال سوېل کې د غیرمرکزي پلان جوړونې پر وړاندې مخالف نظرونه په ګوته کول)، د پلان جوړونې او غیرمرکزي کولو بهیر په اړه لیکنه کې. ویکټوریا بیرډ او نور، (اوکسون: روټلیج، ۲۰۰۸)، ۴-۵.

دغه سیاسي او اداري منطق د یوه نوي لیبرال اقتصادي فلسفې له مخې د حکومت له لوړو پوړونو څخه په غیرمرکزي ډول ټیټو پوړونو ته ولېږدېده. د حکومتونو او نړیوالو پراختیایي ادارو لکه ملګرو ملتونو (۲۱مه ځایي اجنډا) له خوا دغیرمرکزي پلان جوړونې بهیر ته د رسمي بڼې ورکولو کار او فعالیت د ۱۹۹۰مې لسیزې په پیل کې لا نور څرګند شو. په دې برخه کې د دوی د هڅو له کبله د غیرمرکزي پلان جوړونې موضوع د نړیوال سوبل اجنډاګانو ته (چې په کې ځایي مشران د پراختیایي پلان جوړونې مشران ګڼل کېدل) لاره وموندله.[71]

خو پورتني چوکاټ کې نیمګړتیاوې هم شته. په نړیوال سوبل کې د نوي لیبرال غیرمرکزي پلان جوړونې بهیر دننه کبدو ځینې داسې پایلې هم درلودې چې د دغه بهیر ملاتړو یې تمه نه درلوده. اووم بکس د غیرمرکزي پلان جوړونې او د ښاریتوب بهیرونو ځینې ننګونکې ښیي.

> **اووم بکس: د غیرمرکزي پلان جوړونې او ښاریتوب ننګونې**
>
> په عمومي ډول، د غیرمرکزي کولو د بهیر اصل دا دی چې (مالیه فعالیت تعقیبوي). خو د غیرمرکزي کولو په بهیر کې یوه ډېره پېښېدونکې معما یا ستونزمن حالت دا وي چې ډېرې دندې او فعالیتونه ناکافي مالي سرچینو سره ځایي ادارو (ښاروالیو، ولایتي ریاستونو او سیمو) ته ولېږدول شي. د دغه ډول (ناتمویل شویو موخو) له کبله چې پراختیایي چوکاټ لري، ځایي اداري مجبورېږي چې د مالي سرچینو بدیلې لارې ولټوي لکه شخصي سکتور، د عامه شتمنیو پلور، او حکومتي او شخصي ملګرتیاوې، چې د بنسټونو، استوګنځایونو او د عامه خدمتونو پروګرامونه تمویل کړي.
>
> د نړیوال سوېل ګڼ شمېر ځایي حکومتونه په دغه فعالیتونو کې بوخت دي، په ځانګړې ډول ښاري سیمو کې چې په عام ډول د (ښاري بیارغونې) پروژو په نامه یادېږي. د ملګرو ملتونو د زرو کلونو پراختیایي موخو له مخې، بې وزلو ته د غوره استوګنځایونو برابرولو او له (چټلیو پاکو) ښارونو جوړولو موخو، د (ښاري بیارغونې) پروژو تر نامه لاندې په نړیوال سوېل کې ډېره لېوالتیا پیدا کړې ده. خو د دغې نړیوالې اجماع په خلاف، دغه موخه یوه بېل مسیر ته تللې. د سوېلي افریقا (کېپ ټاون)، هندوستان (ممبي)، لبنان (بېروت)، او برازیل (ریو) په ډېرو ښاري مرکزونو کې، له جونګړو څخه د بې وزلو (ناغوښتل شویو ښاریانو) ایستلو او پر ځای یې د منځ پوړ او لوړ پوړ اوسېدونکو لپاره د نویو استوګنځایونو جوړولو حالت لیدل شوی، او دا کار د دې لپاره شوی چې ښارونو ته نوې او معتبرې څېرې ورکړل شي، نه د دې لپاره چې بې وزلو ته خوندي استوګنځایونه جوړ کړای شي.
>
> له ښاروالیو سره په همکارۍ، د ځایي او مرکزي حکومتونو دغو ښاري پلانونو او پروژو (چې بیارغونه هم بلل شوې) د اصلي اوسېدونکو ترمنځ د نابرابرۍ په بیه قراردادیانو او نویو څښتنانو ته د لوړو کرایو لاسته راوړلو فرصت برابر کړی دی[1]. د ځمکو غصب، پر ځایي حکومتي ادارو باندې د سوداګرۍ د پیاوړو مشرانو اغېز، او د ځایي چارواکو او اغېزمنو اشخاصو ترمنځ د فضایي پلان جوړونې د پرېکړو په تړاو له اداري فساده ډکې اړیکې یې نورې پایلې وې.
>
> دا استدلال شوی چې دغه ډول تونده نوې لیبرال غیرمرکزي پلان جوړونه هم ستونزمنه ده، ځکه دا د عمومي پلان جوړونې او پراختیا بهیرونه پاشلي کوي[2].
>
> دغه مثالونه ښیي چې د غیرمرکزي کولو بهیر د هېواد په کچه د پلان جوړونې له سیستمه پرته پرمخ نه شي وړل کېدای او نه باید یوړل شي، تر څو د پاشل کېدو خطر کم شي، او دغه خطر د نامنظم غیرمرکزي کولو بهیر له کبله پیدا کېږي. د پرېکړو په بهیر کې د خلکو ګډون ښایي د پیاوړو اشخاصو له خوا د شخصي ګټو تامینولو مخه هم ونیسي.
>
> ۱ د نوي لیبرال غیرمرکزي کولو بهیر کې، ښاري بیا رغونه، له جونګړو څخه د بې وزلو په زوره ایستل، او پر ګرو ولاړې مالي چارې چې پر بې وزلو ډلو فشار راوړي، او تر څنګ یې په نړیوال سوېل کې د دغه ډول پالیسیو پر ضد د بې وزلو مختلف ډوله مقاومتونه – دغو مسایلو د ښاري پلان جوړونې په تړاو لیکنو کې جدي بحثونه راپارولي چې د ښاري پلان جوړولو مشران لکه فرانک میرافتاب او ونیسا وټسن یې په سر کې دي. د طاهر عمران یو وروستی کتاب، (د استوګنې د برجونو فرضول: په شمالي انقره کې د یوې جونګړې د ښاري بیارغونې کیسه (په ترکي ژبه) (استنبول: الیتیزم خپرونې کور: ۲۰۱۲)، دغه پدیده او په ښاري سیمو کې یې پر بې وزلو اغېز څېړي. پورته یاد شوې ښاري قضیې له همدې کتابه اخیستل شوې دي.
>
> ۲ سنجي جی. ریډي، (پلان جوړونه مړه شوې، ژوندۍ دې وي پلان جوړونه! په هندوستان او نړۍ کې د پلان جوړونې حیثیت)، https://reddytoread.files.wordpress.com/۲۰۱۵/۰۹/۲۰۱۵sept۱۲planningcommission.pdf (لاسته راغلی د ۲۰۱۷م کال د مارچ پر ۱۲مې). (بیارغونه یا Balkanisation) یوه سیاسي نظریه ده چې یو ملت پر کوچنیو ملتونو یا قومونو وېشلو ته وایي، او دا هغه وخت پېښ شو چې د ۱۹مې پېړۍ په پای او ۲۰مې پېړۍ په پیل کې د عثماني امپراطورۍ تر ولکې لاندې د اروپايي بالکان سیمې په کوچنیو ملتونو ووېشل شوې.

د غیرمرکزي کولو بهیر او ښاریتوب بهیر په تړاو افغانستان هم لکه د نورو هېوادونو په څېر ننګونو سره مخامخ دی، په ځانګړې ډول دې ته په پام سره چې د ښاریتوب بهیر په چټکۍ وده کوي. سره له دې چې ۷۸ سلنه خلک یې په کلیوالو سیمو کې اوسېږي، په کابل او نورو سترو ښارونو کې دغه تناسب په ترتیب ۱۷ او ۲۰ سلنو ته ټیټېږي[72]. تر ۲۰ میلیونو ډېر خلک یې موبایل تیلیفونونه کاروي چې له بهر نړۍ سره اړیکې ټینګې کړي. دوی اوس تر پخوا ډېر باخبره دي او خپل د ژوند معیار د نړۍ له نورو سیمو سره پرتله کوي. د دې ترڅنګ، افغانستان د ښاریتوب له سختو ننګونو سره مخامخ دی: په کور دننه بې ځایه شوي وګړي، اقتصادي رکود او زیاتېدونکې بې کاري، د ځمکو غصب، د خوړو زیاتېدونکې ناخوندیتوب، د طالبانو او نورو یاغیانو له خوا لا نور او سخت بریدونه، پر نشه یي توکو د روږدېدو لوړېدونکې کچه (په ځانګړې ډول د ځوانانو ترمنځ)، او زیاتېدونکې نابرابري او ټولنیز جلاوالی یا محرومیت. دې مسایلو ته په پام سره، اړتیا ده چې د غیرمرکزي کولو بهیر تګلارې لپاره اندول په نظر کې ونیول شي او داسې یو چوکاټ چې په کې ملي، ولایتي او د ښاروالیو پلانونه یوځای شوي وي چې شته ننګونو سره چې ښکاري افغان حکومت پرې خبر دی، په اغېزناکه ډول

[71] د دغه بهیر په اړه د هراړخیزو مالوماتو لپاره، د میرافتاب او نورو لیکنه وګورئ، (د تنګول شویو فکرونو یا عقیدو مالومول)، ۴.

[72] نړیوال بانک، (د افغانستان ولایتي لنډیز)، (واشنګټن، ډي سي، نړیوال بانک، ۲۰۱۴).

مبارزه وشي[۷۳]. ځکه نو (یوه غوره ملي پالیسي، قانوني او پر مقررو ولاړ چوکاټ، او تر څنګ یې غوره وړتیا او د ښاروالیو زیات واک اړین دي، چې یوه لسیزه نور د (نه مداخلې) مخه ونیول شي او ښارونه د اقتصادي او ټولنیزې پراختیا لپاره وکارول شي[۷۴].

له پلان جوړونې او ښاریتوب سره تړلو ننګونو منل او د حل لاره یې لټول پخپله ننګونی کار دی، خو دا یوه مهمه مسئله ده چې د ملي او ولایتي پلان او بودیجې جوړولو له لارې باید حل شی. خو افغان حکومت او نړیواله ټولنه باید له حده وتلې غیرمرکزیت له منفي پایلو هم خبر اوسي چې د هغو اشخاصو د شخصي ګټو د تامینولو هڅې کمې شي چې له دغه ډول چټک او ناپلان شوي ښاریتوب څخه ګټه پورته کولی شي.

۷۳ د افغانستان اسلامي جمهوریت، (د افغانستان د ښارونو حالت)، (کابل: د افغانستان اسلامي جمهوریت، ۲۰۱۵)، vii.

۷۴ د افغانستان اسلامي جمهوریت، (د افغانستان د ښارونو حالت)، viii.

# ۴. په افغانستان کې ملي او سيمه ييزه پلان جوړونه[۷۵]

په افغانستان کې د (اقتصادي) پراختيا وروستى تاريخ د ۲۰مې پېړۍ منځ مودې ته غځېږي چې پياوړې مرکزي ميلانونه لري. خو له ۲۰۰۱ کال وروسته، د بازار اقتصاد د مرکزي اقتصادي سيستم ځاى نيولى دى. څکه نو له ۲۰۰۱ کال وروسته پلان جوړونه تر ډېره نرمې ستراتيژيکي پلان جوړونې ته ورته ده. د افغانستان د ملي پراختيا چوکاټ (۲۰۰۲)، د افغانستان راتلونکی خوندي کول (۲۰۰۴)، د افغانستان د ملي پراختيا انتقالي ستراتيژي (I-ANDS) (۲۰۰۵-۲۰۰۸)، او ANDS (۲۰۰۹-۲۰۱۳) هڅه کړې چې ملي لومړيتوبونه په نښه کړي او سرچينې په لا اغېزناکه ډول ووېشي. په ځانګړې ډول، ANDS د سلامشورې پر اساس ولاړ بهير په مټ جوړ شوى دى. لومړى، وزارتونو خپل پلانونه جوړ کړل چې ستراتيژيک پلانونه نومول شوي. د دغو وزارتي پلانونو پر بنسټ بيا د هر سکتور لپاره پلان جوړ شو لکه د روغتيا او پوهنې سکتورونه. ANDS د دغو سکتوري ستراتيژيو په اساس جوړ شوى دى. د ستراتيژۍ جوړولو پر مهال په سيمه ييزه کچه هم سلامشورې پيل شوې، چې په مرسته يې ۳۴ PDPs چمتو شول (دوهم انځور وګورئ).

خو تر هغو چې د اقتصاد وزارت د پاليسي او څار او ارزونې عمومي رياست بنسټ اېښوده، چې په ۲۰۰۸م کال کې ملي پلان جوړونه همغږې کړي، له ۲۰۰۱ کال وروسته ډېرى پلانونه د نيمه خپلواکه ادارو (لکه د افغانستان د مرستو د همغږۍ ادارې، د بهرنيو اړيکو او پراختيايي بوديجې ادارې، او ANDS سکرترونو)، له خوا جوړ شوي وو، چې واک يې له افغان حکومت سره و، د بهرنيو اړيکو او پراختيايي بوديجې له ادارې پرته، چې په مخامخ ډول يې ولسمشر ته رپوټ ورکاوه. په داسې حال کې چې دغو نيمه خپلواکو ادارو په ملي کچه د پلان جوړونې بهير مشري وکړه او دغه بهير يې همغږى کړ، په سيمه ييزه کچه د دغو مختلفو ادارو رولونه او دندې تتې وې. په ۲۰۱۵م کال کې، د ماليې وزارت په لسو وزارتونو کې په ازميښتي ډول د ستراتيژيکي او کار په تړاو پلان جوړونې، څار او پلټنو ارزونه ترسره کړه. د دې تر څنګ، ارزونې ومونده چې ډېرى وخت په ټولو وزارتونو کې ستراتيژيک پلانونه شتون لري خو په عمومي ډول ترې د کلني پلان او د لاسته راوړنو ارزولو لپاره کار نه اخيستل کېږي[۷۷].

**دوهم انځور: د افغانستان د پلان جوړونې طبقې، ۲۰۰۲-۲۰۰۸[۷۷]**




---

۷۵ لکه چې پخوانى برخې پرې بحث وکړ، په بوديجه کې د ولايتي پلانونو شاملول، د مالوماتو جريان، او د سيمه ييزې پلان جوړونې د بهير اړوند ستونزې، دا برخه د پلان جوړونې پر پاتې ستونزو بحث کوي.

۷۶ د ماليې وزارت او د اقتصاد وزارت، (په وزارتونو او ادارو کې د څار او مراقبت سيستمونو ارزونه)، (کابل: د ماليې وزارت او د اقتصاد وزارت، ۲۰۱۴).

۷۷ د افغانستان اسلامي جمهوريت. (د افغانستان د پراختيا ملي ستراتيژي)، ۱:۲۴.

د پلان جوړونې بهیر یو شمېر نیمګړتیاوې لري. په داسې حال کې چې په سیمه ییزه کچه باید د اقتصاد وزارت او د اقتصاد ریاستونه د ولایتي پلان جوړونې بهیر د PDCs له لارې چې مشري یې والیان کوي، همغږې کړي، د بودیجې جوړولو لپاره دغه ډول میکانیزم و نه کارول شو. د دې ترڅنګ، په چمتو شویو PDPs کې د شته ستونزو سربېره، دوی په بودیجه کې نه وو یوځای شوي، چې له کبله یې دغه بهیر د بودیجې وېش چارې ته په پام سره په پرتلیز ډول لږ اړوند و.

د اقتصاد وزارت اوسمهال یو پنځه کلن پلان جوړوي چې د ANDS ځای ونیسي او د ملي لومړیتوبونو پروګرامونه به یې بنسټ جوړوي[۷۸]. خو له نورو ښکېلو غاړو سره د مرکو په ترڅ کې، لیکوالانو ومونده چې دوی د نویو پلانونو په اړه په بشپړ ډول خبر نه دي. د دې ترڅنګ، د هڅو او پروګرامونو تکرار د پلان جوړونې بهیر اغېزمنتیا کموي ځکه، د مثال په ډول، IDLG هم د پنځه کلن ولایتي ستراتېژیکو پلانونو د جوړولو بهیر همغږې کوي. مرستندویان تر ډېره د هغو پلانونو ملاتړ کوي چې په ولایتي کچه جوړ شوي وي. خو ګڼ تداخلي یا تکراري پروګرامونه او سندونه د پلان جوړونې د بهیر ستونزې لا زیاتوي او د لومړیتوبونو په ګوته کول ګرانوي.

ځکه نو، مهمه ده چې د ملي پلانونو جوړولو پخاطر د همغږۍ یوه واحده اداره موجوده وي چې په کابل او ولایتو کې د حکومت د مختلفو ادارو لپاره څرګندې اداري دندې ولري. دا چې افغان حکومت اوسمهال د شته سیستم پر اصلاح کولو بوخت دی چې د پلان او بودیجې جوړولو کارونه لا باثباته او همغږي کړي، دغه ډول ستونزه باید حل شي (په ترکیه کې د یوه ورته بهیر په اړه دوهمه ضمیمه وګورئ).

## ۴.۱ ښاروالۍ: د پلان او بودیجې جوړولو بهیر کې یو نوی میلان

د ښاروالیو د پلان او بودیجې جوړولو بهیر، چې په سیمه ییزه کچه د ځینو خدمتونو وړاندې کولو لپاره مهم دی، په پخوانۍ برخه کې د یاد شوي میلان پرځای یو نوی میلان ښیي. په افغانستان کې په ملي او سیمه ییزه کچه ښاري سکتور د یو لړ ادارو له خوا کنترولېږي، چې تر ټولو مهمې ادارې په کې د ښاري پراختیا چارو وزارت، IDLG، او په ملي کچه د کابل ښاروالۍ (چې په مخامخ ډول ولسمشر ته رپوټ ورکوي) او په سیمه ییزه کچه ښاروالۍ او اړوند ریاستونه شامل دي. په نورو هېوادونو کې ښاروالۍ مهم خدمتونه وړاندې کوي لکه استوګنځایونه، د تشنابونو سیستم، د څښلو اوبه، او فضایي پلانونه. خو په افغانستان کې، د ښاروالیو رول صفایۍ او شینوالي ته محدود دی ځکه د ښاري بنسټونو لپاره خدمتونه وزارتونه وړاندې کوي، لکه (د تشنابونو سیستم، د فاضلو او څښلو اوبو مدیریت، او داسې نور).

د ښاري سکتور د اغېزناکه مدیریت پر وړاندې د پام وړ اداري ستونزې شته، لکه د پروګرامونو تکرار او ناڅرګندې یا په کمزوري ډول تشریح شوې موخې (د مثال په ډول فضایي پلان جوړونه)، د ملي حکومتولۍ او ښاروالیو حکومتولۍ تر منځ د همغږۍ کمی (د مثال په ډول د ښاري ماسټر پلانونو جوړول او پلي کول)، او رسمي/غیر رسمي حکومتولي (د مثال په ډول والیان پر ښاروالیو د پام وړ اندازه غیررسمي کنټرول لري سره له دې چې له اداري پلوه دواړه سره بېل دي)[۷۹]. په افغانستان کې، ښاروالان د ولسمشر له خوا ګومارل کېږي، په داسې حال کې چې د ښاروالیو شوراګانې (MCs) نه لري. د دې پرځای، د یوه موقتي ګام په توګه، د ښاروالیو مشورتي بورډونه جوړ شول چې مشورې ورکړي او خپلې سپارښتنې وسپاري خو دوی د پرېکړو کولو هېڅ واک نه لري. حکومت په پام کې لري چې د ښاروالیو پخواني قانون پر ځای یو نوی قانون جوړ کړي چې اوسمهال IDLG د دغه نوي قانون پر مسودې کار کوي، د نوي قانون له مخې به ښاروالان د MCs له لورې ټاکل کېږي. د افغانستان اساسي قانون د دې کار اجازه ورکوي.

ښاروالۍ تر ډېره له مرکزي حکومته بودیجه لاسته نه راوړي[۸۰]. دوی باید پر خپلو سرچینو یا بهرنیو مرستو تکیه وکړي. دوی اجازه لري چې مختلف عایدات لاسته راوړي خو کچې یې په کابل کې د مالیې وزارت له خوا ټاکل کېږي. د کابل ښاروالۍ تر ټولو ډېر عاید لاسته راوړي، د نورو ښاروالیو د ټولیز عاید نږدې نیم برابر. ښاروالیو ته اجازه ورکړل شوې چې له **۵۰** ډېر بېلا بېل عایدات لکه فیسونه، جریمې، د خدمتونو لګښتونه، له اجارو ګټه، کرایې او د ښاروالۍ د ځمکو پلور، او د صفایۍ مالیه ټوله کړي.

۷۸ که څه هم هڅې شوې چې په دواړو ملي او ولایتي کچو د پلان جوړونې شته بهیر واضح شي خو دا په بشپړ ډول ممکنه نه ده. د اقتصاد وزارت وېبپاڼه داسې هېڅ ډول جزیات نه لري. زموږ پوهاوی د **۲۰۱۵**م کال اکتوبر کې د اقتصاد وزارت له چارواکو سره د ټیم د بحثونو او مرکو، او د اقتصاد وزارت د چارواکو له خوا د **۲۰۱۵**م کال اکتوبر پر ۱۱مه کابل ولایتي پلان او بودیجې جوړولو د پالیسۍ بحث کې د وړاندې شویو مالوماتو پر اساس دی.

۷۹ د نجات او نورو لیکنه وګورئ، (په افغانستان کې سیمه ییزه حکومتولي)، د افغانستان اسلامي جمهوریت، (د افغانستان د ښارونو حالت).

۸۰ اوسمهال، افغانستان د حکومت دننه مالي لېږد سیستم نه لري، ځکه ښاروالیو ته د لویو پروژو یا خدمتونو وړاندې کولو لپاره بودیجه نه ده ورکړل شوې.

د ښاروالۍ ځمکو پلور د عایداتو لاسته راوړلو تر ټولو ستره سرچینه ده چې د ټولو ښاروالیو د عایداتو **۲۲ سلنه** جوړوي[۸۱]. دا د اندېښنې وړ مسئله ده، ځکه د ځمکو له پلور لاسته راتلونکی عاید د ګټو دوامداره یا پایښت لرونکې سرچینه نه ده، او دغه سرچینه د اداري فساد له پلوه هم زیانمنونکې ده. د صفایۍ او د ښاروالیو خدمتونو مالیه د عایداتو دوهمه ستره سرچینه ده، چې یو لامل یې د ثبت یو نوی معرفي شوی کمپیوټري سیستم دی. د عایداتو ټولولو په تړاو د ښاروالیو کار (د اصلي او اټکل شوي عاید ترمنځ توپیر) په ۲۰۱۰م کال کې له **۲۸** سلنې څخه په **۲۰۱۲** او **۲۰۱۳**م کلونو کې **۴۰** سلنې ته ولوېد. خو، له هغه کال وروسته، عایدات په غیرواقعي ډول زیات اټکل شول، په داسې حال کې چې اصلي عایداتو دغه موخې نه پوره کولې. د عاید ټولولو کمزوري میکانیزمونه، د تکړه کارکونکو د نشتوالي په ګډون، محدوده تشویق، او د ځواب ورکونې کمی او دغه راز د څار او مدیریت کمزوري سیستمونه ځینې هغه عوامل و چې د عایداتو د موخو په لوېدو کې یې رول درلود[۸۲].

د ښاروالیو لګښتونه په دوو ډلو وېشلی شوی: عملیاتي او پراختیایي لګښتونه. د قانون له مخې، ښاروالۍ باید د خپلو لګښتونو تر نیمایي ډېره برخه (**۵۵** سلنه) پراختیایي پروژو ته ځانګړې کړي. والیان د ښاروالیو بودیجې ته کتنه کوي او د منظورۍ لپاره یې د مالیې وزارت ته لېږي. خو لکه چې لاندې یې تشریح وړاندې شوې، ډېرې ښاروالۍ د بودیجې ترتیبول او راپورول د خدمتونو او حکومتولۍ مسئلو ښه کولو د یوې وسیلې پرځای یو بیوروکراتیک کار بللی دی. د دې ترڅنګ، د بودیجې د اجرا کچې هم ټیټې دي، چې ښیي د عایداتو د خورا لوړو اټکلونو پر اساس د لګښتونو له اندازې ډېر خوشبینه اټکلونو د بودیجې د اجرا پر مهال نتیجه ور نه کړه، دا په ملي کچه هم یوه ننګونه ده.

د عامه او شخصي غاړو ترمنځ ملګرتیاوې – (جوړ کړه-عمل وکړه-ولېږدوه پروګرامونه) هم په نظر کې نیول شوې خو هغه مهال به تاید ېږي چې تقنیني ترتیبات بشپړ شي[۸۳]. د عامه او شخصي غاړو ترمنځ د ملګرتیاوو خپلولو په ټوله نړۍ کې د ځایي او مرکزي حکومتونو ترمنځ شهرت موندلی، چې ښایي لامل یې چټک غیرمرکزیت وي چې د (مالیی فعالیت تعقیبوي) اصل ته هېڅ پام نه کوي، لکه څرنګه چې په پورتني اووم بکس کې یادونه شوې. که څه هم دغه ډول سیستم ښایي جذابه او د لګښت له پلوه اغېزناکه ښکاره شي، خو دا ډول ترتیبات باید له تخنیکي او قانوني پلوه په ډېره احتیاط سره پرمخ یوړل شي چې په راتلونکي کې د بیې او پېر د ډاډ په تړاو پر ښاروالیو/مرکزي حکومت د اضافي فشار د راوستلو مخه ونیول شي[۸۴].

د نورو ستونزو ترڅنګ، د افغانستان د ښاروالۍ سیستم د یوه منظم تقنیني چوکاټ له کمي او د ښاروالۍ له کمزورو مالي چارو سره هم مخامخ دی. د ښاروالۍ سیستم ترځایه مرکزي او د ځواب ورکونې سیستم یې کمزوری دی، او عمده لامل یې د ټاکلو شویو ادارو او د ځواب ورکونې د مناسبو میکانیزمونو نشوالی دی.

---

۸۱ د افغانستان اسلامي جمهوریت، (د افغانستان د ښارونو حالت)، **۴۴**.

۸۲ عبدالباقي پوپل، (په افغانستان کې ښاروالۍ)، (کابل: د ځایي حکومتولۍ خپلواکه اداره، **۲۰۱۴**)، د افغانستان اسلامي جمهوریت، (د افغانستان د ښارونو حالت)، **۱۲**.

۸۳ د افغانستان اسلامي جمهوریت، (د سیمه ییزې حکومتولۍ پالیسي-مسوده)، (کابل: د ځایي حکومتولۍ خپلواکه اداره، **۲۰۱۵**).

۸۴ د مثال په ډول، د یوې مهمې ښاروالۍ په استازیتوب د ترکیې د خزانې ادارې د پېر یو ضمانت ورکړ، چې د خصوصي سکتور له خوا جوړ شوي بند اوبه وکاروي، دا ضمانت هغه مهال اغېزمن شو چې کله ښاروالۍ د اوبو کارول بند کړل، پرته له دې چې د قرارداد پر اساس د خپل دغه ګام د پېچلتیاو یا عواقبو په اړه پوهاوی ولري. وروسته له دې چې اړ شو د ضمانت په بدل کې شرکت ته هره میاشت **۱۵** میلیونه امریکایي ډالره ورکړي، د خزانې ادارې ښاروالي مسوله وګڼله چې دغه پیسې باید بېرته مرکزي حکومت ته ورکړي. که څه هم دغه حالت ښایي کټ مټ له افغانستان سره د پرتلې وړ نه وي، خو دغه ډول پېښې منځ ته راتلای شي.

## ۴.۲ د ولایتي بودیجې جوړولو پالیسي

د دې برخې شننې ټینګار کوي چې د PBP شته سیستم ته باید بیاکتنه وشي. د مخکې یادو شویو اندېښنو د حل لپاره، د مالیې وزارت د ۲۰۱۵م کال PBP جوړه کړه چې موخه یې د بودیجې جوړولو بهیر په برخه کې ولایتو ته یوه اندازه واک لېږدول و. دغه پالیسي د ۲۰۱۵م کال اکتوبر کې د کابینې له خوا تاید شوه (اتم بکس).

> **اتم بکس: د ولایتي بودیجې جوړولو پالیسي (۲۰۱۵)**
>
> PBP لاندې موخې لري:
>
> - د بودیجې جوړولو بهیر کې د مرکزي او سیمه ییزو ادارو د مسئولیتونو تعینولو پخاطر یو قانوني چوکاټ جوړول، چې PCs به په کې یو مشورتي رول لوبوي،
> - د عامه مالي چارو مدیریت په برخه کې ولایتي ادارو ته مناسب مسئولیتونه او واکونه ورکول چې په ملي کچه د عامه مالي چارو د مدیریت یو اغېزناکه سیستم جوړ او پراخه کړي،
> - په (افقي او عمودي ډول د بودیجې وېش) لپاره یو منظم او معیاري چوکاټ جوړول چې د برابرو خدمتونو وړاندې کولو ضمانت وکړي او په ټول هېواد کې د بې وزلۍ له منځه وړلو کې ونډه واخلي،
> - د بودیجې د اعظمي کچې د معیارونو پر اساس، د شته او نویو شتمنیو د مراقبت لپاره د کافي اندازه سرچینو د وېش ډاډمنول،
> - د بودیجې په جوړولو، اجرا او څار کې د ولایتي چارواکو ګډون یقیني کول،
> - د روڼوالي، ځواب ورکونې، او مالي ډسپلین لپاره د مرکزي او ولایتي ادارو او مرستندویانو ترمنځ د همغږۍ او اړیکو زیاتول، او د موازي جوړښتونو / بهیرونو له منځه وړل، او
> - د بودیجوي احصایو او شمېرو خپرول، او دغه راز ښکېلو غاړو ته د رپوټ ورکولو بهیرونو منظمول[۱].
>
> PBP د لاندې بهیرونو له لارې د دغو موخو لاسته راوړلو هڅه کوي:
>
> - درې کلن ازمیښتي طبیق،
> - پر معیار ولاړ بودیجوي سیستم له لارې په عمودي او افقي ډول د سرچینو وېش،
> - د هر اړوند وزارت د پرېکړو پر اساس د لانورو مسئولیتونو لېږد، چې په کې د پراختیایي او عملیاتي بودیجې لېږدول شوي واکونه هم شامل دي.
> - د بودیجې د جنترۍ بدلول چې د ولایتي بودیجو جوړولو وخت زیات شي،
> - له بودیجې څخه اضافي سهولتونه چې د (نامشروطې بودیجې) په نامه یادېږي، چې په سکتوري بودیجې کې ورته ځای نه دی ورکړل شوی،
> - د ولایتي بودیجې کارپوهان ګومارل چې په ولایتو کې له مستوفیتونو سره د بهیر په مشرۍ کې مرسته وکړي.
>
> ۱ پریزینټیشن چې د ۲۰۱۵ کال اکتوبر پر ۱۱مه د کابل ولایتي بودیجې جوړولو ورکشاپ کې د مالیې وزارت د یوه چارواکي له خوا وړاندې شو.

د ځینو نیمګړتیاوو سربېره، PBP د اغېزناکه بودیجې او پلان جوړونې په لور یو مثبت ګام دی. خو دا پالیسي د ادارو رول په واضحه توګه نه تعینوي او د پلي کولو لپاره تر ډېره د حکومت د نورو ادارو پر پروګرامونو متکي دی[۸۵]. د دې ترڅنګ، دا ولایتي ریاستونو ته د لګښتونو د مسئولیتونو د لېږد په تړاو هېڅ ډول ترتیب ته اشاره نه کوي. د پراختیا د لا پېچلو لګښتونو پر وړاندې ښایي د کارکونکو یا عملیاتي او مراقبت لګښتونو د مدیریت لپاره په بشپړ ډول مختلفو تګلارو او وړتیاو ته ضرورت وي[۸۶]. PBP په دې اړه هېڅ راز پراویزي تګلارې ته اشاره نه کوي، بلکې بهیر د اړوندو وزارتونو اختیار ته پرېږدي.

د دې پر بنسټ، کله چې د غیرمرکزي بودیجې غوراویو په تړاو د حکومت د پالیسۍ انتخابونه وارزول شي، تر ځایه ګډ او ناڅرګند یا ګونګ ښکاري. په پیل کې، حکومت چمتو دی چې د تش په نامه (پر معیارونو ولاړ د بودیجې عمودي او افقي وېش) له پروګرام سره د (بودیجې په عمودي ډول غیرمرکزي شوي سیستم) په لور حرکت وکړي، چې له خپلو نویو دندو سره د PLDs ملاتړ وکړي. خو دغه ډول غیرمرکزیتوب PLDs په څرګند ډول د حسابونو په جدول کې د جلا بودیجوي واحدونو په توګه نه مني. د PBP سند بیا هم هڅه کوي چې PLDs په مرکز کې د اړوندو وزارتونو برخه وګڼي خو نوې دندې ورته سپاري. په دې ډول، د غیرمرکزیت شته حالت، لکه هغسې چې د ۲۰۱۵م کال PBP کې وړاندیز شوی، د ترکیبي قضیې ته ورته ښکاري، خو PLDs ته په کې د لا زیات او په عمودي ډول غیرمرکزي شوي مسئولیتونو لېږد شامل دی، او له بودیجوي حیثیت پرته.

۸۵ د افغانستان اسلامي جمهوریت لیکنه وګورئ، (د ولایتي بودیجې جوړولو پالیسي)، (کابل: د مالیې وزارت، ۲۰۱۵)، ۱۰، د هغو کارونو لست چې باید د لارښوونو او نورو طرزالعملونو له مخې بشپړ شي.

۸۶ بویکس لیکنه وګورئ، (د افغانستان د سیمه ییز مالي جوړښت څېړنه)، ۳۵.

خو، د ۲۰۱۵م کال PBP ډېر ناڅرګند محتویات لري[۸۷]، او وړاندیز کوي چې:

> *د دغې پالیسۍ د پلې کولو پر مهال به د مالیې وزارت د مالي لېږد پر یوه هراړخیزه او حکومت دننه سیستم کار وکړي چې انډول، روڼوالي، او ځواب ورکونې ته په پام سره یې باید غیرمرکزیت یا لېږد محدود وي (د مثال په ډول د بودیجې ۴۰ سلنه). او دغه راز د مالي لېږد په صورت کې به وزارت هڅه وکړي چې ولایت یو بودیجوي واحد کړي[۸۸].*

له پورتني متن څخه داسې ښکاري چې حکومت ښایي پلان ولري چې د ولایتو بودیجوي واحدونه پر ولایتي ریاستونو بدل کړي چې (افقي غیرمرکزیت) ته به ورته وي. له بلې خوا، ډېره ممکنه ښکاري چې د ۲۰۱۵م کال SNGP به هم ځینې ورته نیمګړتیاوې ولري، لکه څرنګه چې د PBP په تړاو پرې بحث وشو. خو دا چې د ۲۰۱۵م کال SNGP لا منظوره شوې نه ده او په عامه ډول لاسرسی ورته نشته، نو دا به له وخت مخکې وي چې دقیق قضاوت وشي.

په لنډ ډول، PBP د پالیسۍ په تړاو غوراویو ته په پام سره، د پلان او بودیجې جوړولو د بهیر ښه والي او واضح کولو لپاره یوه له هیلو ډکه او ننګونکې اجنډا وړاندې کوي. که حکومت غواړي په راتلونکو لسو کلونو کې مسئولیتونه په بشپړ ډول ولېږدوي، نو د دغه بهیر ګامونه باید په احتیاط سره پلان شي، په ځانګړې ډول د افقي غیرمرکزیت په تړاو د ځواب ورکونې موضوع ګانو ته په پام سره.

۸۷ د افغانستان اسلامي جمهوریت، (د ولایتي بودیجې جوړولو پالیسي)، ۱۲.

۸۸ د افغانستان اسلامي جمهوریت، (د ولایتي بودیجې جوړولو پالیسي)، ۱۲.

# ۵. پایلې: نیمګړتیاوې او سپارښتنې

په دغه لیکنه کې د حکومتولۍ، پلان او بودیجې جوړولو په اړه تفصیلي بحث وشو، او د یو شمېر مشخصو هېوادونو څخه زده شوي درسونه او دغه راز د افغانستان د پلان او بودیجې جوړولو شته پالیسۍ او قوانین هم په کې یاد شول. د پایلې دغه برخه په افغانستان کې د سیمه ییز پلان او بودیجې جوړولو بهیر مهمې نیمګړتیاوې او ستونزې په لنډ ډول بیانوي او د ولایتي پلان او بودیجې جوړولو بهیر ښه کولو لپاره سپارښتنې وړاندې کوي.

## ۵.۱ له اندازې زیات د چارو مرکزیت

د پلان او بودیجې جوړولو بهیر کې له اندازې زیات مرکزیت افغانستان له داسې یوه حالت سره مخامخ کړی چې سیمه ییزه حکومتي ادارې په کې له پامه غورځېدلي او د هغوی له وړتیاو پوره ګټه نه ده پورته شوې. په داسې حال کې چې په کابل، ولایتو او ولسوالیو کې حکومتي ادارې موجودې دي، خو په ولایتي او ولسوالیو کچه سیمه ییزې ادارې د پلان او بودیجې جوړولو بهیر کې په اغېزناکه ډول ګډون یا ونډه نه لري. د حکومت ډېری دندې لکه د عامه مالي چارو مدیریت، د اوبو مدیریت او د پولیسو چارې په کابل کې د وزارتونو او ریاستونو له خوا پر مخ وړل کېږي. دغه بهیر د خدمتونو وړاندې کولو، د تطبیق بهیر څار، او په ټیټه کچه ځواب ورکونې لپاره ناوړه عواقب لرلې دي. په مرکزي کچه پلان او بودیجې جوړول ښایي د ځینو ملي پروژو د ډیزاین او پلي کولو کارونه اسانه کړي. خو دغه ډول میکانیزم د ځایی حکومتي ادارو او ځایي ټولنو له وړتیاو څخه بشپړې ګټې اخیستنې کې پاتې راځي.

په ولایتو او ولسوالیو کې له شته ادارو په ډېر کمزوري ډول کار اخیستل کېږي او د کار قدر یې هم کم دی. لکه چې د لیکنې پخوانیو برخو وښوده، د والي دفتر، په ولایتو او ولسوالیو کې حکومتي ادارې، او ټاکل شوي PCs دا وړتیا لري چې د بودیجې او پلان جوړولو بهیر ښه کولو کې مهم رول ولوبوي. د طالبانو رژیم له نسکورېدو وروسته په لومړیو کلونو کې، د پلان او بودیجې بهیرونو یوه اندازه مرکزي کول، لکه په نورو له جګړو وتلو هېوادونو کې چې عامه ده، ښایي حتمي وه چې د مرکزي حکومت واک پراخه شي او د محدودو سرچینو د ناسمې کارونې مخه ونیول شي. په ځینو مهمو ولایتو کې چې د کورني عاید لویه برخه یې تولیدوله، پیاوړو اشخاصو واک درلود او دوی نه غوښتل چې دغه عایدات د مالیې وزارت خزانې ته ولېږدوي. دا چې مرکزي حکومت خورا کمزوری و، نو هڅه یې وکړه چې د خپلې کمزورۍ تشه د مرکزي کولو پالیسیو په مټ ډکه کړي. خو په مرکز کې د اکثره چارو تفصیلي څار او مدیریت د ولایتي ادارو د وړتیا لپاره ناوړه عواقب لرل. دغه بهیر تر ډېره ولایتونه له دغه فرصته محروم کړل چې له عملي کارونو زده کړه وکړي او ولایتي ادارې یې لا کمزورې کړې او د اداري بې تفاوتۍ کلتور ته یې وده ورکړه.

وروسته له دې، د حکومت له خوا د پلان او بودیجې بهیرونو د غیرمرکزي کولو هڅو هغه نتیجه ور نه کړه چې تمه یې کېده، تر ډېره د سمونونو د کمزوري څار او د یوه مناسب قانوني چوکاټ او کافي وړتیا د نشتوالي له کبله. حکومت په ۲۰۰۷م کال کې له ولایتي حکومتي ادارو، د مدني ټولنې له فعالانو او مرستندویانو سره مشورې وکړې چې ولایتي لومړیتوبونو ته په ANDS کې ځای ورکړي، او د دغه بهیر له لارې یې ۳۴ PDPs جوړ کړل. د دغو پلانونو معیار توپیر درلود، ځینې یې ډېر کمزوري و او ان (د خواهشاتو لست) ته ورته وو. که څه هم دغه بهیر د پلان جوړونې بهیر کې د خلکو ګډون زیات کړ، خو دغه هڅې اداري نه شوې، او د ولایتي پلان جوړونې بهیر څار لا هم کمزوری پاتې شو. حکومت و نه شو کولی چې دغو پلانونو ته په اغېزناکه ډول په خپله بودیجه کې ځای ورکړي. د ولایتي بیا رغونې ټیمونو په PDPs کې شاملې ځینې پروژوې تمویل کړې. په داسې حال کې چې کره شمېره په عامه ډول مالومه نه ده، خو د ۲۰۰۵-۲۰۰۸ کلونو مالومات ښیي چې د ولایتي بیا رغونې ټیمونو د ۳۴ ولایتونو لپاره ۸۲۳ میلیونه امریکایي ډالره ځانګړې کړې دي[۸۹]. په حقیقت کې، ګڼ نور چینلونه هم شته چې په مټ یې وزارتونه او مرستندویان PDPs په نظر کې نه نیسي. دغه ګڼ او غیرمعیاري طرزالعملونه ښایي د ځایي اوسېدونکو ترمنځ، چې د پلان جوړونې بهیر کې ګډون کوي، هم د خپګان لامل شي. لېترلږه، خلکو ته باید وویل شي چې د دوی خبرې او نظرونه اورېدل کېږي. خو خلکو ته دغه ډول هېڅ ځواب یا مالومات نه ورکول کېږي او داسې ښکاري چې PDPs تر ډېره پر پرتلیز ډول لږو اغېزناکو بهیرونو بدلېږي.

د پلان او بودیجې جوړولو بهیر له اندازې ډېر مرکزي کول ښایي د مرکزي حکومت او لرې پرتو خلکو ترمنځ واټن لا زیات کړي. په کابل کې چارواکي د کندهار یا بدخشان د یوه کلي د اړتیاو په اړه ډېر کم پوهاوی لري. ځکه نو د مالوماتو دوه اړخیزه تبادله مهمه ده. وزارتونه باید ملي موخې او د ولایتي بودیجې اعظمي کچې په اړه مالومات په واضح ډول شریک او خپاره کړي. ځایي خلک باید وزارتونه د خپلو اړتیاو په اړه خبر کړي او د سیمه ییزو ادارو له لارې له دوی ځواب وغواړي.

۸۹ د افغانستان اسلامي جمهوریت، (د پراختیایي همکارۍ رپوټ، ۲۰۱۰)، ۱۰۰.

د ۲۰۱۵م کال اکتوبر میاشت پر مهال کابل کې د ولایتي پلان او بودیجې جوړولو پالیسۍ بحث ګډون کونکو یادونه وکړه چې د ولسمشر دفتر او وزارتونه باید د پلان او بودیجې بهیرونو غیرمرکزیت کار مشري په غاړه واخلي او دغه بهیر ته اداري بڼه ورکړي.

*ستونزه (له اندازې ډېر مرکزیت) باید له پورته کچې د ټیټې کچې په لور حل شي. وزارتونه باید ولایتي ادارو ته لارښونه وکړي چې د خپلو چارو رپوټ څنګه سپارلی شي او څنګه باید خلکو ته عامه خدمتونه ښکاره کړي. دا سې ښکاري چې اړوند وزارتونه د خلکو پر وړاندې د مسئولیت ډېر کم احساس کوي. په ملي کچه د مالوماتو شریکولو کمی دی، خو په ولایتي کچه، ډېره ګرانه ده چې د اړوندو وزارتونو په اړه مالومات لاسته راوړل شي*[۹۰].

د پلان او بودیجې جوړولو بهیرونو کې د خورا لوړې کچې مرکزیت په ولایتو او ولسوالیو کې د حکومتي ادارو د وړتیا لوړولو له فعالیته هم پام اړولی دی. د کابل پالیسۍ بحث ګډون کونکو یادونه وکړه چې (د PDCs له جوړېدو وروسته، واک ولېږدول شو، خو د مرکزي حکومت له مرستې او ملاتړ پرته، او هېڅ راز څرګنده لارښونه موجوده نه وه او نه هم د اړوندو کسانو وړتیا لوړه شوه چې ځایي چارواکي وکولی شي ولایتي پلانونه جوړ کړي)[۹۱].

## ۵.۲ ناڅرګند او ګونګ اداري رولونه یا دندې

بله عمده نیګړتیا چې د اغېزناکه ولایتي پلان او بودیجې جوړولو مخه نیسي د مختلفو حکومتي ادارو ناڅرګند رول دی. جګپوړي چارواکي ډېر کله نه پوهېږي چې په دفتر کې د دوی رول څه دی. ځکه نو که اشخاص خپله هڅه و نه کړي او له نوښت نه کار وانخلي نو ولایتي اداري له کابله امرونو ته انتظار باسي. ډېرو هغو حکومتي چارواکو، مرستندویانو او د مدني ټولنې فعالانو چې لیکوالانو ورسره مرکې کړې استدلال وکړ چې په کابل کې د وزارتونو دندې، په ولایتو او ولسوالیو کې د اړوندو وزارتونو ادارې او د ټاکلو شویو PCs دندې په واضح ډول نه دي تشریح شوې. دغه ناڅرګندوالی په غیرعمدي ډول د کمزوري تطبیق، د رسمي سیمه ییزو ادارو د وړتیا لوړولو کې د ناکافي پانګونې، او د وخت او سرچینو د ضایع کېدو لامل شوی دی. که څه هم په کابل کې وزارتونه ښایي دې ته اړتیا ولري چې د ځانګړو مسئلو په اړه خپله پرېکړې وکړي، خو که د تدارکاتو بهیر په څېر ولایتي چارې د کابل له خوا په تفصیلي ډول وڅارل شي، دا شاید په سیمه ییزه کچه د خدمتونو رسولو بهیر وځنډوي.

د پلان او بودیجې جوړولو بهیر کې د ولایتي او ولسوالیو ادارو رول ناڅرګند دی. دا واضحه نه ده چې ولایتي پلانونه او بودیجه باید څوک جوړې کړي. ځایي لومړیتوبونه باید څنګه په ګوته او په ملي پلان او بودیجه کې ورګډ شي؟ ځکه نو په کابل کې د پالیسۍ بحث ګډون کونکو استدلال وکړ:

*د پلان او بودیجې جوړولو او دغه راز د اجرا او تطبیق په بهیرونو کې د والیانو رول څرګند نه دی. ولایتي بودیجه یوازې د کاغذ یوه ټوټه نه ده، دا باید د تطبیق او څار پلان هم ولري. په ځایي کچه دغه وړتیا هېڅ نشته. په ډېرو ولایتونو کې چې موږ په کې کار کړی، و مو مونده چې د تدارکاتو قانون د سیمه ییزې حکومتولۍ په هېڅ کچه نه و پلی شوی. د تدارکاتو قانون شته خو څوک یې پروا نه لري. والیان باید د بودیجې پلان د چمتو کولو، پلي کولو او څار په تړاو څرګند رولونه او مسئولیتونه ولري. د پالیسیو په ډیزاین او تطبیق کې د تخنیکي وړتیا کمی لیدل شوی دی*[۹۲].

ډېرو هغو مالومات ورکونکو چې د لیکوالانو له خوا ورسره مرکې شوې هم د اداري دندو د ناڅرګندتیا په اړه اندېښنه څرګنده کړه. دا د مختلفو ادارو ترمنځ د اداري سیالۍ او د هڅو او پروګرامونو د تکرار ښکارندويي کوي. د مالیې وزارت او د اقتصاد وزارت ادعا کوي چې دغه دندې او رولونه په واضح ډول تشریح شوې، چې په ځانګړې ډول په نوې PBP کې یې یادونه شوې ده. د اقتصاد وزارت یوه استازي د ولایتي پلان جوړونې بهیر په لاندې ډول تشریح کړ:

*په PDP کې په ټولیز ډول د لومړیتوب پر اساس ټاکل شوې پروژې شاملې دي. ټولنې د خپلو اړتیاو پر بنسټ دغه پلانونه وړاندې کوي چې بیا د اقتصاد وزارت ته سپارل کېږي. دغه وړاندیزونه خلک جوړوي او CDCs ته سپارل کېږي، وروسته یې بیا د DDCs له خوا لومړیتوب ټاکل کېږي او PDCs ته سپارل کېږي. د دغو بهیرونو او وړاندیزونو پر اساس، د اقتصاد ریاست د PDPs سره په همکارۍ د ولایتو لپاره پراختیایي پلانونه طرحه کوي. دغه پلانونه بیا وزارتونو او اړوندو ریاستونو ته سپارل کېږي چې بودیجه ورته وټاکل شي.*

۹۰ د ولایتي پلان او بودیجې جوړولو د پالیسۍ بحث، کابل، ۲۰۱۵م کال اکتوبر ۱۱.

۹۱ د ولایتي پلان او بودیجې جوړولو د پالیسۍ بحث، کابل، ۲۰۱۵م کال اکتوبر ۱۱.

۹۲ د ولایتي پلان او بودیجې جوړولو د پالیسۍ بحث، کابل، ۲۰۱۵م کال اکتوبر

بیا هر اړوند وزارت پلان د اقتصاد وزارت ته سپاري چې د بودیجې کمېټې له خوا ، چې د مالیې وزارت، د اقتصاد وزارت، د بهرنیو چارو وزارت او د وزیرانو د سکرتریت شورا د اداري چارو دفتر په کې شامل دي، وارزول شي. تر دې وروسته پروژې د منظورۍ لپاره کابینې ته وړاندې کېږي، او له منظورۍ وروسته، وزارتونو ته د پلي کولو لپاره سپارل کېږي[۹۳].

د پلان جوړونې دغه بهیر ښایي یو غوښتل شوی او ښه حالت وښیي، خو په کابل کې په ټولو وزارتونو او ریاستونو او ولایتونو کې نه پلی کېږي. د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت ښایي دغه موډل خپل کړي په ځانګړې ډول د NSP پروګرام له مخې او د CDCs او DDCs په څېر میکانیزمونو له لارې.

داسې ښکاري چې د مالیې وزارت، د اقتصاد وزارت او دغه راز د IDLG د قانوني او بالفعل دندو تر منځ واټن شته دی. د اقتصاد وزارت چې باید د پلان جوړولو بهیر مشري وکړي، د محدودې وړتیا له کبله، په ځانګړې ډول د تېرې لسیزې په لومړي کال کې، له صحنې لرې شوی او بل لامل یې د مرستندویانو دا خوښه ده چې د بودیجې او مرستو وېشلو لپاره له مالیې وزارت سره کار وکړي[۹۴]. اوس اړتیا لیدل کېږي چې یوه واحده اداره په ګوته شي، ترجیحا د اقتصاد وزارت، چې د پلان بهیر همغږی کړي او هم یې وڅاري.

سره له دې، د مالیې وزارت د نورو عادي مالیو وزارتونو په پرتله ډېر پیاوړی دی. دا نه یوازې د عامه مالي چارو مدیریت کارونه پر مخ وړي، لکه بودیجه، عایدات، او د پیسو ورکړه، بلکې ملي پالیسیو او پروګرامونو مسئولیت هم لري. IDLG هم ورته ستونزه او ننګونه لري چې هغه سیمه ییز بهیرونه همغږي کړي چې نور وزارتونه هم په کې ښکېل دي. دې حالت د حکومت مختلفو ادارو کې ناڅرګندتیا رامنځته کړې، د اداري سیالیو لامل شوی او د تطبیق بهیر یې کمزوری کړی دی.

د بهرنیو مرستندویانو له خوا تمویل شویو یو شمېر څېړنو موندلې چې له اندازې ډېر مرکزیت، په کابل کې د وزارتونو او ولایتو کې د ریاستونو د دندو او رولونو په اړه د وضاحت نشتوالی، او په ولایتو کې ناکافي وړتیا د اغېزناکه پلان جوړونې او سرچینو وېش بهیر پر وړاندې خنډونه جوړ کړي دي. هغه وزارتونه او د مدني ټولنې فعالان چې د لیکوالانو له لورې ورسره مرکې شوې، د څېړنې او پالیسۍ جوړونې له بهیر سترې ښکارېدل. د سمونونو دغه سترېیا، لکه څرنګه چې مالومات ورکونو استدلال کاوه، د سمونونو د نه پلي کېدو له امله زېږي. ډېرو څېړنو دا چاره ارزولې چې په افغانستان کې د پلان او بودیجې جوړولو بهیر څنګه غوره شي خو حکومت تر ډېره د دغه ډول څېړنو سپارښتنې له پامه غورځوي.

خو وروستي پرمختګونه هڅونکي دي. لکه چې مخکې یې یادونه وشوه، حکومت د ۲۰۱۵م کال اکتوبر کې نوې PBP منظوره کړه. SNGP یې هم اصلاح کړه، چې اوس پرې کابینه او ولسمشر غور کوي. تمه ده چې نوې SNGP به مختلفې اداري دندې او رولونه واضح کړي. دغه پالیسۍ ښایي د ولایتي پلان او بودیجې جوړولو ځینې نیمګړتیاوې هم له منځه یوسي.

نوې PBP په ګوتګ او ناڅرګند ډول هڅه کوي چې له ټیټې کچې د لوړې کچې په لور د پلان او بودیجې جوړلو کې د لېږد بهیر معرفي کړي. د دغو هڅو د ملاتړ لپاره، د بودیجې پالیسۍ کې وضاحت ته اړتیا شته. د دې ترڅنګ، CDCs او DDCs باید د PDPs لپاره مالومات ورکړي. PDCs به بهیر همغږی کوي، او ټاکل شوی PC به ولایتي بودیجه منظوروي، والیان به د بهیر مشري کوي. خو که څه هم په دغه پالیسۍ کې ځینې اداري دندې واضحې ښکاري، نور یې بیا تتې دي. ځکه نو د دغې پالیسۍ پلي کولو لپاره د مختلفو ادارو له خوا د ورپسې ګامونو اخیستلو ته اړتیا ده. په عمل کې، په ولایتي او ملي کچو د پلان او بودیجې جوړولو کار تر ډېره همغږی نه دی. که په کابل کې ولایتونه په یو اړخیز ډول د ولایتي بودیجې په اړه پرېکړه کوي، دا ښایي د شته سیستم د پیاوړي کېدو لامل شي. بله ننګونه د یوه همغږي او تړلي ولایتي بودیجې نشتوالی دی. د اختیاري ولایتي بودیجې وېش ښایي د یوه تړلي او همغږي ولایتي بودیجې جوړولو لپاره د یوه چوکاټ جوړېدو ته لاره هواره کړي. ځکه نو د نوې PBP تطبیق یوه ننګونه ده.

د PBP پلي کول په وزارتونو او ریاستونو کې د سمونونو له بریالي تطبیق سره تړلی دی. په کابل کې د وزارتونو او ولایتو کې د ریاستونو کمزوریو د پلي کولو بهیر لا ننګونکی کړی دی. د مثال په ډول PBP د خزانې په ریاست غږ کوي چې د بودیجې د وېش او پیسو ورکړې قانوني کولو لپاره نوې لارښونې جوړې کړي. دا ښیي چې ان پالیسۍ هم د وېش او پیسو ورکړې بهیرونو کې دندې او بدلونونه په واضح ډول نه دي په ګوته کړي. اړوند ریاستونه ښایي تر یوه کال وخت ته اړتیا ولري چې اړینې لارښونې جوړې کړي. ځینې وخت، که د یوه قانون بدلولو ته اړتیا وي، ښایي څو کلونه وخت ونیسي چې د پلان او بودیجې جوړولو شته سیستم له نوې پالیسۍ سره برابر شي.

۹۳ د ولایتي پلان او بودیجې جوړولو پالیسي بحث، کابل، ۲۰۱۵م کال اکتوبر ۱۱مه.

۹۴ د ولایتي پلان او بودیجې جوړولو پالیسۍ بحث پر مهال راټول شوي نظرونه، کابل، د ۲۰۱۵م کال اکتوبر ۱۱مه.

ځکه نو ضروري ده چې په منځمهال کې PBP ته کتنه وشي او د زده شوو درسونو پر اساس اصلاح شي. دغه پالیسي هر اړخیزه یا په کافي ډول واضحه نه ده خو د ولایتي پلان او بودیجې جوړولو بهیر ښه کولو په لور یو مهم ګام دی. ځکه نو په منځمهال کې باید PBP ته د زده شویو درسونو او کارپوهانو د سپارښتنو په اساس بیا کتنه وشي.

## ۵.۳ اجماع او مخالفتونه

د افغان حکومت او بهرنیو مرستندویانو ترمنځ اجماع رامنځته شوې چې کابل کې مرکزي حکومت باید د یو شمېر پرېکړو واک والیانو او ولایتو کې ریاستونو ته ورکړي. د واک دغه ډول لېږد ته د افغانستان په اساسي قانون کې هم اشاره شوې خو حقیقي بڼه یې لا نه ده غوره کړې. افغان حکومت ټینګار کړی چې د شته واحد حکومتي جوړښت دننه د ځینو مشخصو خدمتونو واک ولېږدوي او په دې تړاو، IDLG او د مالیې وزارت تخنیکي بهیر پر مخ وړي دي. د لېږد یا غیرمرکزیت یوه کاري ډله تعین شوې چې د لېږد بهیر مهم پړاوونه په ګوته کړي او له مختلفو ښکېلو غاړو سره سلا مشورې وکړي.

په دې وروستیو کې د ولایتي پلان او بودیجې جوړولو بهیر ځینې اداري دندې د PBP له لارې واضح شوې دي، او له راتلونکې SNGP څخه هم همدا تمه کېږي. PBP د پلان او بودیجې جوړولو بهیر کې ترڅایه د مالیې وزارت، د اقتصاد وزارت، اړوند وزارتونو، ولایت کې ریاستونو، ټاکلو شویو PCs او مستوفیتونو دندې او رولونه واضح کوي. د PBP پر بنسټ، والیان به په ترتیب سره ولایتي پلانونه او د PDC او د عامه مالي چارو مدیریت کمېټې له خوا وړاندې شوې بودیجه منظوروي. PDCs به د مختلفو ریاستونو او ښکېلو غاړو ترمنځ د ولایتي پلان او بودیجې جوړولو بهیر همغږی کوي، په داسې حال کې چې مستوفیتونه او ولایت کې د اقتصاد ریاستونه به د ولایتي بودیجې او پلان بهیرونه همغږي کوي.

د مالیې او اقتصاد وزارتونه به ولایتي پلان او بودیجې وړاندیزونو ته د بودیجې جوړښت سره سمون ورکوي. وزارتونه به بیا د سکتورونو د اعظمي کچې بودیجې په پام کې نیولو سره ملي پروژو لپاره سرچینې په ګوته کوي او بودیجه به ولایتي ریاست ته سپاري. د بودیجې کمېټه به د ولایتي بودیجې ابتدایي اعظمي کچه ټاکي. وروسته به ولایتي ریاستونه په کابل کې د اړوندو وزارتونو د غوښتنې پر اساس خپلې بودیجې جوړوي. د PBP پر اساس، ولایتي ریاستونه به د خپلو بودیجو وړاندیزونه د PDPs پر اساس جوړوي. PCs مشورتي رول لري. PBP په نظر کې لري چې د مالیې وزارت به په هر ولایت کې یوه ولایتي د مالي چارو د مدیریت کمېټه جوړوي چې د اړوندو وزارتونو او د هغوی ولایتي ریاستونو ترمنځ اړیکې ټینګې او همغږي رامنځته کړي. دغه پالیسي پر بهرنیو مرستندویانو غږ کوي چې د تخنیکي مرستو او ځایي حکومتولۍ پروګرامو ته د بودیجې ورکولو له لارې د ولایتي بودیجې بهیر ملاتړ وکړي.

والیانو او ریاستونو ته د ځینو مشخصو پرېکړو واک پر ورکولو د ټولیزې اجماع سربېره، دغه واکونه او ورسره میکانیزمونه یې تر اوسه په واضح ډول تشریح شوي نه دي. په ډېرو مواردو کې، PBP د نورو اړوندو قوانینو او پالیسیو جوړېدو ته انتظار ویستلی، چې د تطبیق بهیر پر وړاندې خنډ جوړوي. PBP باید نوره هم واضحه شي، ځکه، د مثال په ډول، په کې د ټولیزه ولایتي بودیجه په نظر کې نه ده نیول شوې. که څه هم په پالیسۍ کې ولایتو ته بودیجې د نامشروطه لېږد یادونه شوې، خو دا نه دي ویل شوي چې یو ولایت به څومره مشروطې بودیجې ته لاسرسی لري یا ولایت به له یوې پروژې څخه بلې پروژې ته د شته ولایتي بودیجې د اعظمي کچې پر اساس د څومره بودیجې د لېږد اختیار ولري.

پالیسي د تطبیق بهیر د څار په اړه کافي وضاحت نه وړاندې کوي. داسې ښکاري چې د بهیر مدیریت مهمه اندېښنه ده. په داسې حال کې چې د IDLG مرستیال مشر وویل چې د تطبیق بهیر څار په برخه کې به د والیانو رول پیاوړی شي، خو دا ښایي د ګټو ټکر په تړاو اندېښنې راپورته کړي. والیان د حکومت د اجرایوي څانګې استازي دي. ځکه نو دوی ښایي د وزارتونو او ریاستونو ننګولو ډېره کمه لېوالتیا ولري. که څه هم ټاکل شوې PCs ښایي د تطبیق څار کې په پرتلیز ډول ډېر هدفي یا علمي رول ولوبوي، خو دوی په رسمي توګه دغه ډول رول نه لري. د PBP پر اساس، دوی به پلانونو او بودیجو په تړاو مالومات شریکوي نه دا چې د پلي کونکو ادارو څار وکړي. دغه پالیسۍ تر ډېره بهیرونه تشریح کوي. د مرکزي او ولایتي ادارو د واکونو ترمنځ د بېلتون یوه واضحه کرښه مهمه ده. که دغه ډول ستونزو ته پام و نه شي، نو ډېرې ښې هڅې او بهیرونه به بې اغېزې وي. PBP یو مهم سند دی، خو دا لا بشپړ نه دی، د تطبیق بهیر یې په اړوندو وزارتونو او ولایتي ریاستونو کې له اړوندو سمونونو سره تړلی دی.

په تېره لسیزه کې سیاستونو د پلان او بودیجې بهیرونه اغېزمن کړي دي. دا چاره په ولایتو کې د لوړپوړو ګومارنو په بهیر کې جوته ده. په ځانګړې ډول والیانو ولایتي اداري ډېرې اغېزمنې کړې دي. د کرزي حکومت والیان او نور جګپوړي ولایتي چارواکي تر ډېره

د سیاسي ملاحظو چې په کې له اغېزمنو سیاستوالو او سیاسي ګوندونو سره د دوی اړیکې شاملې وې، پر اساس ګومارل[۹۵]. ډېرو والیانو د پلان او بودیجې پېچلتیاوو مدیریت کولو او له شته ځایي وړتیاوو څخه د ګټې اخیستنې لپاره تخنیکي وړتیا او د مشرۍ مهارتونه نه لرل[۹۶]. ځکه نو د همغږۍ، باور، وړتیا او ژمنتیا په برخو کې ستونزې پیدا شوې. په ډېرو ولایتو کې د مرکزي حکومت او ولایتي مشرتابه ترمنځ د باور کمي په اغېزناکه توګه د ځایي مالي لومړیتوبونو په نښه کولو بهیر پر وړاندې خنډونه جوړ کړي دي[۹۷].

## ۵.۴ محدوده وړتیا

د وړتیا نشتوالی یوه غلطونکې اصطلاح ده چې مختلف لوبغاړي یې ډېر کله په افغانستان کې د سیمه ییزې حکومتولۍ د تشریح کولو لپاره کاروي. د مهارتونو کمي ته د وړتیا نشتوالي نوم ورکول د یوه ریاست د وړتیا نور اړخونه لکه کارکونکي، اساسي قوانین او بنسټونه له پامه غورځوي. په ولایتي او ولسوالیو کچو د حکومت ریاستونه او دغه راز بنسټیز قوانین شتون لري، سره له دې چې ځینې یې ډېر پخواني دي، ځکه نو په سیمه ییزه کچه د وړتیا یوه بنسټیز واحد موجود دی (داسې نه ده چې ګنې هېڅ راز وړتیا نشته). خو د ولایتي ریاست وړتیا محدوده ده، او دوی په اغېزناکه توګه د خپلو بودیجو د چمتو کولو او پروژو پلي کولو کې شاته پاتې دي. د حکومت د خدمتونو وړاندې کولو وړتیا له یوه ولایته تر بل ولایته توپیر لري. په عمومي ډول، ولایتي ریاستونه کمزوري او پاشلي دي. د ۲۰۰۱ م کال له وروستیو راهیسې، حکومت او مرستندویانو تر ډېره په کابل کې د وزارتونو او ریاستونو د وړتیا پر لوړولو پام راغونډ کړی دی. ځکه نو د وړتیا لوړولو یو نااندوله پروګرام پلی شوی دی. په داسې حال کې چې نوې PBP تر ځایه د مختلفو ولایتي ادارو او ریاستونو دندې په ګوته کوي، خو په غیرمرکزي کچه د وړتیا لوړولو ضرورت ته کمه توجه کوي. حکومت باید د ولایتي پلان او بودیجې جوړولو د بهترۍ سمونونو د تطبیق سره موازي د وړتیا لوړولو پروګرامونه هم پلي کړي.

د ولایتي ریاستونو پر جوړښت د نوې PBP عواقب په پالیسۍ کې نه دي شامل شوي. بدلونونه او د شته ریاستونو او چارواکو د کار لایحې په جوړښت کې ځای شوي دي. د ملکي خدمتونو کمېسون په مختلفو ریاستونو کې د وړتیا لوړولو بهیر همغږي کولو کې مهم رول لوبولی شي. درې برخې په ځانګړې ډول بېړنې پام ته اړتیا لري. لومړی، د بودیجې جنتري باید بدله شي، چې ولایتي ریاستونه او PDCs د خپلو پلانونو جوړولو فرصت ترلاسه او له ولایتي بودیجې سره یې یوځای کړي. دوهم، د ریاستونو جوړښت ته باید بیاکتنه وشي ترڅو دوی وکولی شي په متواتر ډول د خپلو پلانونو او بودیجو جوړولو لپاره چارواکي وګوماري. دریم، د وړتیا لوړولو یو هراړخیز پروګرام باید پیل شي.

ځینو PDPs د خواهشاتو لست او غیرواقعي موخې ټاکلې وې، ځکه نو دوی په پرتلیز ډول کم اغېزناکه و. د مثال په ډول، یوه ولایتي اړوند ریاست د یو پلان وړاندیز وکړ چې یو میلیارد امریکایي ډالره لګښت یې درلود – د وزارت له ټولټال بودیجې هم زیات. په داسې حال کې چې دا شاید په ولایتونو کې د پلان جوړونې محدودې وړتیا ته اشاره وکړي چې نه شي کولی د افغانستان مالي محدودیتونه په پام کې ونیسي، یو بل حقیقت هم ځرګند دی. دا ستونزه د پراختیایي بودیجې جوړولو کې عادي ده او بنایي د اړوندو وزارتونو له کمزورې وړتیا سره وتړل شي چې نه شي کولی د بودیجې اعظمي کچه مالومه کړي. ډېر کله، ولایتي ریاستونه د شته بودیجې د کچې په اړه پوهاوی نه لري. د مالوماتو دغه نشتوالی بنایي د غیرواقعي پلان جوړولو لامل شي. د اقتصاد وزارت یو رئیس وایي چې د مالیې وزارت د پلان اړوندو ادارو ته د ولایتي بودیجې د اعظمي کچې مالومات نه ورکوي، چې له امله یې غیرواقعي پلانونه جوړېږي[۹۸].

## ۵.۵ د ځواب ورکونې کمی

حکومت په ولایتي کچه د ځواب ورکونې ودې او اداري کولو چاره له پامه غورځولې ده. په ځانګړې ډول، حکومت د ډیزاین په چارو کې کورنۍ او بهرنۍ ځواب ورکونې، د سرچینو وېش او تطبیق بهیر د پیاوړي کولو لپاره د میکانیزمونو جوړولو ته کافي پام نه دی کړی. د SAO پام تر ډېره د مرکزي حکومت د حسابونو پر پلټلو او ارزولو راغونډ دی. ځکه نو ولایتي ځواب ورکونې ته نه پام د حکومتي مامورینو ترمنځ د بې تفاوتۍ کلتور پیدا کړی دی. دغه حالت په بهیرونو کې د خلکو کمزوري ګډون، چې کولی شي له ولایتي لوبغاړو او چارواکو ځواب وغواړي، لا خراب کړی دی. له بلې خوا، د ټیټې کچې په لور ځواب ورکونه کمزورې ده. تر ننه، ټاکل شوې PCs (یوازې) مشورتي رول لري. په دې تړاو، اجرایوي ځانګې بنایي په هدفي ډول د پروژو تطبیق یا بودیجې اجرا چارو ځار لپاره ډېره لېوالتیا نه وي لرلې.

---

۹۵ ملیار صادق، (راز تقرر والی ها: ګزارش ویژه)، (د والیانو د ګومارلو راز: ځانګړی رپوټ)، (کابل: کلید ګروپ، ۲۰۱۰).
۹۶ مهم مرکه ورکونکی، د ولسي جرګې غړی، کابل، د ۲۰۱۵م کال اکتوبر لسمه.
۹۷ مهم مرکه ورکونکی، د ولسي جرګې غړی، کابل، د ۲۰۱۵م کال اکتوبر لسمه.
۹۸ مهم مرکه ورکونکی، د اقتصاد وزارت یو رئیس، کابل، د ۲۰۱۵م کال اکتوبر شپږمه.

شواهد ښیي چې د پلان او بودیجې جوړولو بهیرونو کې د خلکو ګډون ځواب ورکونه زیاتولی شي. د NSP لاندې ټاکل شوې پراختیایي شوراګانې (لکه DDCs) یې ښه مثال دی، ځکه دوی ځواب ورکونکي او باوري اداري دي. د دغه پروګرام له مخې د بودیجې ضایع کېدو یا بې ځایه لګېدو هېڅ رپوټ نه دی ورکړل شوی، او خلک د ځایي پروژو په پلان، تطبیق او اجرا کې ګډون کوي[۹۹]. د NSP په بریالیتوب کې دوو میکانیزمونو مهم رول لوبولی دی. لومړی، افغان حکومت له بهرنیو مرستندویانو سره په سلا د تمویلېزو او ځایي پروژو د ډیزاین، څار او پلي کولو لپاره واضحه رولونه او دندې وټاکلې. دوهم، خلکو په دغه بهیر کې او له مختلفو لوبغاړو او چارواکو څخه په ځواب غوښتنه کې یې په پوره ډول ګډون وکړ[۱۰۰].

د ولسي جرګې یوه غړي ووېل چې د والیانو څوکۍ سیاسي دي. تر ډېره، دوی نه د تدارکاتو قانون په نظر کې نیسي او نه هم د عامه مالي چارو د مدیریت قانون، او د پروژو د قراردادونو او پیسو د ورکړې په برخه کې اختیار هم لري. والیان ولسمشر تعقیبوي[۱۰۱]. دوی PCs ته ځواب نه ورکوي. که څه هم کابل کې حکومت پوهېږي چې والیان ولسمشر تعقیبوي، خو پارلمان استدلال کوي چې د والیانو ولسمشر ته ځواب ورکونه ډېموکراتیکه ځواب ورکونه او ټاکل شوی اداری لکه PCs او پارلمان کمزوري کوي.

د دې ترڅنګ، د ولسي جرګې د مرکه شوي غړي په وینا، د IDLG مشر ځان د والیانو مشر ګڼي، خو هغه والیانو لپاره د اداري ملاتړ د یوې اداري مشر دی. د تیوري له مخې، والیان باید د IDLG مشر ته رپوټ ورکړي چې دی بیا ولسمشر ته رپوټ ورکوي. (خو ځینې والیان ان ځانونه ولسمشر ته هم ځواب ورکونکي نه بولي، نو IDLG ته به ځانونه ولې ځواب ورکونکي وګڼي؟)[۱۰۲] دې چارې ته هم پام شوی چې کله سرچینې ولایتي کچې ته ورسول شي او که د ځواب ورکونې میکانیزمونه پیاوړي نه شي، نو په خزانه کې به د قانوني او غیرقانوني پیسو ورکړې تناسب زیات شي او له لوبغاړو یا چارواکو ځواب نه غوښتل کېږي. ځکه نو د بودیجې بهیر غیرمرکزي کول ښایي اداري فساد او د سرچینو ضایع کېدل زیات کړي.

PBP والیانو ته فرصت ورکوي چې د ولایتي پروژو د پلي کېدو بهیر وڅاري. خو د ټاکلو شویو PCs د څار رول په واضح ډول نه دی تشریح شوی. کله چې والیان د حکومت د اجراییوي څانګې استازیتوب کوي، نو مهمه ده چې واضحه شي ایا PC هم د والیانو کار څارلی شي که نه. که والیان د ولایتي پلان او بودیجې جوړولو کار مشري کوي، نو په عمل کې باید PCs د والیانو او ولایتي ریاستونو کار وڅاري. دغه ډول څار هغه مهال لا مهم دی چې والیانو ته په بودیجه کې لا زیات واک ورکړل شي.

ځکه نو، د غیرمرکزي پلان او بودیجې جوړولو لپاره د ځواب ورکونې زیاتول او پیاوړي کول هم مهم دي. نوې پالیسي دا له پامه غورځوي چې SAO باید څه ډول ولایتي پلان جوړونه وڅاري. د PCs د څار رول لا تر اوسه په واضح ډول نه دی تشریح شوی. ځکه نو دغه برخې سملاسي خو په احتیاط، پام ته اړتیا لري. مهمه ده چې سمونونه په تدریجي ډول پلي شي چې له اندازې زیات مرکزیت، تنې اداري دندې، محدودې وړتیا او د ځواب ورکونې کمې ستونزې حل کړي.

## ۵.۲ سپارښتنې

د لیکنې په مخکنیو برخو کې، یادونه وشوه چې افغانستان لپاره په لنډ او منځمهال کې دوه ممکنه غوراوي شته: عمودي غیرمرکزیت او د ترکیبي په څېر غیرمرکزیت. عمودي غیرمرکزیت ډاډمن نه، ځکه اجراییوي څانګه ښایي تقنیني څانګې ته د خپلو واکونو ورکولو په اړه ډېر محافظه کاره او بې زړه وي، تقنیني څانګه به نه یوازې په مرکز کې د وزارت بلکې د هر ولایتي ریاست بودیجه به منظوروي. تر هغو چې یې د حل لاره لټول کېږي، د سیاسي اقتصاد په تړاو دغه ډول اندېښنې شاید د عمودي غیرمرکزیت پر وړاندې خنډ وي.

د ګڼو مختلفو لوبغاړو یا چارواکو د ښکېلتیا له کبله (اجراییوي، تقنیني څانګې او ان وزارتونه د واک له لاسه ورکولو وېره لري)، د غیرمرکزیت اړوند سمونونه باید په تدریجي ډول پلي شي. په دې پړاو کې، له جلا ولایتي بودیجو پرته، د لاسلیک په پرتلیز ډول ډېر واک، لکه د ترکیبي په څېر، ښای په پیل کې یو نستبآ ډېر د اجرا وړ او عملي غوراوی وي، چې نهایي موخه یې له دریو تر پنځو کلونو پورې ولایتي بودیجې د اړوندو وزارتونو له بودیجو سره یوځای کول دي. دغه حالت د کمبوډیا له حالت سره ورته دی چې په کې تقنیني څانګه دواړه مرکزي او ولایتي بودیجې منظوروي. دغه ډول تګلاره خپلول ښایي د پلي کولو بهیر یوې ارزونې ته اړتیا ولري چې تګلاره د افغانستان حالت په تړاو بیا ترتیب شي.

۹۹ مهم ځواب ورکونکی، پخوانی وزیر، کابل، د ۲۰۱۵م کال اکتوبر ۱۱مه.

۱۰۰ برکات او ستراند، (د ملي یووالي پروګرام منځمهالې مودې د ارزونې رپوټ).

۱۰۱ مهم مرکه ورکونکی، د ولسي جرګې غړی، کابل، د ۲۰۱۵م کال اکتوبر لسمه.

۱۰۲ مهم مرکه ورکونکی، د ولسي جرګې غړی، کابل، د ۲۰۱۵م کال اکتوبر لسمه.

د پلان او بودیجې جوړولو سیستم د سمون هر ډول هڅه یوې اوږدمهالې تګلارې ته اړتیا لري چې په کې سیمه ییز چوکاټ په واضح ډول تشریح شوی، د حکومت فعالیتونه له مرکزه ولایتو ته لیږدول شوی، د ورتیا لوړولو یو جامع او هراړخیز پروګرام پلی شوی او له لوړې کچې د ټیټې کچې په لور ځواب ورکونه پیاوړې شوې وي. زموږ څېړنې عمده سپارښتنې په لاندې ډول دي:

## د پلان او بودیجې بهیر غیرمرکزي کول

- د ازمېښتي پروژو او ګامونو (په ځانګړې ډول د بودیجې د پراختیایي برخې لپاره) د پایلو ارزولو له لارې باید ولایتي ریاستونو ته د وزارتونو بودیجو وېش لپاره واضح قوانین (شرایط) وټاکل شي.
- د PLDs د لاسلیک واک باید زیات شي، او په ولایتي کچه باید د ځواب ورکونې میکانیزمونه لکه لا جدي کورنی کنترول او د پلټنې او ارزونې میکانیزمونه رامنځته شي او په ابتدایي پړاو کې باید جلا بودیجې و نه لري.
- د دوو تر دریو کلونو ازمېښتي موده کې، که لومړي پړاو ښه نتیجه ورکړه، نو اړوندو ولایتي ریاستونو ته باید اجازه ورکړل شي چې د ولایتي میکانیزمونو په مټ تړلي او په عمودي ډول غیرمرکزي ولایتي بودیجې جوړې کړي او بیا یې وزارتونو ته د غور او تقنیني منظورۍ لپاره ولېږي.
- افقي غیرمرکزیت (چې په کې د ولایتي ریاستونو بودیجو واک له والیانو سره وي) باید د یوه اوږدمهاله تګلارې په توګه په نظر کې ونیول شي، یوازې هغه مهال چې د والیانو د ځواب ورکونې میکانیزمونه وټاکل شي.
- د بودیجې ترتیبولو او جوړولو موده باید وغځول شي.

## د ښکېلو غاړو د رولونو او دندو او په کابل او ولایتو کې د پلان او بودیجې جوړولو بهیر د همغږي میکانیزمنو په ګوته کول

- د پلان او بودیجې جوړولو بهیرونو کې باید د مخالفتونو او اداري سیالیو اصلي لاملونه و ارزول شي.
- د هغو دندو او مسئولیتونو یوه مسلکي بیاکتنه باید ترسره شي چې د مرکز او ولایتي ریاستونو ترمنځ به وېشل کېږي.
- د تدارکاتو بهیر کې د بودیجې جنترۍ، بودیجې محکمو، مالي چارو قوانینو او بیوروکراسیو په تړاو باید د عامه مالي چارو او لګښتونو مدیریت او د تدارکاتو قانون کې د سمونونو وړاندیز په موخه باید یوه قانوني بیا کتنه ترسره شي.
- داسې ستراتېژیانې باید پیل شي چې د ښکېلو غاړو ترمنځ اجماع او همکارۍ پیاوړې کړي.
- د ټاکلو شویو PCs او PDCs رولونه او دندې باید په واضح ډول تشریح شي.
- د مالیې او اقتصاد وزارتونه باید په بهیرونو کې د لا نور وضاحت راوستلو له لارې په ملي پلان او بودیجه کې د ولایتي پلانونو او بودیجو یوځای کولو لپاره یو څرګند میکانیزم جوړ کړي.
- د ښاریتوب ممکنه ستونزو ته په پام سره، د ولایتي پلان جوړونې ښاري اړخونه باید په ښه ډول په ملي پلانونو کې شامل شي.

## د ولایتي ریاستونو د پلان او بودیجې جوړولو وړتیا لوړول

- د ارزونې یوه ګډه کمېټه (د مالیې وزارت، د اقتصاد وزارت، او IDLG) باید جوړه شي چې د شته ولایتي ریاستونو وړتیا ته کتنه وکړي او د لومړیتوب پر اساس د وړتیا لوړولو اړتیاوې په ګوته کړي.
- یوه ملي پروژه باید پیل شي چې ولایتي کارکونکو ته د پلان او بودیجې جوړولو په برخه کې روزنه ورکړي.
- د لېږد یا بورسیې یو پروګرام باید پیل شي چې له لارې یې ولایتي کارکونکي په کابل کې د لنډو مودو لپاره د کار کولو فرصت لاسته راوړي.

### د سیمه ییزې ځواب ورکونې بهیر ښه کول

- د SAO او PCs وړتیا او اعتبار، او دغه راز پارلماني څار باید زیات کړای شي.
- د SAO د اړتیاو یوه ارزونه باید ترسره شي او د مرستندویانو او پلټنو د ادارو له خوا باید تخنیکي مرسته ورسره وشي.
- ولایتي SAOs باید په دوامداره توګه PCs د پلټنې او ارزونې له بهیرونو خبر کړي.
- د مرکزي او ولایتي ریاستونو د پلټنې او ارزونې رپوټونه باید په دوامداره توګه او عام فهمه ډول خپاره شي.
- جنډر ته ژمنې بودیجې جوړولو په پام کې نیولو سره باید د ګډې پلان جوړونې، ټولنیزو پلټنو او ارزونو، او د بودیجې ملاتړ وشي.
- د پارلمان غړي باید د روزنې او پارلمان لپاره د بودیجې له کارپوهانو جوړ یوه واحد له لارې د ملي او ولایتي بودیجې د پارلماني څار په اړه باخبره وساتل شي.
- د مالي چارو رونوالی باید د ولایتي بودیجوي احصایو د خپرولو له لارې پیاوړی شي.

# ضميمې

## لومړۍ ضميمه: اړوندو ولايتي رياستونو ته په عمودي ډول غيرمرکزي شويو لګښتونو او عايداتو لپاره، له جلا بوديجو پرته (د ترکيې د لويو لارو عمومي رياست)[۱۰۳]

د ترکيې د لويو لارو د عمومي رياست (GD) په برخه کې، د لګښتونو د واک عمودي غيرمرکزيت ډېر څرګند دی. د لويو لارو عمومي رياست د مرکزي حکومت لاندې يوه حکومتي اداره ده چې خپل عايدات لري (د پولونو فيسونه، له ملکيتونو څخه د کرايو عايد، د ملکيتونو د پلور عايد، وغيره)، خو دغه رياست د خپلو لګښتونو د تمويلولو لپاره له ملي بوديجې هم يو څه بوديجه لاسته راوړي. د دغې ادارې مرکزي دفتر په انقره کې دی، په داسې حال کې چې د هېواد په ۱۷ سيمو او ۸۱ ولايتونو کې هم دفترونه لري. د بوديجې جوړولو د دورې په پيل کې، د ماليې وزارت د تاريخي لګښتونو او انفلاسيون په نظر کې نيولو سره هر مرکزي رياست ته د بوديجې اعظمي کچه لېږي. دوهم، دغه عمومي رياست ټاکل د بوديجې ټاکل شوې اعظمي کچې پر نورو سيمه ييزو دفترونو وېشي. د دغه وېش لپاره کوم فورمول نه کارول کېږي، بلکې د هرې سيمې لپاره د تاريخي اعظمي کچو پر اساس تعينېږي او د راتلونکي کال انفلاسيون هم په کې په نظر کې نيول کېږي.

کله چې سيمې د بوديجې اعظمي کچې لاسته راوړي، دوی خپلې عملياتي او پراختيايي بوديجې چمتو کوي چې په کې دواړه روانې او نوې پراختيايي پروژې شاملې دي، او ټولې د ولايتي همغږۍ کمېټې په مشورو او پرېکړو ټاکل کېږي. د لويو لارو عمومي رياست مرکزي دفتر دغه مالومات د دغه رياست د ملي بوديجې جوړولو لپاره ټولوي. پر ملي بوديجې بيا د پراختيا له وزارت سره سلا مشورې کېږي او د پانګونې په ملي پروګرام کې شاملېږي. يوازې د سترو پراختيايي پروژو لکه د لويو لارو جوړولو قراردادونه په مرکز کې لاسليکېږي خو د تطبيق او څار چارې يې سيمه ييز رياستونه پر مخ وړي.

وروسته له هغه چې د عمومي رياست بوديجه د پارلمان له خوا منظوره شي، ولايتي رياستونو ته د هغوی د برخو په اړه خبر ورکول کېږي. د ولايتو اجرايوي غړي د لګښتونو له وړاندې ټاکل شوې واکونه لري چې د عملياتي بوديجې په جوړولو او دغه راز په خپلو ولايتونو کې د پراختيايي پروژو د قراردادونو لاسليکولو لپاره ترې کار اخيستلی شي. دوی د لګښتونو په مختلفو ليکو کې د خپلې بوديجې د لېږد را لېږد واک لري پرته له دې چې له عمومي رياسته منظورې وغواړي. نغدې پيسې د ټولو اړوندو رياستونو ته د ټولو اړوندو رياستونو د درې مياشتنيو مالي پروګرامو پر اساس او په يوه بشپړ ډول کمپيوټري مرکزي خزانې حساب له لارې لېږدول کېږي.

---

۱۰۳ مهم مرکه ورکونکی، د لويو لارو د عمومي رياست د کورني پلټنو او ارزونو د ادارې مشر، انقره، ترکيه، د ۲۰۱۵م کال د دسمبر ۲۲مه.

## دوهمه ضمیمه: په ترکیه کې د ملي او ولایتي پلان جوړونې جوړښت

په ترکیه کې، د پراختیا وزارت (چې پخوا د حکومت د پلان جوړونې اداره نومېده)، لکه څرنګه چې اداري قانون کې تشریح شوې، د پلان جوړونې کار په غاړه لري. دغه وزارت ستراتېژیانې، پنځه کلن پلانونه، منځمهالي پروګرامونه (درې کلن دوامداره پلانونه)، او د سیمه ییزې پراختیا ستراتېژیانې جوړوي. یاد وزارت مرکزي او ځایي چارواکو ته هم د دوی ستراتېژیکو پلانونو جوړولو په برخه کې لارښونې کوي.

د عامه مالي چارو مدیریت او کنترول قانون (۵۰۱۸مه شمېره) د عامه پانګونې پروژو لپاره د وړاندیزونو د بهیر اصلونه بیانوي. په همدې ترتیب، د پراختیا وزارت له خوا د ټاکل شوي وخت او سرچینو پر بنسټ چې د پانګونې پروګرام د چمتوالي لارښود او نورو قوانینو له مخې تعنیبږي، د عامه پانګونې پروژې جوړېږي، پلي کېږي او څارل کېږي (د ځایي حکومت له پروژو پرته چې بهرنۍ بودیجه نه کاروي). دغه وزارت د عامه سکتور پروژو د موادو د څار مسئولیت هم لري.

ولایتي اداري هم د عامه پانګونې پروګرام پلان او همغږۍ کې مهم رول لوبوي. ولایتي اداري باید دا ډاډ ترلاسه کړي چې د مختلفو ادارو ترمنځ د چمتو کولو، پلي کولو او څار پړاوونو پر مهال دوارډه همکاري او همغږي موجودې دي، او په ځانګړې ډول دا چې ټاکل شوې بودیجې په ورکړل شوي وخت او تعین شویو موخو لپاره کارول کېږي. د همغږۍ ولایتي شوراګانې په قانوني ډول د دغه مسئولیت لپاره جوړ شوي دي. د همغږۍ ولایتي شوراګانو له خوا منل شوي پراختیایي پروژې اړوندو وزارتونو ته لېږل کېږي چې د پانګونې په پروګرام کې شاملې شي، او د بودیجې اعظمي کچه په نظر کې ونیسي. د والیانو دفترونه د ولایتي پلان د همغږۍ اداره لري. په دغه اداره کې داسې کارپوهان کار کوي چې د وړتیا ازموینې له لارې ګومارل کېږي.

د پلان جوړونې بهیر کې په ملي کچه ګډون، د هر پنځه کلن پراختیایي پلان د مودې په پیل کې، د یو شمېر ځانګړو موقتي کمېټو له لارې چې علمي اشخاص، مسلکي غیرحکومتي اداري، د سوداګریو استازي، د سوداګرۍ ټولنې او د څېړنې اداري په کې شاملې دي، ډاډمنېږي. په ولایتي کچه ګډون تر ډېره د مشورتي ادارو یعني د همغږۍ ولایتي شوراګانې، پراختیایي شوراګانې او د خلکو د سلامشورې کمېټې له لارې کېږي.

لاندینی انځور د ملي او ولایتي پراختیا ترلې بهیر کې مهم لوبغاړي یا چارواکي تشریح کوي.[104]

**دریم انځور: په ترکیه کې د پراختیایي پلان طبقې او ولایتي همغږي**[105]



۱۰۴ اروپایي ټولنه او د ترکیې د کورنیو چارو وزارت، (د ځایي پانګونې پلان وړتیا لوړولو د پیاوړي کولو پخاطر د ځایي لوبغاړو له ګډون سره تخنیکي مرستې: په ترکیه کې د عامه پانګونې بهیر په اړه شالید مالومات)، www.tulip.org.tr/Portals/0/public_investment_process_in_turkey.pdf، د ۲۰۱۴م کال نومبر، (ترلاسه شوی د ۲۰۱۷م کال مې پر ۲۱مه).

۱۰۵ IKIS: د ترکۍ ژبې لنډون چې د مالوماتي سیستم مدیریت لپاره کارول کېږي (ولایتي همغږي او د څار سیستم).

# ماخذونه:


الن، رچرډ او ډانیل توماسي، ایډ. د عامه لګښتونو مدیریت: د انتقالي هېوادونو لپاره لارښود کتاب. پاریس: OECD، ۲۰۰۱.

اتیاس، ایزاک او سیرف سین. (په ترکیه کې بودیجوي اداري). په منځنۍ ختیځ او شمالي افریقا اقتصادونو کې موضوع ګانې ۲ (۲۰۰).

اتیاس، ایزاک او سیرف سین. (سیاسي او مدیریتي ځواب ورکونه او بودیجوي سیستم، په ترکۍ ژبه). استنبول: د ترکي اقتصادي او ټولنیزو څېړونو بنسټ، ۱۹۹۷.

برکات، سلطان او ارنې سټرانډ. (د ملي یووالي پروګرام منځمهالې مودې د ارزونې رپوټ، افغانستان). یارک او کابل: د یارک پوهنتون او د افغانستان د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت، ۲۰۰۷.

بیرډ، ویکټوریا، فرانک میرافتاب او کرستوفر سیلور، ایډ. پلان جوړونه او د غیرمرکزیت بهیر. اوکسن: روټلیج، ۲۰۰۸.

بیژن، **نعمت الله**. (دوام، مرستې او بیارغونه: په سوېلي کوریا، تایوان، عراق او افغانستان کې حکومت جوړونه). د GEG کاري لیکنه **۱۰۹/۲۰۱۵**، د اکسفورډ پوهنتون، **۲۰۱۵**.

بیژن، **نعمت الله**. (د کمزورو هېوادونو د بودیجوي روڼوالي حالت ښه کول: له افغانستان زده شوي درسونه). د GEG کاري لیکنه **۱۱۷/۲۰۱۲**، د اکسفورډ پوهنتون، **۲۰۱۲**.

بویکس، جیمي او همیش نیکسن. (په افغانستان کې د پوهنې لپاره د شرایطو او نورمونو پر اساس د ولایتي بودیجې وېش: په ۱۳۹۰ کال کې د شرایطو پر اساس تګلارې پر سر د سلا لپاره تخنیکي لارښود). واشنګټن، ډي سي: نړیوال بانک، ۲۰۱۰.

بویکس، جیمي. (د افغانستان د سیمه ییزو مالي چارو د جوړښت څېړنه: د کلیو، ولسوالیو، ولایتونو او مرکز ترمنځ د مالي چارو اړیکو په پام کې نیول). واشنګټن، ډي سي: د اربن انسټیټیوټ، ۲۰۱۰.

برینکرهوف، ډېرېک. له جګړې وتلو ټولنو کې حکومتولي: د کمزورو هېوادونو بیارغول. لندن: روټلیج، ۲۰۰۷.

بروسیو، جیورجیو او جوان پابلو جیمینیز. (له مرکزیت سربېره مالیې په مرکز کې ساتل، له ملي سمونونو سره اړیکې). په، (ایا غیرمرکزیت د پراختیا لپاره ګټور دی؟)، کې. اېډېټ شوی د جین-پال فګټ او کرولین پوشل له خوا، **۱۷۹-۱۹۵**. اکسفورډ: د اکسفورډ پوهنتون خپرونه، **۲۰۱۵**.

د بودیجې او حکومتولۍ ځواب ورکونې مرکز. (د افغانستان د ملي بودیجې په اړه د مالوماتو وسیله). .http://www ۲۰٪۲۰Budget٪۲۰National٪the ۲۰٪۲۰on٪۲۰Kit٪cbgaindia.org/files/primers_manuals/Information ۲۰Afghanistan.pdf٪of (لاسته راغلی د **۲۰۱۲**م کال مارچ پر ۲۰مه)

ایمپرینګم رای. (په اړوندو وزارتونو کې د غیرمرکزیت په اړه څېړنه). کوفي نړیواله پراختیا، **۲۰۱۳**.

د سولې او ډېموکراسۍ لپاره برابري. (د افغانستان د **۱۳۹۵** کال د ملي بودیجې د مسودې خپلواکه بیاکتنه). کابل: د سولې او ډېموکراسۍ لپاره برابري، **۲۰۱۵**.

ایرمن، طاهر. د یو استوګنځاي برج فکر کول: په شمالي انقره کې د یوه جونګړې او وروسته پاتې سیمې ښاري بیارغونې کیسه (په ترکۍ ژبه). استنبول: الیټیزم خپروندویه کور، **۲۰۱۲**.

اروپایي ټولنه او د ترکیې د کورنیو چارو وزارت. (د ځایي لوبغاړو له ګډون سره د ځایي پانګونې پلان جوړولو وړتیا پیاوړې کولو لپاره تخنیکي مرستې: په ترکیه کې د عامه پانګونې بهیر په اړه شالید مالومات). public_/۰/www.tulip.org.tr/Portals investment_process_ in_turkey.pdf لاسته راغلی د **۲۰۱۲**م کال مې په **۲۱**مه.

فګټ، جین پال، اشلې فاکس او کرولین پوشل. (ایا غیرمرکزیت حکومت پیاوړی کوي که کمزوری کوي یې؟). په، (ایا غیرمرکزیت د پراختیا لپاره ګټور دی؟)، کې. اېډېټ شوی د جین پال فګټ او کرولین پوشل له خوا، **۱۲۹-۱۲۲**. اکسفورډ: اکسفورډ پوهنتون خپرونه، **۲۰۱۵**.

غني، سيما او نعمت الله بيژن. (په افغانستان کې د حکومت د مهمو دندو او خدمتونو قراردادي کول). په، افغانستان کې د حکومت د مهمو دندو او خدمتونو قراردادي کول: له جګړې وتلو او کمزورو حالتو څخه څرګندېدونکې درسونه، اېډېټ شوی د OECD او AfBD له خوا ، ۹۷-۱۱۳. پاريس: OECD خپرونه، ۲۰۰۹.

د افغانستان انتقالي اداره. (د ملی پراختيا چوکاټ (د سلا مشورې لپاره لومړی بڼه يا مسوده) ). کابل: د افغانستان لپاره د مرستو د همغږۍ اداره، ۲۰۰۲.

نړيوال مالي صندوق. (د افغانستان اسلامي جمهوريت: پخوانی، په اوږدمهاله توګه پروګرام کې د بشپړتيا ارزونه). د هېوا رپوټ شمېره. ۲۳/۱۲ نړيوال مالي صندوق، ۲۰۱۲.

د افغانستان اسلامي جمهوريت. (د افغانستان د ملي پراختيا ستراتېژي) (ANDS)، ۱۳۸۷-۱۳۹۱ (۲۰۰۸-۲۰۱۳). کابل: ANDS سکرتريت، n.d.

د افغانستان اسلامي جمهوريت. (د افغانستان اساسي قانون). کابل: افغان حکومت، ۲۰۰۴.

د افغانستان اسلامي جمهوريت. (د پراختيايي همکارۍ رپوټ ۲۰۱۰). کابل: د ماليې وزارت، ۲۰۱۰.

د افغانستان اسلامي جمهوريت. (د پراختيايي همکارۍ رپوټ ۲۰۱۰). کابل: د ماليې وزارت، ۲۰۱۲؟؟

د افغانستان اسلامي جمهوريت. (د سيمه ييزې حکومتولۍ د پاليسۍ مسوده). کابل: د سيمه ييزې حکومتولۍ خپلواکه اداره، ۲۰۱۵.

د افغانستان اسلامي جمهوريت. (د ولايتي بوديجې جوړولو پاليسي). کابل: د ماليې وزارت، ۲۰۱۵.

د افغانستان اسلامي جمهوريت. (د افغانستان د ښارونو حالت). کابل: د افغانستان اسلامي جمهوريت، ۲۰۱۵.

کومار، سنجې. (مرکه: اشرف غني). د ډيپلومټ. د ۲۰۱۴م کال اکتوبر دوهمه.

د ماليې وزارت. (د بوديجې د اجرا رپوټ، د ۲۰۱۵م کال اکتوبر ۱۱مه). کابل: د ماليې وزارت، ۲۰۱۵.

د ماليې وزارت، د بوديجې عمومي رياست. (ولايتي بوديجې جوړول). /http://www.budgetmof. gov.af/index.php en/using-joomla/modules/provincial-budgetting لاسته راغلی د ۲۰۱۲م کال د مارچ پر ۱۳مه.

د ماليې وزارت، د بوديجې عمومي رياست. (د ۱۳۹۲ کال بوديجې پلانونکی، مهمې نېټې). .http://www. budgetmof.gov pdf.۲۰۱۳۹۲٪English- Planner/۲۰۱۳۹۲٪۲۰Planner٪af/images/stories/DGB/BPRD/Plannner/Budget لاسته راغلی د ۲۰۱۲م کال د جون پر پنځمه.

د ماليې وزارت او د اقتصاد وزارت. (په وزارتونو او ادارو کې د مراقبت او څار سيستمونو ارزونه). کابل: د ماليې وزارت او د اقتصاد وزارت، ۲۰۱۴.

ميرافتاب، فرانک. (تونده پلان جوړونه، په نړيوال سوېل کې د افراطي پلان جوړونې په نښه کول). د پلان تيوري ۸، شمېره ۱ (۲۰۰۹): ۳۲-۵۰.

ميرافتاب، فرانک، کرستوفر سيلور او ويکټوريا بيرډ. (په نړيوال سوېل کې د غيرمرکزي پلان جوړونې د لانجمنو شرايطو يا نورمونو مالومول). په، پلان جوړونه او د غيرمرکزيت بهير، اېډېټ شوی د ويکټوريا بيرډ، فرانک ميرافتاب او کرستوفر سيلور له خوا، ۱-۱۸. اوکسون: روټليج، ۲۰۰۸.

مورګنر، متياس. (تراويزه شننه: په افغانستان کې د سيمه ييزې بوديجې جوړول). په افغانستان کې د GIZ د سيمه ييزې وړتيا لوړولو پروګرام، ۲۰۱۵.

مورګنر، متياس. (د وړتيا ارزونه: په افغانستان کې سيمه ييزه پلان او بوديجې جوړونه). په افغانستان کې د GIZ د سيمه ييزې وړتيا لوړولو پروګرام، ۲۰۱۵.

نجات، اريا، کرسټوف ګوزتوني، بشير فدا او جان کويلر. (په افغانستان کې سيمه ييزه حکومتولي: شته وضعيت او د ولسواليو او کليو د استازيتوب راتلونکی). کابل: افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره، ۲۰۱۲.

نیکسن، همیش. (په افغانستان کې سیمه ییزه حکومت جوړونه). کابل: افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره، ۲۰۰۸.

پوپل، عبدالباقي. (په افغانستان کې ښاروالۍ). کابل: د سیمه ییزې حکومتولۍ خپلواکه اداره، ۲۰۱۴.

قریشي، احمد. (د هر یو عبدالله او غني ۵۰ مهمې ژمنې). پژواک خبرونه. د ۲۰۱۴م کال جون ۱۱مه.

ریډي، سنجی. (پلان جوړونه مړه ده. پلان جوړونه دې ژوندۍ اوسي! په هندوستان او نړۍ کې د پلان جوړونې حیثیت). https:// pdf.planningcommission۱۲sept۲۰۱۵/۰۹/۲۰۱۵/reddytoread.files.wordpress.com (لاسته راغلی د ۲۰۱۲م کال د مارچ پر ۲۰مه).

صادق، ملیار. (راز تقرر والي ها: گذارش ویژه [د والیانو د ګومارلو راز: ځانګړی رپوټ]). کابل: کلید ګروپ، ۲۰۱۰.

سالتمارش، ډګلس، او ابیلش میدهي. (په افغانستان کې سیمه ییزه حکومتولي: له ځمکې یو نظر). کابل: افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره، ۲۰۱۱.

شورکین، مایکل. (په افغانستان کې سیمه ییزه حکومتولي). سنټا مونیکا، CA: رند شرکت، ۲۰۱۱.

سیمسن، ربیکا او برین ویلهم. (حیرانونکې بودیجې: په تیوري او عمل کې د بودیجې باور). کاري لیکنه ۴۰۰، د بهرنۍ پراختیا اداره، ۲۰۱۴.

سپهن، پال برنډ، شروق فراج مبارک الهاشم، جرګن بیندر، ستیف ټویډي او زیان زوانح. (د اردن په هاشمي سلطنت کې د حکومت د غیرمرکزي کولو هڅه: د یو حالتي شننې ځینې لومړنۍ موندنې). EuropeAid، ۲۰۱۱.

سونډرفورشبیریچ ۷۰۰ (په رومین بیګرینزر سټاټلیکټ کې حکومتولي، [د حکومت د محدود واک سیمو کې حکومتولي]). (حکومتولي). http://www.sfb-governance.de/programm/ glossar/governance.html (لاسته راغلی د ۲۰۱۲م کال د مارچ پر اتمه).

تدبیر. (په بدخشان ولایت کې د ولایتي پراختیا کمېټې په استازیتوب په ملي کچه د پروژو د وړاندیزونو د پروسس تعقیب او څار). وروستی رپوټ. کابل: تدبیر، ۲۰۱۵.

تدبیر. (د عامه مالي چارو په برخه کې د بدخشان د سیمه ییزې حکومتولۍ تړلې وړتیا لوړونه). کابل: تدبیر، ۲۰۱۵.

د افغانستان انتقالي حکومت. (د افغانستان راتلونکی خوندي کول: لاسته راوړنې او پر مخ پرته ستراتېژیکه لاره). کابل: افغان حکومت، ۲۰۰۴.

د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام. (له جګړې وتلو حالتونو کې ځایي حکومتولي، د سولې راوستل او حکومت جوړونه). د UNDP د بحث لیکنه، د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام، ۲۰۰۷.

د ملګرو ملتونو د وګړو صندوق. (د ملګرو ملتونو د وګړو صندوق او د حکومت غیرمرکزي کول: د هېواد د تجربو یوه څېړنه). نیویارک: د څار او اروزنې دفتر، د ملګرو ملتونو د وګړو صندوق، ۲۰۰۰.

د امریکا حکومت د نړیوالې پراختیا اداره. (د ځایي ادارو د پیاوړتیا لپاره د USAID پروګرام [ISLA]). https://www.usaid. gov/news-information/fact-sheets/usaid-initiative-strengthen-local-administrations-isla (لاسته راغلی د ۲۰۱۲م کال د مې په ۲۱مه).

وسډم. (د افغانستان د ۲۰۱۲م کال بودیجې پام پر سترو پراختیایي پروژو راغونډ دی). وسډم، د ۲۰۱۵م کال دسمبر ۱۳مه. budget-focuses-on-mega--۲۰۱۲-http://wadsam.com/afghan-business-news/afghanistans ۳۳۳-development-projects/ (لاسته راغلی د ۲۰۱۲م کال د اپریل پر ۱۸مه).

وټسن، ونیسا. (له سوېله لیدل: د ښاري پلان جوړونې پام د نړۍ مرکزي ښارونو مسلو ته اړول). ښاري څېړنې ۴۲، شمېر ۱ (۲۰۰۹): ۲۲۵۹-۲۲۷۵.

نړیوال بانک. (د افغانستان ولایتي لنډیز). واشنګټن، ډي سي: نړیوال بانک، **۲۰۱۴**.

نړیوال بانک. (د افغانستان د عامه مالي چارو د مدیریت او ځواب ورکونې ارزونه). واشنګټن، ډي سي: نړیوال بانک، **۲۰۱۳**.

نړیوال بانک. (په افغانستان کې په سیمه ییزه کچه د خدمتونو وړاندې کول او حکومتولي). واشنګټن، ډي سي: نړیوال بانک، **۲۰۰۷**.

نړیوال بانک او DFID. (د افغانستان عامه لګښتونو ته د کتنې کاري لیکنه). واشنګټن، ډي سي: نړیوال بانک، ۲۰۱۰.

# د غبرګون او نظرونو غوښتنه

د AREU اداره ډېره لېواله ده چې د دغې څېړنې د کاروونکو نظرونه واوري. که تاسو زموږ د خپرونو یو دوامداره لوستونکي یاست، د AREU لیکچر یا ورکشاپ کې مو ګډون کړی، کتابتون یې کاروئ، یا یوازې په دې وروستیو کې له دغه ادارې سره بلد شوي یاست، ستاسو نظرونه او غبرګون زموږ لپاره ارزښت لري. دغه نظرونه موږ سره مرسته کولی شي چې خپلې موخې په لا ښه ډول لاسته راوړو او د څېړنې په اړه خپلې تګلارې او د پایلو د شریکولو طریقې و ارزوو. د نظرونو شریکولو تر ټولو اسانه لار موږ ته ایمیل کول دي: areu@areu.org.af

یا کولی شئ موږ ته زنګ ووهئ: **۰۰۹۳۷۹۹۲۰۸۵۴۸**. تاسو چې هر څه غواړئ موږ ته یې ویلی شئ، خو په ممکنه ډول یو څه ګټور مالومات دا دي:

- تاسو له AREU سره څنګه اړیکه نیسئ (یعنې د خپرونو، غونډو یا نورو لارو)
- تاسو د AREU له څېړنو څخه د څه لپاره کار اخلئ
- تاسو د AREU خپرونې څنګه لاسته راوړئ
- تاسو د څېړنو بریښنایي که چاپ شوی بڼه کاروئ
- خپرونې څنګه کولی شي تاسو ته مالومات په لا ښه ډول وړاندې کړي
- زموږ د څېړنې د بهیرونو یا پایلو په اړه ستاسو نظرونه
- هغه برخې یا موضوع ګانې چې تاسو یې په اړه د څېړنو ترسره کېدو سپارښتنه کوئ
- د AREU هغه خپرونې یا فعالیتونه/غونډې چې ستاسو ډېرې خوښېږي
- ستاسو په اند موږ په کومو برخو کې خپل کار ښه کولی شو
- ستاسو د خوښې یا لېوالتیا ډګر، دنده یا څېړنه، او دغه راز موقعیت

# د AREU وروستۍ خپرونې

ټولې خپرونې له www.areu.org.af وېبپاڼې ډاونلوډولی شئ، او ډېرې يې په چاپ شوې يا هارډکاپي بڼه په کابل کې د AREU له دفتره هم لاسته راوړلی شئ.

| نېټه | د خپرونې نوم | ليکوال | په دري ژبه لاسرسی | په پښتو ژبه لاسرسی | د څېړنې موضوع | د خپرونې ډول |
|---|---|---|---|---|---|---|
| جولای ۲۰۱۲ | افغانستان کې سيمه ييزه حکومتولي | اريا نجات، کريسټوف ګوستوني بصير فدا او جان کوهلر | | | سيمه ييزه حکومتولي | څېړنپاڼه |
| جولای ۲۰۱۲ | په افغانستان کې د ښې حکومتولۍ د ودې لپاره د مدني ټولنې رول | اورزله اشرف، نعمت او کرين ورنر | | | مدني ټولنه او حکومتولي | څېړنپاڼه |
| مې ۲۰۱۲ | د استخراج ور سکټور حکومتولۍ لپاره د انډول راوستلو عمل | جاويد نوراني او لين ډي بروکېر | | | کانونه او حکومتولي | څېړنپاڼه |
| مې ۲۰۱۲ | له پولو اوښتو اوبو د سرچينو وده: د افغانستان، ايران او پاکستان ترمنځ د همکارۍ نظريې څه دي؟ | وينسنټ ټومس له مجيب احمد عزيزي او خالد بهزاد سره | | | د طبيعي زېرمو مديريت | قضيي څېړنه |
| مې ۲۰۱۲ | سړو او (نرتوب) ته نږدې نظر: د جنډر برابرۍ کې يې فعاله ونډه | لي ويلفرېډا ري پيلونګوو چونا ايشاويز، پرويز طفيل، سيد مهدي موسوي | هو | هو | جنډر | د پاليسۍ نوټ |
| اپريل ۲۰۱۲ | په شګو کې جوړ هېواد: اپينو افغانستان څنګه کمزوری کړ | ډېوېډ منزفيلډ | | | د طبيعي زېرمو مديريت | کتاب |
| اپريل ۲۰۱۲ | په کندهار ولايت کې د څېړنې په اړه لنډ رپوټ، دسمبر ۲۰۱۵-جنوري ۲۰۱۲: کوکنار او کليوال ژوند يا معيشت | پال فيشټين | هو | هو | د طبيعي زېرمو مديريت | لنډيز |
| مارچ ۲۰۱۲ | له ايساف وروسته افغان ملي اردو | انټونيو ګيستوزي او علي محد علي | | | حکومتولي | لنډه ليکنه |
| فبروري ۲۰۱۲ | بلا په تفصيل کې ده: ياغيانو، تاوتريخوالي او پراخو نشه يي توکو ته د ننګرهار په دوامداره توګه لوېدنه | ډېوېډ منزفيلډ | هو | هو | د طبيعي زېرمو مديريت | لنډيز |
| جنوري ۲۰۱۲ | د جنډر برابرۍ بل اړخ: په افغانستان کې سړي او نرتوب | چونا ايشاويز، سيد مهدي موسوي او لي ويلفرېډا پيلينګو | هو | هو | جنډر | څېړنپاڼه |

څېړنې د ښه
افغانستان
لپاره

AREU

ټولې خپرونې په دغه پاڼه کې د راښکته کولو لپاره www.areu.org.af لاس ته راوړی شی.

په کابل کې ددغه اداري په دفتر کې چاپ شوی کاپیانې هم موجودی دی.


**افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره**

دحاجي یعقوب له څلور لاری څخه د شهید د څلورلاري په لور، کین اړخ ته دریمه کوڅه، ۱۴۴ کور، نوی ښار، کابل، افغانستان

تیلفون: ۵۴۸ ۲۰۸ ۷۹۹(۰)۹۳+

بریښنالیک:publications@areu.org.af

ویب پاڼه:www.areu.org.af



ISBN 978-9936-628-43-4

9 789936 628434